

# اسلام؛
# سوله که جګړه؟


لیکوال

وحیدالدین خان

ژباړن

فضل الباري بریالی



۱۳۹۵ هـ کال



اسلام؛ سوله که جګړه؟

لیکوال: وحیدالدین خان


جګړه یوه حیواني کړنه ده، نه انساني. حقیقت دا دئ چي د فطري قانون له مخي امن د عمومیت (rule) حیثیت لري او جګړه یوازي یوه استثناء (exception)ده. سوله په هر حال کي د خپلولو وړ ده او جنګ یوازي د اشد ضرورت پر مهال د ځان ژغورني لپاره جواز لري، هغه هم یوازي هله چي له ټکره د ځان ژغورني ټول سوله ییز تدابیر ناکام شوي وي...

# اسلام؛ سوله که جګړه؟

**لیکوال: وحیدالدین خان**

ژباړن: فضل الباري بریالی

www.sikaraam.com

# اسلام؛ سوله که جګړه؟


**لیکوال: وحیدالدین خان**

ژباړن: فضل الباري بریالی



- ډیزاین: ژباړن
- مخونه: ۲۱٦
- چاپ: لومړی
- چاپکال: ۱۳۹۵
- چاپشمېر: ۲۰۰۰
- چاپوار: لومړی ځل
- شمېره: ۰۷۰۳۰۰۴۵۱۳
- ایمېل او فېسبوکپاڼه:

fb.baryalai2006@gmail.com

fazalbari.baryalai



**د کتاب د بیا ځلي چاپ او خپرولو حق یوازي له ژباړن سره دی.**

www.sikaraam.com

## ▪ ډالۍ

خپل مشر ورور عبدالرؤف حقیار تـه
چي زما پـه روزنـه او پالنـه کـي یـې
بېشمېره زحمتونه ګاللي دي.

# لړلیک


سپېڅلې سوله.............................................٥
د دین سوله ییز تعبیر ...................................١٢
د وحیدالدین خان ژوندلیک ...............................١٥
سریزه.....................................................١٨
اسلام او سوله ...........................................٢٢
په اسلام کې د جهاد تصور.................................٤٢
د سولې کلتور............................................٥٤
جګړه او سوله په اسلام کې ..............................١١١
د حدیبیې سوله..........................................١٢٣
افراطیت د اسلام په جامه کې...........................١٢٦
ترهګري څه ده؟ ........................................١٣٠
د څرګندې بریا راز......................................١٣٣
د اسلام په نوم بې دیني.................................١٣٧
اسلامي جهاد............................................١٤٥
د دښمن او مقاتل تر منځ توپیر.........................١٤٩
د سولې مذهب..........................................١٥٣
جګړه په اسلام کې.......................................١٨١
سوله په ګډه ټولنه کې..................................١٨٨
های جېکینګ؛ یو جرم .................................٢١٢


www.sikaraam.com

## سپېڅلې سوله

د مدنیتونو د تفاهم او تقابل په بحث کې بنسټي پوښتنه دا ده چې بشریت ولې په سوله کې ژوند نه شي کولای؟ د بشریت ګڼې جګړې د اقتصادي او سیاسي لوړتیا غوښتنې، حرص او ځواکغوښتنې لپاره دي. یومهال جګړه پر زمکه وه، بیاد لویو امپراتوریو د جوړولو سیالي پیل شوه او په نوې زمانه کې پر اقتصادي سرچینو پیچلې او خونړۍ شخړې راځرګندې شوې. په داسې جګړو کې د دې لپاره چې سیاستوال، پانګوال یا واکغوښتونکي خپلې جګړې توجیه کړي، خلک یې ملاتړ ته راوبللای شي او اصلي موخه و مخه یې پټه وساتي، نو د خلکو له فرهنګي او باوري ارزښتونو څخه ګټه پورته کوي او په دې توګه د ګټو جګړو ته د سپېڅلېو جګړو نوم ورکوي.

www.sikaraam.com

د سپیڅلې جګړې په وړاندې د سپیڅلې سولې ارزښت لا هم نه دی پېژندل شوی او دا ارزښت د خلکو د باورونو او عقیدو پر بنسټ د یوه سوله ییز نړیوال ګډ بشري ژوند تفکر دی.

په دې توګه د مدنیتونو د تفاهم یو اصل دا دی، چې تاسو د هر مدنیت له سوله ییز روح څخه څومره رېښتیني (صادقانه) ګټه اخلئ او نړیوالې سولې ته لاره هواروئ؟

نن سبا د اسلامي مدنیت یوه لویه ستونزه همدا ده، چې د اسلام د سپېڅلي دین د سوله ییز روح او ماهیت په اړه پوهه نه ده خپره شوې او مسلمانان پر دغو اصولو سره سلا او یوه خوله نه دي. د جګړې لپاره د ځینو اشخاصو او ډلو پلمه دا ده، چې اسلامي اُمت د غیراسلامي ځواکونو له تیري او لاسوهنو سره مخامخ دی. په دې توګه، دوی پرته له دې، چې د اسلامي اُمت د اقتصادي او سیاسي پیاوړتیا لپاره هلې ځلې وکړي، مخامخ جګړې ته وردانګي. په دې منځ کې تر ټولو ځوروونکې پېښه دا ده، چې مسلمانان تر نورو ډېر په خپل منځ کې ښکېل دي، د وروستیو لسیزو شخړې او جګړې وګورئ! لویه برخه یې د مسلمانو هېوادونو، ډلو او سازمانونو تر خپل منځ پېښې شوې دي. د دې په وړاندې، هغه اسلامي هېوادونه چې هڅه یې کړې ده، له نړیوالو شخړو څخه ځان لرې وساتي او د شخړو پر ځای خپل ټول پام اقتصادي پیاوړتیا او خپل هېوادني ځواک ته ورواړوي، تر ډېره بریده د پیاوړیو اسلامي هېوادونو په توګه له هر راز تیري او لاسوهنې خوندي هم دي. بېلګې یې د نفوسو له نظره د نړۍ تر ټولو ستر اسلامي هېواد اېندونیزیا او مالیزیا دي.

هر کله چې د اسلامي امت په وړاندې د تیري او ظلم خبره کیږي، نو د نوې نړۍ د سیاسي منطق پر بنسټ هر هېواد چې له اقتصادي پلوه پیاوړی وي،

سياسي نظامونه يې د خلکو له هر اړخيز ملاتړه برخمن وي، نو هيڅ څوک به پرهغوی بلوسلو يا تيري ته زړه ښه نه کړای شي.

په تېره بيا، که همدغه پياوړي او ولسواک اسلامي هېوادونه په خپلو منځونو کې هم سوله ييز او ښه اړيکي ولري او يو له بل سره د يووالي په فضا کې د اسلامي نړۍ داسې پيوستون رامنځته کړای شي، چې بيا هيڅ نااسلامي ځواک پرې بريد ونه شي کړای، په دې صورت کې د شخړو او جګړو منطق ته ځای نه پاتېږي.

دا چې اسلام د سولې دين دی، پر دغه اصل تر ټولو مخکې د مسلمه اُمت باوري کولو ته اړتيا ده. مسلمانان که په خپل سپېڅلي دين کې د سولې او سوله ييز ژوند پر ارزښت باوري شي، نو بيا به افراطي او متشددې ډلې په اسانۍ سره دوی د مرګ او تشدد ډګرونوته ونه شي استولای.

دغې موخې ته د رسېدو لپاره فکري او فرهنګي جهاد او هڅې ته اړتيا ده. داسې هڅې نوموتي افغان الاصله هندوستاني ديني عالم او مشهور پوه مولانا وحيدالدين خان په خپلو ګڼو اثارو، مرکو، ويناوو، کتابونو او رسالو کې ترسره کړې دي، چې له نيکه مرغه په اسلامي نړۍ کې له تاوده هرکلي او پراخې ژباړنې او لوستنې سره مخامخ شوی هم دی.

په دې لړ کې ښاغلي فضل الباري بريالي د دغه پياوړي ديني عالم يوه په زړه پورې رساله (اسلام؛ سوله که جګړه؟) په خوږه پښتو راژباړلې ده، چې زه يې دغه هڅه ستايم او د چاپ و خپراوي مبارکي يې وار له مخه ژباړن او لوستونکيو ته وايم.

دا په تېرو دوو کلونو کې د دغه نامتو عالم دوهم اثر دی، چې پښتو ته راژباړل کيږي او ژباړونکي يې له ما څخه هيله کوي، چې څه يادښت پرې وکاږم.

تر ښاغلي بريالي وړاندې، زما قدرمن دوست مولاناعبدالغفور پېروز د مولانا وحيدالدين خان مشهور تفسير (تذکير القرآن) هم پښتو ته راژباړلی و، چې هيله ده اوس چاپ شوی وي.

دا دی د يوه بل اثر ژباړه يې ستاسو په لاسونو کې ده، چې له هر اړخيزه پلوه نوښت لري او په نومهاليو دلايلو دا زباتوي، چې اسلام د سولې دين دی.

مولانا وحيدالدين خان په اسلامي فقهې، تفسير او نورو مسايلو کې د ګڼو تأليفونو خاوند دی.

نوموړی په کال ۱۹۲۵ ميلادي کې د هندوستان د اتراپرديش ايالت د اعظم ګړهـ سيمې په بډهريا کې زيږيدلی دی او لومړنۍ زده کړې يې د خپلې سيمې په ديني مدرسه (مدرسة الاصلاح اعظم ګړهـ ) کې ترسره او تر دې وروسته يې د اسلامي علومو ژوره مطالعه کړې ده. اوس د هندوستان په پلازمېنه ډهلي کې استوګن او د اسلامي مرکز له لارې د اسلامي علومو او احکامو پر خپراوي بوخت دی.

مولانا وحيدالدين خان په اردو، هندي او انګريزي ژبو د ګڼو علمي کتابونو مصنف او ليکوال دی، چې ځينې يې دا دي:

په اردو:

**تذکير القرآن، الله اکبر، اسلام دور جديد کا خالق، الاسلام، الرّبانيه، عقليات اسلام، فسادات کا مسئله، تجديد دين، پيغمبر انقلاب، سوشلزم اور اسلام، دين کی سياسی تعبير، تعبير کی غلطی، مطالعه قرآن، مذهب اور سائنس، يو شمېر سفرنامې او نور.**

په عربي:

**القضية الكبرى، قضية البعث الإسلامى، عليكم بسنتى، إمكانات جديدة للدعوة الإسلامية، واقعنا ومستقبلنا فى ضوء الإسلام، التفسير السياسى للدين، تاريخ الدعوة إلي الإسلام، خطأ في التفسير، الإسلام يتحدى.**

د دې تر څنګ يې په لسګونو توکه کتابونه په انګريزي ژبه هم خپاره کړي دي، چې موضوع يې اسلامي علوم دي، چې دلته يې يوازې د دوه درې مهمو اثارو نومونه رااخلم:

(Islam: Creator of the Modern Age), (Introducing Islam), (Islam the Voice of Human Nature), (Islam Rediscovered), (Words of the Prophet Muhammad).

او ګڼ داسې نور اثار.

د دغه نوموتي ديني عالم د اثارو يوه ځانګړنه دا ده، چې له نويو علمي موندنو، په نړۍ کې د بېلابېلو فکري مکتبونو، ساينسي-، ټولنيزو پوهنو او فلسفي اند دودونو سره سم يې د اسلامي نړۍ دريځ روښانه کړی دی. مولانا وحيدالدين خان ټينګار کوي، چې اسلام د سولې، ورورولۍ او زغم دين دی. ده په پاخه استدلال ثابته کړې ده، چې د اسلام ضد کړيو هغه تبليغات ناسم دي، چې د سولې ستر مکتب (اسلام) د تاوتريخوالي او تشدد دين بولي. مولانا په اسلامي نصوصو کې ګڼ براهين راپه ګوته کوي، چې د اسلام سوله ييز روح په کې له ورايه ښکاري.

دی په همدې کتاب کې وايي: خپله د (اسلام) کلمه د سولې مانا لري. اسلام کلمه له سِلم څخه اخيستل شوې ده او سِلم د امن په مانا کاريږي. له دې کبله د اسلام مطلب دی: د سولې دين.

مولانا وايي: جهاد د عقيدوي پياوړتيا او د مسلمانانو د ښه ژوند لپاره د هڅو نوم دی او يوازې د قتال په مانا نه دی، جهاد يوازې د قتال تر مفهومه راکوشنی کول د دغې سپېڅلې هڅې محدودول دي.

په افغانستان کې، چې له افراطيت او ناسمو تعبيرونو څخه د ځوان نسل د بلهاري کېدو ګواښ تر هر بل وخت زيات دی، د دغسې اثارو لوست خورا اړين دی. پرېږدئ! چې ځوان افغان انسان په دې پوه شي، چې د اسلام روح سوله ييز دی او پر سوله او انساني هوساينې باور لري.

داسې اثار د تشدد او هغو خونړيو فکرونو د خپراوي مخه نيسي، چې يو شمېر ډلې او افراد يې د خپلو ګټو او سياسي واک و ځواک لپاره خپروي.

د ښاغلي فضل الباري بريالي دا هڅه ځکه د ستايلو وړ ده، چې په خورا مهم وخت کې يې د دې اړينې محتوا ژباړلو ته پام اوښتی او د يوه ويښ او پوه ځوان په حيث يې دا درک کړې ده، چې هېوادوال يې کوم ډول تفکر ته اړتيا لري؟

زموږ ځوان ژباړن، ښاغلی بريالی پر خپل کار برلاسی دی، نثر يې خوږ او روان دی او هڅه يې کړې ده، چې لوستونکي ته هېڅ راز ابهام پرېنږدي.

همدا راز د ژبې معيار ساتلو تر څنګ يې هڅه کړې ده، چې د اصلي متن د مفهوم په رالېږد کې ديوه امانت ساتونکي ژباړن په توګه عمل وکړي.

زه د ښاغلي بريالي دغه هڅه ستايم، باور لرم، چې د ده کار به د ځوانانو د ذهن په روښانتيا کې اغېزناکه ونډه ولري او د سوله خوښيو اسلامي پوهانو پيغامونو ته به يې په نړيوال کچ پام راواړوي.

ښاغلي بريالي او نورو ليکوالو ته د دغسې ګټورو اثارو د ژباړې همت غـواړم، او د ترسره کړي کار لپاره يې د لوی خدای ج له درباره د اجر استدعا کوم.

بريالی دې تل بريالی وي!

درنښت

څېړنوال عبدالغفور لېوال

۱۳۹۵لمريز کال، د زمري اتمه

کابل-کرغه

## د دین سوله ییز تعبیر

په افغانستان کي ترهګري تر ټولو لویه ننګونه ده چي دا هیواد یې له ګڼو ستونزو سره لاس و ګرېوان کړی دی. په ترهګرۍ کي غربت، د نشه یي توکو کښت، د اقتصادي ګټو لپاره د ګاونډیانو مداخله، له خپلو طبیعي زیرمو څخه استفاده نه کول او دې ته ورته نور عوامل رغنده رول لري، خو تر ټولو مهم رول پکي د مذهبي افراط دی.

په ترهګرۍ کي له مذهبي متون څخه د موادو په ډول استفاده کیږي او دا هغه ډول مواد دي چي په دې هیواد کي له څو لسیزو راهیسي کارول کیږي. دلته دوه ډوله مذهبي متون موجود دي. یو قرآن او سنت چي د دین سرچینې دي، بل د مذهبي او سیاسي رهبرانو له خوا خودساخته جوړ شوي متون دي چي د دین په توګه شهرت لري.

www.sikaraam.com

له ځانه جوړ شوي متون او کتابونه ديني بنياد نه لري او نه د اسلام له روح سره اړخ لګوي. اما مهم هغه متون دي چي ديني بنياد لري او په پوره ډول له عقايدو سره تړلي دي. مذهبي او سياسي رهبران د خودساخته متون تر څنګ له اصلي هغو څخه هم په ترهګرۍ کي ګټه اخلي او دا هغه ستونزه ده چي د معاصر وخت زيات مسلمانان په خاص ډول افغانان ورځخه کړيږي. د مسلمانانو دا چلند اسلام د ترهګرۍ دين معرفي کړی دئ او اوس مسلمانانو ته د ترهګرو په سترګه کتل کيږی. له دې امله مسلمانان په ځانګړي ډول افغانان اوس د خلاصون دوې لاري لري. يوه دا ده چي يا به په ټوليز ډول دين خوشي کوي او په دې توګه به له ترهګرۍ څخه ځانونه خلاصوي يا به د دين دغه ډول ترهګريز تعبير منلو ته غاړه ږدي.

افغانانو ته دا سخته ده چي دين خوشي کړي او لادينيت اختيار کړي، نو ځکه مجبور دي چي د مذهب همدا ګډوډ او له ترهګريه ډک تعبير ومني. ډيری داسي ځوانان شته چي له ترهګرۍ څخه کرکيږي او د دين افراطي تعبير سم نه ورته ښکاري، خو دا چي د دين اصلي او سوله ييز تعبير نه دئ ورته وړاندي شوی، نو مجبور دي چي همدا افراطي تعبير ته غاړه کښيږدي او د خپلي عقيدې په ډول يې توجيه کړي. له بلي خوا د ټکنالوژۍ له پراختيا سره په ټولنيزو رسنيو کي هره ورځ د افراطيت منونکو ځوانانو ديني باورونه ننګول کيږي چي دوی يې معقول ځوابونه نه لري او که د ځواب موندلو لپاره ملاصاحبانو ته مراجعه وکړي، نو نه يوازي دا چي پوښتنو ته يې ځواب نه ورکول کيږي، بلکي له ټاپو سره مخ کيږي او دا هغه حالت دئ چي ځوانان يې له سخت ذهني کشمکش سره مخ کړي دي.

د دين د افراطي تعبير ستونزه يوازي تر افغانانو پوري نه ده محدوده، بلکي په عمومي ډول ټول مسلمانان ورسره مخ دي. ليکوال هڅه کړې ده چي د اسلام

له سرچینو څخه په استفاده د دین اصلي او سوله ییز تعبیر وړاندي کړي او په دې برخه کي یې لوستونکو ته ډېر معقول او پر واقعیتونو ولاړ دلایل وړاندي کړي دي. لیکوال د دین د سوله ییز تعبیر تر څنګ هغه ټول تاریخي دلایل او اړخونه چي افراطیان د خلکو په تېر ایستلو کي ورڅخه استفاده کوي، له دیني و عقلي پلوه تجزیه کړي دي. د افراطیت د رامنځته کېدو او ودي لاملونه یې واضح کړي دي او د هغو د مخنیوي حلالاري یې لوستونکو ته ایښي دي.

لیکوال د دین د افراطي تعبیر ټول اړخونه راسپړلي دي او هڅه یې کړې ده چي لوستونکو ته چنداني پوښتنه پاته نه شي. د دې تر څنګ یې د سوله ییز او مدني ژوند د اهمیت په باب ګټور دلایل ویلي دي او لوستونکو ته یې داسي نقلي او عقلي لارښووني کړي دي چي هیڅ انسان انکار نه شي ورڅخه کولای.

زه باور لرم چي د دې اثر له خپرېدو سره به د ډېرو افغانانو هغه پوښتني، اعتراضونه او ذهني تشویش ختم شي چي دوی ورسره مخ دي او په دې به هم پوه شي چي ترهګري د ټولني لپاره د زهرو حیثیت لري.

د لوی څښتن شکر ادا کوم چي د دې کتاب د ژباړي توان یې راکړ او له ګران ملګري ولي خان څخه د زړه له تله مننه کوم چي د کتاب مالي لګښت یې پر غاړه واخیست. هیله من یم چي دا به د ترهګرۍ او افراطیت په له منځه وړلو کي اغېزناک تمام شي.

فضل الباري بریالی

د ۲۰۱٦ کال د جون ۱۱مه، د روژه مات وخت

www.sikaraam.com

## د وحیدالدین خان ژوندلیک

مولانا وحیدالدین خان د نړۍ له مشهورو دینپوهانو څخه دی. د اسلام پر سوچه تعبیر، سولې او د دین و ساینس پر تړاو یې اغېزناک کار کړی دی. دی په انګلیسي او اردو ژبو لیکل کوي، خو اثار یې د عربي په ګډون نورو مشهورو ژبو ته ژباړل کیږي. دی د خورا زیاتو لیکنو تر څنګ ۲۰۰ په تول پوره اثار لري چې په ډېرو ژبو ژباړل شوي دي.

خان صاحب د هندوستان په اعظم ګړ نومې سیمه کې په ۱۹۲۵ کې زېږېدلی دی. څلور کلن وو چې پلار یې، فریدالدین خان وفات شو او روزنه یې د مور

www.sikaraam.com

او اکا پر غاړه شوه. په ژوند کي له ډېرو لوړو او ژورو سره مخ شوی دئ او دا لوړې و ژوري د ژوند لپاره لوی سبق ګڼي.

د ده ورور او د اکا زامن له انګلیسي ژبي ښوونځیو څخه فارغ شوي دي، خو ده په ۱۹۳۸ کي په مدرسة الاصلاحي کي دیني زدکړې پیل او همدلته بشپړې کړې. خان صاحب له ماشومتوبه له طبیعت سره مینه درلوده او د دیني زدکړو پر مهال پوه شو چي رب انسانان د طبیعت او کائیناتو د اسرارو پلټلو ته هڅولي دي. تر دې وروسته د طبیعت په اړه سوچ او مطالعه د ده د زدکړو یوه برخه وګرځېده. د عصري علومو پراخي مطالعې له دیني او عصري علومو سره ښه بلد کړ. د عربي او دیني علومو تر څنګ یې په انګلېسي او معاصرو علومو کي هم خورا زیاته بلدتیا ترلاسه کړه. د اسلام دین د سوچه فهم او پیغام رسول د ده د ژوند موخه وګرځېده.

د ځینو کتابونو تر لیکلو وروسته یې په نوي ډیلي کي د اسلامي مرکز بنسټ کښېښود او د الرسالې په نوم د میاشتنۍ خپرول یې هم له همدې ځایه پیل کړل. په الرساله کي د ده خپلي لیکني خپرېږي او په ډېره لنډه موده کي یې زیات لوستونکي وموندل. اوس دا میاشتنۍ د اردو تر څنګ په انګلیسي هم خپرېږي. نوموړی د هندوستان په ETV Urdu, Zee Salaam, Bridges TV, ITV, ARY Digital, QTV او Aaj TV ټلوېزیونونو کي راڅرګندېږي او پر بېلابیلو موضوعاتو بحث کوي.

په ۱۹۹۲ کي د بابري مسجد د نړولو پر سر په هند کي د مسلمانانو او هندوانو تر منځ تاوتریخوالي ته لار هواره کړه. دا چي د سولي خپرول د ده د ژوند هدف وو، نو یې له موني سوشل کمار او سوامي چیدننند سره په مهاراشترا ایالت کي پنځلس ورځنی د سولي یون پیل کړ. دا یون له ممبۍ پیل او پر ناګپور پای ته ورسېد. د ۱۵ ورځو په اوږدو کي نوموړي او ورسره ملګرو یې په

۳۵ بېلابېلو ځایونو کې خورا لوی شمېر خلکو تـه ویناوې وکـړې. د سـولې دې یون په هند کې د مذهبي جګړو د مخنیوي او د سولې په بیا ټینګښت کې لـوی رول ولوباوه.

خان صاحب د اټومي وسلو پر ضد هم خورا زیات کمپاین کـړی دی. د اټـومي وسلو پر ضد یې د مبارزې له امله په ۲۰۰۲ کې د نړیوالې سولې مېډال ترلاسـه کړ. د نړۍ د پخواني بهرنیو چارو وزیرانو شورا د میکایل ګورباچوف په غوښـتنه د سولې مېډال ورکړل شو. په کوریا کې د سولې د نړیوال فدراسیون لـه خـوا د سولې د سفیر لقب ورکړل شوی دی. د دې تر څنګ یې زیات شـمېر مېډالونـه چې د هند د ولسمشر- او لـومړي وزیـر لـه خـوا هـم ورکـول شـوي دي، لاسـته راوړي دي چې ځیني یې په دې ډول دي:

Padam Phushan Award, the Rajiv Gandhi National Sadbhavana Award, the National Integration Award, the Communal Harmoney Award, the Diwaliben Mohan Lala Mehta Ward, National Amity Award, FIE Foundation Award, the Urdu Academy Award, the Aruna Asaf Ali Sadbhavana Award.

ښاغلي وحید الدین خان د اسلام د ناسم تعبیر په وړاندې مبـارزه کـړې ده او د ادیانو تر منځ یې ډایلاګ ته زمینه برابره سازي کړې ده. د فلسـطین د جګـړې د له منځه وړلو لپاره یې هغه ځای ته سفر کړی دئ او په کنفرانسـونو کـې یـې ونډه اخیستې ده. دی اسلامي نړۍ علم ته هڅوي او له جنګ جګړو څخه یې د راګرځولو هڅې کوي. وحیدالدین خان په انګلیسي- قـرآن کـریم ډېـر ښـکلی تفسیر کړی دئ چې په نژدې راتلونکې کې به یې پښتو ژباړه هم خپره شي.

## سریزه

دا کتاب د هغو مضامینو ټولګه ده چې په الرسالة میاشتنۍ خپرونه کې د څو کلونو راهیسې د امن او اسلام پر موضوع خپرېږي. د دغو مضامینو هدف په اسلام کې د امن او جنګ اړوند د غلط فهمیو او ناسم درک له منځه وړل او پر دې موضوع د اسلام د صحیح تصور وضاحت دی.

اسلام په بشپړ ډول یو سوله ییز مذهب دی. په اسلام کې امن عمومي حیثیت لري او جګړه یو استثنایي حالت دی. دغه استثناء باید تل د مقابل لوري له خوا په اضطراري حالت کې رامنځته شي، نه د مسلمانانو له خوا د یو اړخیز اقدام په صورت کې.

د اسلام اساسي هدف د افکارو رغونه او په انسان کي د توحيد پر بنياد د ذهني غورځنګ رامنځته کول دي. دغه حقيقت په يوه حديث کي په دې ډول واضح شوی دی: **الا وان فی الجسد مضغة اذا صلحت صلح الجسد کله، واذا فسدت فسد الجسد کله الا وهی القلب.** (**فتح الباري، کتاب الايمان، ۱۵۳\۱**) (خبر اوسئ! د انسان په وجود کي د غوښي يوه داسي ټوټه ده چي که هغه جوړه وي، نو ټول وجود ورسره سم وي. که هغه ټوټه ناجوړه وي، ټول وجود ورسره ناسم وي. يوه شئ چي هغه زړه دی).

پوښتنه دا ده چي په دې حديث کي له زړه څخه هدف څه دی؟ ابن حجر العسقلاني استدلال کوي چي عقل په زړه کي دی (**ويستدل به علی ان العقل فی القلب**) مګر دا ناسمه خبره ده. په دغه ځای کي له زړه څخه هدف د فکر مرکز نه، بلکي د ويني مرکزي جريان دی. په دې حديث کي د زړه او جسد يادونه د تمثيل په ډول شوې ده، يعني لکه څنګه چي جسماني روغتيا د زړه پر هغې منحصره ده، دغه راز د مذهبي ژوند قيام او بقا هم تر هغه چا محدوده ده چي په زړه کي يې ايمان وي.

حقيقت دا دئ چي د انسان کړني د هغه د فکر له سمون سره تړلي دي. له دې امله په اسلام کي د سالم فکر پر راژوندي کولو ډېر ټينګار شوی دی او له دې څخه معلوميږي چي اسلام د جګړې غوښتنه نه لري. اسلام لارښوونه کوي چي په هر ډول حالاتو کي بايد د فکر او شعور د راژوندي کولو هڅي وشي. که وکتل شي د انسان د فطرت له مخي له فکر څخه عمل جوړيږي، له عمل څخه سوچ نه رامنځته کيږي.

حقيقت دا دئ چي جګړه د اسلام اصلاحي نقشه له منځه وړي، خو امن د اسلام اصلاحي نقشه ورجوړوي. هيڅ نظريه او مفکوره نه شي کولای چي د جنګ او تشدد له مخي مثبته ګټه لاسته راوړي، البته که د تشدد له مخنيوي

سره-سره په اضطراري ډول جګړه رامنځته شي، نو د مسلمانانو لومړنۍ هڅه باید د جنګي ماحول له منځه وړل وي، تر څو په سوله ییز چاپېریال کي د اسلام اصلي هدف دوام پیدا کړي. جهاد د سوله ییزي مبارزې دوهم نوم دئ او د (peaceful activism) اصطلاح هم ورته کارول کېدای شي، یعني له سوله ییزو لارو څخه د خپلو موخو د لاس ته راوړلو هڅي.

د جهاد لغوي مانا هڅه یا جدوجهد ده. د قرآن کریم په یوه آیت کي راځي چي: له دوی سره په الهي کتاب ستر جهاد وکړه (الفرقان ۵۲). یو حدیث د دې آیت تایید په دې الفاظو کوي: مجاهد هغه څوک دی چي د الله د اطاعت په خاطر له خپل نفس سره سیالي وکړي (**المجاهد من جاهد نفسه فی طاعة الله**). رسول الله صلی الله علیه وسلم چي کله له تبوک غزا څخه چي یو سوله ییز کمپاین وو، راستون شو، نو یې وویل موږ له واړه جهاد څخه د لوی جهاد لوري ته ستانه شوو (**رجعنا من الجهاد الاصغر الی الجهاد الاکبر**).

جهاد په تمامه مانا د سوله ییز عمل نوم دی. له انفرادي پلوه جهاد دا دی چي انسان د نفسي ترغیباتو او د ماحول پر خرابۍ سربېره الهي لار خوشي نه کړي او له مخالف فکر سره-سره د حقایقو پیروي وکړي. جهاد ته د ټولنیز اعتبار له مخي سوله ییز جدوجهد ویلای شو، یعني هغو غورځنګونو ته چي غواړي اسلامي اهداف لاسته راوړي، په کار ده له مجاهدانه تګلاري څخه کار واخلي، نه له متشددانه تګلاري. د افراطي تګلاري په صورت کي همېشه تکیه پر زور او جبر وي، خو مجاهدانه طریقه دا ده چي د سوله ییزو هڅو له مخي خپل اهداف لاس ته راوړل شي.

په مجاهدانه طریقه کي زیات باور پر ذهني بیدارۍ کیږي، په زړونو کي مثبت احساسات راپاورل کیږي، په رغنیزو څانګو کي مثبت استحکام برلاسی کیږي، په ولسونو کي د لوړ کردار د راژوندي کولو هلي ځلي کیږي، خلک د یو-بل

مرستي ته رادانګي او په زړونو کې د يو-بل لپاره د همدردۍ او خيرغوښتني احساسات راوپاروي کيږي، بناءً د جهاد وسيله مينه ده، نه نفرت يا تشدد.

جهاد د قتال په مانا تعبيرول اصلاً د جهاد تصغير او کوچنی کول دي. قتال يو نهايي محدود او لنډمهالی عمل دی، خو جهاد يوه مسلسله او تړوليزه کړنه ده. جهاد د اسلام يوه دومره لويه برخه ده چې د انسان په ژوند کې هره ورځ او هره شېبه جاري وي او هيڅکله نه ورڅخه موقوفيږي.

انسان په فکري جهاد هغه مهال اخته کيږي چې کله يې په زړه کې د حقيقت موندني جذبه راوپاريږي او کله چې حقايقو او واقعيتونو ته ورسيږي، نو يې پر اوږو د جهاد پېټی نور هم درونډ شي. انسان ته ښايي د نفس، شيطان او چاپېريال په مقابله کې د جدوجهد له مخې خپل ايمان په پرله پسې ډول تازه او لوړ کړي. انسان بايد د مثبت ذهنيت د ساتلو لپاره داسې هڅې وکړي چې هره شېبه يې کوښښونه محسوس وي.

په يوه حديث کې راځي چې: **الايمان يزيد وينقص** (ايمان زياتيږي او کميږي). ايمان له نقص (erosion) څخه د ژغورني د پرله پسې هڅو غوښتونکی دی. انسان تل له غوسې، حسد، غچ اخيستني، غرور، ناشکرۍ او حرص غوندي جذباتو سره مخ وي او دغه ډول منفي احساسات د ايمان د کمزورۍ لامل ګرځي. په دغسې حالت کې بايد انسان له دروني احساساتو سره په جګړه شي او د جذباتو ريښې ختمې کړي. له دغه ډول جذباتو سره جګړه يو جهاد دی او له نقص يا کمزورۍ څخه د ايمان ژغورنه ناممکنه ده.

نوی ډيلي، ۲۵، ۵، ۲۰۰۴

وحيدالدين خان

www.sikaraam.com

# اسلام او سوله

## Islam: the religion of peace

د ۱۹۹۸ مېلادي کال په فبروري میاشت کي په واشـنګټن کـي د American University له لوري یو درې ورځنی کنفرانس جوړ شوی وو. په دغه کنفـرانس کي مي د همدې میاشتي پر شپږمه نېټه د اسـلام او سـولي تـر عنـوان لانـدي وینا وکړه چي یوه برخه یې په دې ډول وه:

It is no exaggeration to say that Islam and violence are contradictory to each other. The concept of Islamic violence is so obviously unfounded that prima facie it stands rejected. The fact

www.sikaraam.com

that violence is not sustainable in the present world is enough to believe that violence as a principle is quite alien to the scheme of things in Islam. Islam claims to be an eternal religion and an eternal religion cannot afford a principle in its scheme which was not sustainable in the latter periods of human history. Any attempt to bracket violence with Islam amounts to making the very eternity of Islamic religion doubtful. (Al-Risala, August ۱۹۹۸, p.۹)

اسلامي ترهګري د سوله ييزې دهشتګردۍ (pacifistic terrorism) غوندې يوه متضاده اصطلاح ده. حقيقت دا دی چې د اسلام ټولې لارښوونې په مستقيم او غيرمستقيم ډول د سولې پر اصولو بنا دي.

## په قرآن او حديثو کې د سولې لارښوونې

خپله (اسلام) کلمه د سولې مانا لري. اسلام کلمه له سِلم څخه اخيستل شوې ده او سلم د امن په مانا کاريږي، له دې کبله د اسلام مطلب دی: د سولې مذهب. په يوه حديث کې راغلي چې: **السلام من الاسلام** (سلامتي د اسلام برخه ده). (البخاري، کتاب الايمان)

يو بل حديث بيا په دې ډول دی: **المسلم من سلم الناس من لسانه ويده.** (مسلمان هغه چا ته ويل کيږي چې نور خلک يې له ژبې او لاس څخه په امن وي).

په قرآن کريم کې چې د الله تعالی کومې ښېګڼې بيان شوي دي، له هغو څخه يوه السلام (سوله يا سلامتي) ده (الحشر، ۲۳) او خپله د الله ذات د امن د صفت مظهر دی. په يو حديث کې راغلي چې: **ان الله هو السلام** (الله

خپله د سلامتۍ په مانا دی) (البخاري، كتاب الاذان). همدارنګه په قرآن کي الهي هدايت پـه سُبُلَ السَّلاَمِ (د امـن لاري) يـاد شـوی دی (المايـده، ١٦). د اسلام له مخي جنت د انسان د قيام يو معياري ځای دی او په قرآن کي جنـت ته دارالسلام (د امن کور) ويـل شـوی دی (يـونس، ٢٥). پـه قـرآن کـي ويـل شوي دي چي د جنتيانو متقـابلي وينـاوي بـه سـلامتي-سـلامتي وي (الواقعـه، ٢٦) يا په بله مانا ويلای شو چي سوله د جنت د خاوندانو اجتماعي کلتور دی.

يوه بله قرآني وينا ده چـي: وَالصُّلْحُ خَيْرٌ (سـوله د نتيجـې لـه مخـي غـوره ده) (النساء، ١٢٨). الله تعالی چي د فطرت د قانون له مخي په سوله ييـزه طريقـه کي کومي برياوي ټاکلي دي، غيرمصـلحانه طريقـه ورڅخـه بـې برخـي ده. د پيغمبر صلی الله عليه وسلم مېـرمن بي بي عايشـه رضـی الله عنهـا پـه ټـولنيزو مسايلو کي د رسول الله صلی الله عليه وسلم عمومي تګـلار داسي بيـانوي: **ما خير رسول الله صلى الله عليه وسلم بين امرين الاختار ايسرهما** (رسول الله صلی الله عليه وسلم ته چي به کله په يوه مسئله کي دوه انتخابه مخي ته ورغلل، نـو بـه يې آسانه عمل انتخاباوه) (البخاري، کتاب المناقب). مطلب دا چي که د سـوله ييـزي کـړني (peaceful activism) امکـان وي، د متشـددانه عمـل ( violent activism) لـه انتخـاب څخـه دې ډډه وشي، ځکـه سـوله ييـز عمـل د اسـانه انتخاب (easier option) حيثيت لري او متشدد عمل برعکس دی.

مثلاً د يو غورځنګ لپاره ستونزمنه ده چي له تاسيس سره سم دي په لنډ وخـت کي خپلو اهدافو ته ورسيږي، اما د وخت په تېرېـدو سره امکـان لـري چـي پـه تدريجي ډول خپلي موخي لاسته راوړي. د شـخړي پـر مهـال لـه شـخړي کـار اخيستل سخت او نامناسب کار دی، خـو لـه سـولي څخـه اسـتفاده اسـانه کـار دی. له حريف سره افراطي چلند ستونزمن او غيرمعقول انتخاب دی، خو سوله ييزه تګلار اسانه کار دی. د تشدد ځواب پـه تشـدد ورکـول سـتونزمن انتخـاب

www.sikaraam.com

دی، خو د تشدد ځواب په صبر او تحمل آسانه دی. د یوې غمیزي پر مهال غالمغال مشکل عمل دی، مګر د خاموش تدبیر خپلول اسانه کار. د اصلاح لپاره له بنستیپالني کار اخیستل سخت او غیرمناسب انتخاب دی، لېکن تدریجي اصلاح اسانه ده. د نتیجې له سنجولو پرته پُرجوش او جذباتي اقدام ستونزمن انتخاب دی، مګر تر نتیجې سنجولو وروسته حکیمانه ګام اسانه او معقول کار دی. له حکمرانانو سره مخامخ جګړه ستونزمنه ده، خو د تعلیم تر خپراوي او د ذهنیتونو تر تنویر وروسته خپلو اهدافو ته رسېدل اسانه انتخاب دی. د دغو څو مثالونو له وضاحته معلومیږي چې د پورتني حدیث اړوند سخت او اسانه انتخاب کوم یو دی.

حقیقت دا دئ چې په اسلام کي (امن) د عمومیت (rule) حیثیت لري او د جنګ حیثیت یوازي تر استثناء (exception) پوري محدود دی. د اسلام ټولي لارښووني او د پیغمبر عملي ژوند د دې خبري پوره تایید کوي.

## د پیغمبر ژوند د انسانیت لپاره یوه نمونه ده

پر رسول الله صلی الله علیه وسلم په لومړي ځل په ۶۱۰ مېلادي کال کي وحي نازلي شوې او الله سبحانه وتعالی رسول صلی الله علیه وسلم په توحید مامور کړ. په مکه کي یوه خاصه کیسه د یادولو وړ ده، هغه دا چې مکه د ابراهیم او اسماعیل علیهم السلام له خوا د توحید د مرکز په توګه وټاکل شوه، خو وروسته همدا مکه عملاً د شرک یعني ۳۶۰ بتانو مرکز وګرځېد.

د داسي یوه حالت غوښتنه خو دا وه چې لومړی دغه آیت نازل شوی وای: **طهر الکعبة من الاصنام** (کعبه له بتانو پاکه کړه!)، مګر قرآن دومره مهمه مسئله د موقت وخت لپاره له پامه وغورځوله او پر ځای یې دا آیت نازل شو: **وَثِيَابَكَ**

فَطَهِّرْ. (المدثر، ۴) (خپل اخلاق او سیرت پاک کړه!). که الله د قرآن د نزول په اوایلو کي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته چي هغه مهال د مشرکینو واکمني چلېده، د مکي د تطهیر حکم کړی وای، یقیناً به دوه اړخیزه جګړه رامنځته شوې وای، په داسي حال کي چي د دې امر له مخي رسول الله په مکي دور کي دیارلس کاله په همدې کعبه کي له سوله ییزي فضا سره سم لمونځ کاوه او پر همدې مهال په مکه کي لسګونه بتان موجود ول. همدارنګه خپله رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه وو د حدیبیه عمرې (٦٢٩ مېلادي کال) په وخت کي پر کعبه باندي طواف کاوه، سربېره پر دې چي کعبه د ٣٦٠ بتانو شاهده وه.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځانګړي تدبیر له مخي له مشرکینو سره د جګړې مخنیوی وکړ او سوله یې تامین کړه. د رسول الله صلی الله علیه وسلم ټول ژوند د سوله ییزي پالیسۍ بېلګه ده. له مکي څخه د هجرت پر مهال مشرکین جنګ ته چمتو ول، مګر پیغمبر صلی الله علیه وسلم خف-چوپ له مکي څخه مدینې ته لاړ. د حدیبیې (٦٢٨ مېلادي کال) پر مهال په تمامه مانا جنګي ماحول رامنځته شو، لېکن رسول الله صلی الله علیه وسلم له مشرکینو سره پر یو اړخیزو شرطونو سربېره رضایت وښود او د سولي تړون یې ورسره وکړ. د خندق د غزا (٦٢٧ عیسوي کال) پر مهال د مشرکینو دوولس زره پوځ د جګړې لپاره د مدینې پر پولي مسلمانان چیلنج کړل، مګر رسول الله صلی الله علیه وسلم د جانبینو تر منځ د فاصلې (buffer) په توګه لویه کنده وکنېله، تر څو د جګړې مخه ونیول شي.

د اسلام هدف د توحید رسالت (mission) دی. اسلام غواړي انسانان یوازي د الله بندګۍ ته راوبولي او د خلکو زړونه او فکرونه داسي عیار کړي چي یوازي

له الله سره بېساري مينه ولري (البقره ۱٦٥)، صرف له الله څخه ووېرېږي (التوبه ۱۸) او يوازې له الله سره اړيکه (concern) ټينګه کړي.

څرګنده ده چې دغه ډول دعوتي رسالت د جنګ او تشدد تحمل نه شي لرلای، ځکه تر جنګي او متشددو حالاتو وروسته معتدله فضا له منځه ځي، په داسي حال کې چې د ذهني اصلاح او روحاني انقلاب تحريک اغېزناک تماميدای شي. حقيقت دا دئ چې سوله يېز حالات تل د اسلام لپاره مناسبه فضا رامنځته کوي او پُرتشدد حالات برعکس.

## جګړه، يو رياستي حکم

په اسلام کې جګړه د ولس کار نه، بلکې په دولت پورې تړلی کار دی. په بل عبارت يو کس د وخت له داخلېدو سره فردي لمونځ کولای شي، خو له خپلې پريکړې سره سم په فردي ډول جګړه يا قتال نه شي کولای. د جنګ يا قتال اعلان يوازې برحاله حکومت کولای شي او که حکومت پر ولس د جګړې لپاره د تياري ږغ وکړي، نو ولس کولای شي چې د حکومت په ملاتړ جګړه وکړي، مګر په هيڅ صورت د فرد لپاره له حکومتي پريکړې پرته د جګړې جواز نه شته.

د قرآن د عمومي اصولو له مخې چې کله د خوف (يا خارجي بريد) حالت رامنځته شي، نو ولس د جګړې پرېکړه نه شي کولای، بلکې ولس بايد رامنځته شوې مسئله اولوالامر (چارواکو) ته وړاندې کړي (النساء، ۸۳) او چارواکي مسئوليت لري چې په هکله يې د ځوابي عمل پلان ګذاري وکړي.

دا خبره په يوه حديث کې په دې الفاظو راغلې ده: **انما الامام جنة، يقاتل من وراء ه ويتقى به.** (**البخاري، کتاب الجهاد**) (چارواکي د سپر حيثيت لري او قتال د

دوی تر امر لاندي کیږي او دا د ځان ساتني ممکنه لار ده). له دې څخه معلومیږي چي د قتال اعلان یا پلان ګذاري کاملاً د حکومت کار دی او ولس د حکومت له حکم سره سم د ضرورت په صورت کي خپل کردار ادا کولای شي، یعني ولس له حکومت پرته په خپلواک ډول د جګړې پریکړه نه شي کولای.

دا اسلامي اصل په واضح ډول رابښیي چي په اسلام کي د هغه نادولتي جګړې لپاره هیڅ ځای نه شته چي په عام ډول بغاوتي جګړه (Gorilla War) ورته ویل کیږي، ځکه دغه ډول جګړه د آزادو تنظیمونو له لوري پر مخ وړل کیږي، نه د حکومت له لوري. که حکومت غواړي چي د یو هیواد په وړاندي دفاعي جګړه وکړي، نو د قرآن د لارښووني له مخي اړینه ده په بشپړ ډول د جګړې اعلان وکړي، هغه هم په هغه صورت کي چي مقابل لوری تړون منسوخ کړي (الانفال، ۵۸). په اسلام کي د جنګ اعلان لازمي دی او له اعلان پرته جنګ (undeclared war) هیڅ جواز نه لري. د دغه اصل پر بنیاد په اسلام کي نیابتي جګړه (proxy war) ناروا ده.

د اسلام ټولي کړني خپل خاص شرایط لري. د جګړې لپاره هم ځانګړي مقررات ټاکل شوي دي. مثلاً له هغوی څخه یو دا دی چي جګړه به تر جارحینو (تیري کوونکو) پوري محدوده وي، یعني د مسلمانانو پوځ په جګړه کي یوازي وژونکي (combatants) او جنګي کسان هدف ګرځولای شي، د غیرمقاتلینو (noncombatants) او غیرجنګي کسانو په وړاندي اقدام نه شي کولای.

په قرآن کي الله امر کوي چي له هغو کسانو سره جګړه مه کوه چي ستا سره جګړه نه غواړي، بلکي له هغوی سره له غوره چلند او انصافه کار اخله، البته کومو کسانو چي ستا سره جګړه وکړه، ته له هغوی سره د جګړې آزادي لرې،

له هغوی سره ستا معامله د دوستۍ هغه نه وه (الممتحنه، ۸-۹). که فرضاً د اسلامي اصولو له مخي له یوه قوم یا هیواد سره جګړه رامنځته شي، بیا هم د مسلمانانو لپاره روا نه ده چي د مقابل لوري د ولس پر خلاف په تخریبي اعمالو لاس پوري کړي، لکه د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر د یوولسمي پېښه.

مسلمانان داراز په دفاعي جګړه کي هم حق نه لري چي پر مقابل لوري ځانمرګي بریدونه وکړي، یعني قصداً په ځان پوري چاودېدونکي توکي وتړي او د مقابل طرف پر پوځي او ملکي کسانو چاودېدونکو موادو ته چاودنه ورکړي. دا ډول عمل په هیڅ صورت په شهادت او استشهاد نه توجیه کیږي. په اسلام کي شهید کېدل دي، نه شهیدول.

## د دښمن او متجاوز تر منځ توپیر

الله تعالی انسان ته د ازموینې په موخه ځانګړې آزادي ورکړې ده چي د انساني خپلواکۍ له امله کله-کله د انسانانو تر منځ دښمني رامنځته شي (طه، ۱۲۳) آن تر دې چي دغه مخالفت د جګړې تر حده ورسیږي، خو اسلام په ډېر ښکاره ډول دښمني او جګړه سره بېل کړي دي.

مسلمانان د هر هغه چا پر خلاف چي دوی یې دښمن ګڼي، په جګړې لاس نه شي پوري کولای، بلکي مسلمانانو ته د دښمن په وړاندي یوازي د سوله ییز دعوت جواز شته. په دې تړاو قرآن په ښکاره ډول امر کوي: او څوک به د وینا له مخي تر هغه چا غوره وي چي د الله لوري ته بلنه کوي او نېک عمل کوي، وایي زه له مسلمانانو څخه یم، نېکي او بدي سره برابر نه دي، بدي په نېکي ځواب کړه، ناڅاپه به دي هغه څوک چي ستا او د ده تر منځ دښمني وي، ټینګ دوست شي. (حم السجده، ۳۳-۳٤) له دې څخه معلومیږي چي

اسلام د سوله ییزو هڅو په مرسته دښمن دوستۍ ته وربولي، نه دا چې یو څوک دښمن ونوموي او پر خلاف یې جګړه اعلان کړي.

په اسلام کې د جګړې اجازه یوازې په هغو حالاتو کې شته چې مسلمانان له جګړې څخه مخ واړوي او نه غواړي چې جګړه وکړي، خو پر دې سربېره مقابل لوری تېری وکړي او مسلمانان دفاع ته مجبور شي. قرآني ارشاد دی: **أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا.** (الحج، ۳۸) (هغو کسانو ته د جګړې اجازه ورکول شوه چې د هغوی پر خلاف جنګ کیږي، له دې کبله چې پر هغوی (مسلمانانو) ظلم وشو). په قرآن کې بل ځای د جګړې له جواز سره پوره وضاحت شوی دی: دا هغه مقابل لوری دی چې لومړی دوی په جنګ لاس پوري کړ. (التوبه، ۱۳)

څرګنده شوه چې د اسلامي لارښوونو له مخې جګړه د دښمن پر خلاف نه، بلکې د بریدکوونکي پر خلاف کیږي. مسلمان که یو څوک د ځان دښمن وګڼي، نو دا اجازه نه لري چې پر هغه برید وکړي. مسلمانان د دغسې کسانو په وړاندې له اوله تر اخره د سوله ییز دعوت حق لري. البته د افراطي جارحیت (تېري) پر خلاف دفاعي جګړه جواز لري، مګر هغه مهال چې له جنګ څخه د مخنیوي ټولې هڅې ناکامې شوې وي. د پیغمبر صلی الله علیه وسلم عملي ژوند د دې ادعا یو نه ردېدونکی ثبوت دی.

## جګړه یو غیرمطلوب عمل

د اسلام لپاره جنګي چاپېریال دومره غیر اړین دی لکه د سوداګرۍ لپاره چې جګړه ییز چاپېریال د کرکې وړ دی، ځکه سوداګري یوازې په سوله کې وده کولای شي. دارنګه د اسلام موخې هم یوازې په سوله ییز چاپېریال کې لاس

ته راوړل کېدای شي. په يوه حديث کي راځي: **ايها الناس لاتتمنوا لقاء العدو، وسلوا الله العافيه.** (**البخاري، کتاب الجهاد**) (اې خلکو! تاسي له دښمن سره د مخامخ کېدو غوښتنه مه کوئ، بلکي له الله څخه د امن هيله ولرئ).

جنګيالي تل د سياسي اقتدار د ترلاسه کولو لپاره جنګيږي او سياسي قدرت په اسلام کي يو داسي شی نه دی چي د لاس ته راوړلو لپاره يې جګړه وشي. د قرآن له مخي سياسي قدرت د مسلمانانو لپاره هدف نه، بلکي يو امرِموعود (د ژمني کار) دی (النور، ۵۵) د قرآن له مخي د اقتدار مالک الله دی، الله چي چا ته وغواړي اقتدار ورکوي او له چا چي وغواړي اخلي يې (آل عمران، ۲۶). همدا وجه ده چي اقتدار او سياسي برى کله د يو چا لاس ته لويږي، کله د بل چا لاس ته. (آل عمران، ۱٤۰)

دغه قرآني حقيقت په دې ډول هم بيانېدای شي چي د سياسي اقتدار لاس ته راتلل يا لاس ته راوړل دواړه د فطري قانون په پايله کي منځته راځي، اقتدار نه يوې ډلي ته د هغې د هڅو له مخي لاسته ورځي او نه د يوې بلي ډلي د دسيسې په صورت کي ورڅخه اخيستل کېدای شي.

## برى؛ له جګړې پرته

د رسول الله په ژوند کي د حديبيې پېښه (٦٢٨ ع) يوه له مهمو پيښو څخه ده. رسول الله چي کله په مدينه کي وو، مکه ټوله د مشرکينو په لاس کي وه. پيغمبر صلی الله عليه وسلم وغوښتل چي د عُمرې لپاره مکي ته ولاړ شي، ځکه کعبه په مکه کي ده او له دې امله د عُمرې عبادت په مکه کي ادا کيږي. که څه هم د رسول الله دغه سفر يوازي عبادتي اړخ درلود، مګر د مکي مشرانو په هيڅ صورت دا نه شوای غملای چي پيغمبر دي مکي ته

داخل شي. مشرکينو رسول الله له مکې څخه بهر په حديبيه کې ودراوه او ورته ويې ويل چې له دې ځايه بېرته ولاړ شه. پر دې مهال د مشرکينو او رسول الله صلی الله عليه وسلم تر منځ خبري اتري د جګړې تر حده ورسېدې او په دې وخت کې له رسول الله سره ۱۴۰۰ مسلمانان ملګري ول. که مسلمانانو ټينګار کړی وای چې مکې ته به ننوځي او عمره به کوي، نو بې له شکه به د دواړو خواوو تر منځ جګړه رامنځته شوې وای، مګر رسول الله صلی الله عليه وسلم د مشرکينو غوښتنه ومنله او د سولې له لس کلنې تړون سره سم بېرته مدينې ته ستون شو.

د حديبيې تړون په ظاهره د سيالۍ له ډګره د راستنېدو تعهد وو، خو کله چې معاهده وشوه، نو قرآن دا تړون د مسلمانانو په حق کې ښکاره بريا وبلله (الفتح، ۱). د حالاتو له مخې د تړون مطلب دا دئ چې تاسو د خپل حريف په وړاندې له جګړې څخه مخنيوی وکړئ او پر دښمن بريا ترلاسه کړئ.

د جګړې د مخنيوي او د سولې د تړون هدف دا وو چې مسلمانان بايد له موقعې (opportunity) څخه په استفاده خپل توان پر جګړې ونه ازمويي، بلکې د ځان د پياوړتيا او د ذهنيتونو د جوړولو لپاره بايد کار وکړي او د حديبيې له تړون څخه همداسې پايله راووته. تاريخي شواهد ښيي چې د سولې تر دې تړون وروسته مسلمانانو ځانونه په دوو کلونو کې دومره پياوړي کړل چې له جګړې پرته يې د سوله ييزې مبارزې په مرسته پر مکې بری ترلاسه کړ. دا "بری؛ له جګړې پرته" د اسلام يو نهايي مهم اصل دی او د فطرت پر يو نه تغيرېدونکي نظام باندې ولاړ دی، دا اصل نه يوازې د حکومتونو لپاره مهم دی، بلکې د خلکو او ټولنو لپاره هم ډېر ارزښت لري. دغه اصل په دې ډول هم بيانېدای شي چې له تصادم څخه په مخ اړولو له فرصتونو ګټه واخله (Avoid the confrontation, and avail the opportunities).

## د جنګ ختمولو جګړه

په قرآن کريم کې چې رسول الله او صحابه وو ته کوم امرونه شوي دي، له هغو څخه يو حکم په دې ډول وو: **وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لاَ تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلّه فَإِنِ انتَهَوْاْ فَإِنَّ اللّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ بَصِيرٌ.** (**الانفال، ۳۹**) (له هغوی سره تر هغه مهاله وجنګېږه چې فتنه له منځه ولاړه شي او دين ټول د الله لپاره شي، که يې توبه وايسته، نو الله هغه څه ويني چې هغوی يې کوي).

دغه آيت دوې برخې لري؛ دلته يوه خبره لومړی منفي او وروسته په مثبت انداز بيان شوې ده. مطلب دا چې د فتنې حالت داسې له منځه يوسه چې په پوره ډول د غيرفتنې (طبيعي) حالت رامنځته شي يا په بله مانا د انسان له لوري جوړ کړل شوی مصنوعي حالت بايد له منځه يووړل شي او د الله له خوا فطري حالت بېرته راستون شي.

له دې آيت څخه هدف مذهبي جبر دی؛ هغه جبر چې په لرغوني تاريخ کې په ټوله نړۍ کې مروج وو. په لرغوني تاريخ کې د نړۍ په هره سيمه کې سلطنتي نظام حاکم وو او په هغو وختونو کې ژوند يوازې دوه اړخونه درلودل، اقتدار او ځمکه. دغه دواړه شيان د برحاله حاکم تر تسلط لاندې ول او د ولسونو ټولې چارې د حکماوو يا پاچهانو په واک کې وې، حتی ولسونو هم هغه مذهب خپلاوه چې پاچا به يې پيروي کوله. د هغې زمانې حالت د عربي ژبې په يوه پخوانۍ مقوله کې په دې ډول بيان شوی دی: **الناس على دين ملوكهم** (خلکو د خپلو حاکمانو د مذهب پيري کوله).

د پخوانۍ زمانې دغه ډول جبري حالت د خدای د فطري نقشې مخالفت دی. هغه مهال په ټوله نړۍ کې يو ډول سياسي مرکزيت (political centralization) جوړ شوی وو او په دې ډول نظام کې هر کار د حاکم په

www.sikaraam.com

اجازه سرته رسېدی او عامو خلکو هیڅ کار په آزاد ډول نه شوای ترسره کولای. دا تقریباً هغه حالت دی چي یوه بېلګه یې تر کمونیستي آمریت لاندي په پخوانۍ کمونیستي اتحادیه (soviet union) کي تر سترګو کیږي.

الله تعالی غوښتل چي د سیاسي جبر دغه غیرفطري نظام له منځه ولاړ شي او د ژوند ټولي چاري پر هغه طبیعي اصولو عیاري شي چي الله د مصلحت له مخي د انسان د ازمویني لپاره ټاکلي دي، یعني انسان د سیاسي اقتدار له اجازې پرته هر هغه څه په آزاد ډول ترسره کړي چي زړه یې غواړي.

د بعثت په اوایلو کي د ملوک الطوایفي نظام له ختمولو سره د خلافت رامنځته کول د دې نظریې پیلامه وه. دغه نظام تر ټولو مخکي په عربو کي رامنځته شوی وو، هغه مهال په عربو کي دوې لویي امپراتورۍ وې، بازنطیني امپراتوري او ساساني امپراتوري. د دغه ډول امپراتوریو لپاره پورتنی اصلاحي پروګرام د یوه چیلنج (ننګوني) حیثیت درلود چي د امپراتوریو رهبران د دغه اصلاحي پروګرام په وړاندي راوپارېدل او په نتیجه کي د صحابه وو او دغو امپراتوریو تر منځه لویه جګړه رامنځته شوه، د الله له مرستي سره سم صحابه وو بریا ترلاسه کړه او دغه جبري نظام یې له منځه یووړ. فرانسوي مؤرخ هنري پرین (Henry Pyrrene) هم دغه حاکمیت مطلق انحصاري نظام ( absolute imperialism) نومولی دی.

له زرګونو کلونو راهیسي ودان جبري نظام له منځه وړل او پر ځای یې یو خپلواک نظام رامنځته کول یوه نهایي انقلابي پېښه ده. دغه ډول جبري نظامونه له منځه وړل څه اسانه خبره نه ده، خو اسلام په اوومه میلادي پېړۍ کي د دغه پخواني جبري نظام تاریخي تسلسل له منځه یووړ. تر دې وروسته دا تغیرات د یوه عمل (process) په شکل په انساني تاریخ کي داخل شول او

دا عمل په بېلابېلو ډولونو له لوړو او ژورو حالاتو سره مسلسل پاتــه شــو، آن تــر دې چې په شلمه مېلادي پېړۍ کي تر خپل وروستي حده ورسېد او بشپړ شو.

د قدرت د انحصار ختمولـو (de-centralization) دا پېښـه د شـلمي پېړۍ پـه لومړيـو کـي رامنځتـه شـوه او اوسـمهال سـياسي اقتـدار يـوازي تـر اداري (administration) پوري محدود شو. نـن-سـبا سـياسي اقتـدار د ژونـد پـر يـوه برخه تسلط لري او د ژوند پاته ۹۹ برخي تر دې انـدازې آزادي شـوې چـي هـر انسان يې پخپله خوښه تېروي.

د انسان په ژوندانه کي دغه لوی بدلون عين د اسلام په حق کي وو او اوس د مسلمانانو چارواکي او عوام د نورو په څېر کولای شي چي د سياست لـه مخـي د ژوند په رغنيزه او تشکيلاتي برخو کي خپلـه هـره چاره بـې لـه کـوم ممانعتـه مخته يوسي. حقيقت دا دی چي دغي تبديلۍ د ژوندانه نظام لـه سـلطنتي دور څخه د ادارو (institutions) هغه ته ورساوه. اوس د مسـلمانانو لپـاره دا زمينـه برابره ده چي هر ډول اداري رامنځته کړي او د ژوند پر ټولو برخو بـرلاسي شي، ان تر دې چي سياسي اداره هم پـه غيرمسـتقيمه توګـه تـر خپـل اغېـز لانـدي راولي.

تر دغو تغيراتو وروسته دا زمينه هم برابره شوه چي مسلمانان په پراخـه او ازاده توګه هر ډول اداري رامنځته کړي او د ادارو له مخي په ټولنه کي نفوذ وکړي، په داسي حال کي چي دا کار مخکي يوازي د سياسي اقتـدار پـه صـورت کـي امکـان درلـود. مـثلاً پـه تعليمـي ادارو کـي د نـوي نسـلونو روزنـه، د چـاپيزو او برېښنايي رسنيو په مرسته عمومي ذهنيـت جوړونـه، د کتـابو پـه ذريعـه د خپلـو افکارو خپرېدنـه، د تحقيقـي ادارو لـه لاري د ماليـاتو حصـول، د مفـاهمې پـه مرسته د خپلو اهـدافو عمـومي تنظـيم، د بېلابيلـو ادارو (NGOs) پـه مرسـته د خپلو مذهبي او فرهنګي چارو ترتيب او داسي نور.

www.sikaraam.com

اوسمهال چې کوم ملتونه د تغيراتو او بدلونونو په دغه راز پوه شوي دي، په ښکاره يې له سياسي واک پرته هر ډول برياليتوبونه لاسته راوړي دي. وينو چې يوې ډلي په هيواد کي دننه خپله تعليمي سلطه جوړه کړې وي، بلي نشريه او بلي بيا مواصلاتي سلطه، يوې ډلي مالياتي امپراتوري رامنځته کړې وي او بلي بيا معالجاتي قوانين جوړ کړي وي. د دغه غيررياستي امپراتورۍ وروستۍ بېلګه کمپيوټري هغه ده، چې انسانانو ته يې دا فرصت ورکړ څو نه يوازې په قومي کچه، بلکي په نړيواله سطحه د ژوندانه ټول نظام په خپل واک کي واخلي.

زه فکر کوم د دغه قرآني آيت (وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلّه) يو مهم اړخ همدغه زماني تبديلي ده. دغه بدلون سياسي واکمني له ښخه وايستله او اوس يې يو ډول سياسي سردرد (political headache) ورځخه جوړ کړی دی. اوسمهال د مسلمانانو لپاره اړينه نه ده چې د سياسي واکمنۍ د لاس ته راوړلو لپاره وجنګيږي، ځکه سياسي واکمني چي له هر چا سره وي، بيا هم عام خلک د غيرسياسي ادارو له لاري خپل ټول اهداف لاس ته راوړلای شي.

د دې مطلب دا نه دی چې مسلمانان دي له سياسته لاس واخلي، بلکي د ادارو او ګوندونو په مرسته دي د سوله ييزو سياسي هڅو له مخې خپلي ګټې لاسته راوړي او له سياسي اړودوړ پرته دي خپل ارام سياسي سفر ته دوام ورکړي، تر هغو چي الله دوی ته د سياسي واکمنۍ فرصتونه برابروي.

## د سولي اغېز

په يو حديث کي راځي چي: **ان الله يعطى على الرفق مالا يعطى على العنف** (الله چي په نرمښت (عدم تشدد) کي د انسان لپاره کوم څه ټاکلي دي، په سختۍ

کي يې نه دي ټاکلي) (صحيح مسلم، کتاب البر). دا حديث په ښکاره ډول راښيي چي سوله ييزه تګلار (peace activism) تر افراطي تګلاري ( violent activism) غوره ده.

دا څه حيرانوونکي خبره نه ده، بلکي يو ساده او څرګند فطري حقيقت دی. د شخړي او تشدد په صورت کي تل د دوو اړخونو تر منځ نفرت او کرکه راپاريږي، د ميني اسباب له منځه ځي، دواړه لوري خپل نېک افراد له لاسه ورکوي او بالاخره ټولنه د منفي نفسياتو په ځنګله بدليږي. ښکاره ده چي په دغسي افراطي چاپېريال کي د رغنيزو چارو سر ته رسول ناممکن ګرځي، بل دا چي په جنګ او تشدد کي زيان يقيني دی، خو ګټه يې يوه ذره هم نه شته.

برعکس په سوله ييزه ټولنه کي د خلکو تر منځ ښې اړيکي ټينګيږي، دوستي او مينه زياتيږي، ودانيز کارونه سر ته رسيږي، له موجوده اسبابو څخه په رغنيزو کارونو کي کار اخيستل کيږي، په خلکو کي مثبت نفسيات وده کوي او فکري پرمختګ پر وجود راځي.

د جګړې تر ټولو لوی زيان دا دی چي فرصتونه پکي له منځه ځي او د سولي لويه ګټه دا ده چي فُرصتونو ته لار هواريږي. جګړه تل له ځان سره زيانونه لري، خو له سولي سره ګټې تړلي وي. همدا وجه ده چي اسلام تر وروستي حده د جګړې د مخنيوي لارښوونه کوي او د سولي قيام لازم ګڼي.

## د يوې مغالطې وضاحت

په قرآن کي ځيني آيتونه په دې مفهوم راغلي دي: او هغوی ووژنه چيري چي په مخه درغلل (البقره، ۱۹۱). د ځينو خلکو هڅه دا وي چي د دغسي- آيتونو په مرسته اسلام د خلکو په اذهانو کي د جګړې او وژني مذهب معرفي کړي،

www.sikaraam.com

په داسي حال کي چي دا کاملاً یوه بې بنیاده هڅه ده. دارنګه آیتونه یوازي تر هغو خلکو پوري محدود دي چي په یو اړخیز ډول یې پر مسلمانانو برید کړی وي او مسلمانان دفاع ته مجبور شوي وي، یعني دا د اسلام یو عمومي حکم نه دی.

اصلاً قرآن پر یوه وخت د بشپړ کتاب په شکل نه دی نازل شوی، بلکي د ۲۳ کلونو په اوږدو کي په تدریجي ډول د حالاتو مطابق نازل شوی دی. که دغه ۲۳ کلونه د سولي او جګړې له مخي وویشل شي، نو وینو چي تقریباً شل کاله سوله تامین وه او مسلمانان یوازي درې کلونه له جګړو سره مخ ول. د جګړې یا وژني آیتونه یوازي د دغو ۳ کلونو په اوږدو کي راغلي دي او له دې پرته چي کوم آیتونه د شلو کلونو په اوږدو کي نازل شوي دي، ټول د سولي له لارښوونو سره تړاو لري، لکه معرفت، عبادت، اخلاق، عدل او ...

دا د احکامو یو فطري ویش دی، اصلاً هر کتاب پر دغسي برخو تقسیم شوی وي، د بیلګي په توګه د هندویزم مقدس کتاب ګیتا درواخلئ، په دې کتاب کي به له ډیرو داسي خبرو سره مخ شئ چي په حکمت او اخلاقو پوري تړلي وي، د دې تر څنګ ګیتا د دې شاهد هم دی چي کرشن جي ارجن ته وایي اې ارجنه، مخته ولاړ شه او جګړه وکړه! دا په دې مانا نه ده چي د ګیتا پیروان دي ټول عمر په جګړه بوخت وي. له بلي خوا که وګورو مهاتما ګاندي له همدې ګیتا څخه د عدم تشدد فلسفه تشکیل کړې ده، ځکه ګیتا جګړه تر یوې استثناء پوري یاده کړې ده او د عمومي ژوند لپاره هماغه د سولي اړوند احکام بیان شوي دي چي مهاتما ګاندي د خپلي فلسفې اخذ ورڅخه کړی دی.

همدارنګه د انجنیل په نوې بڼه کي هم د مسیح له خولې دا الفاظ رانقل شوي دي: دا فکر مه کوه چي په ځمکه کي د سولي لپاره راغلی یم، د سولي لپاره

نه، بلکي د توري چلولو لپاره راغلی یم (متی، باب ۱۰). له دې الفاظو دا مطلب اخیستل ناسمه ده چي د مسیح دین د جګړې او وژنو دین دی، ځکه د مسیح علیه السلام په لارښوونو کي دغه ډول کلام یوازي یوه استثناء او په یوه ځانګړې پیښه پوري تړاو لري. تر کومه حده چي د عمومي ژوندانه خبره ده؛ مسیح تل د اخلاقو، میني او سولي لارښووني کړي دي.

همداسي د قرآن لارښووني هم درواخله، پیغمبر چي کله له مکې څخه مدینې ته هجرت وکړ، نو مشرکینو د ده پر خلاف جارحانه (یرغلیز) بریدونه پیل کړل، رسول الله تل په صبر او اعراض د دغو بریدونو ځوابونه ورکول، خو پر دې سربېره ځیني وختونه داسي حالات رامنځته کېدل چي له ځوابي مقابلې پرته به بل هیڅ انتخاب (option) نه وو، ځکه خو پیغمبر په دغسي- حالاتو کي دفاعي جګړه کړې ده. دا هغه حالات دي چي قرآن یې له رامنځته کېدو سره سم احکام نازل کړي دي. دا هغه احکام دي چي تر ټاکلي وخت پوري محدود دي، نه تر لامحدود وخت پوري، په داسي حال کي چي قرآن کریم د رسول الله حیثیت په رحمت للعالمین (الانبیاء، ۱۰۷) سره یاد کړی دی، یعني رسول الله د ټول عالم لپاره رحمت دی.

## په اسلام کي ترهګري نه شته

په اسلام کي دهشتګردي په هیڅ صورت د زغم وړ نه ده. ویلای شو چي ترهګري د غیرریاستي تشدد دوهم نوم دی. د اړتیا له مخي د تشدد په مرسته د یوه هدف لاسته راوړنه د برحاله حکومت لپاره روا ده، اما د غیرحکومتي اشخاصو یا ګوندونو لپاره د هیڅ عذر پر بنسټ متشددانه تګلار خپلول مناسب نه دي. که یو شخص یا ټولنه کوم شکایت یا غوښتنه ولري، نو د هغوی لپاره

دوه صورته جواز لري، یا به د سوله ییزو هلوځلو په مرسته د خپلو غوښتنو حلالر لټوي، یا به خپلې غوښتنې تر محاکمې او حکومتي ادارې پورې رسوي، تر څو دولت یې غوښتنو ته حلالاري ولټوي.

اوسمهال په رسنیو کې د اسلامي دهشتګردۍ اصطلاح خورا عامه شوې ده، خو دا یوه ناسمه اصطلاح ده. اسلام له دهشتګردۍ سره هیڅ تړاو نه لري. د دې اصطلاح د کاروني اصلي مسئولیت د رسنیو پر غاړه نه دی، بلکې مسلمانان رسنیو ته دا موقع ورکوي چې کردار او اعمال یې له دغه ډول عنوان سره رپوټ او وړاندې سي.

د نن-سبا مسلمانان په بېلابېلو هیوادونو کې له غیرحکومتي جګړو سره لاس او ګرېوان دي، دغه جګړې د هیواد د ړغورنې او د مسلمان امت د ګټو په موخه مخته وړل کیږي، مګر کوم مسلمانان چې دغه ډول افراطي غورځنګونه مخته وړي، هغوی دغه عمل ته د اسلامي جهاد نوم ورکوي، ښکاره خبره ده چې د رسنیو کار تجزیه نه، بلکې راپور جوړول دي او رسنۍ د مسلمانانو دغه متشددانه عمل هغه ډول اسلام ته منسوبوي، لکه څنګه چې مسلمانانو دا عمل له اسلام سره تړلی دی. دا چې مسلمانانو خپل تشدد ته د اسلام عنوان ورکړی دی، رسنۍ هم په خپل راپور کې دغه عمل ته د اسلام عنوان ورکوي او له اسلام سره یې تړي.

د مسلمانانو دغه ډول روش اسلام ته ډېره بدنامي اړولې ده، ان په ټوله نړۍ کې یې اسلام د نفرت او تشدد مذهب معرفي کړی دی.

د بېلګې په توګه د ډیلي د یوه انګلېسي ژبي اخبار (هندوستان ټایمز) د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر د لومړۍ ورځې د امولیه ګنګولي مضمون د اسلام تصویر (Image of Islam) یادولای شو. دارنګه د لندن په ډیلي ټېلیګراف چاپیزه

رسنۍ کي هم ورته ليکنه شوې وه چي عنوان يې په دې ډول وو (هغه مذهب، چي تشدد ته جواز ورکوي).

له دغي بدنامۍ څخه د اسلام د ژغورني يوازينۍ حللار دا ده چي مسلمانان خپلمنځي جګړو ته د اسلام نوم ورنه کړي، بلکي دغه ډول اعمال د اسلام پر ځای خپل قوم ته منسوب کاندي، له دې سره به د دوی کردار يو قومي عمل وګڼل شي، نه اسلامي او ديني عمل.

## په اسلام کي د جهاد تصور

د جهاد مـاده جهـد ده او د جهـد مانـا کوښـښ کـول (to strive, to struggle) دي. په دې کلمه کي د مبالغې مفهوم شته، يعني د يو کار په کولـو کـي خپـل ټول توان صرفول. په عربي کي ويلای شو "**بذل جهده**" يا "**بذل مجهـوده**" يعنـي پلاني له خپل ټول توان څخه کار واخيست. په لسان العـرب کـي راغـلي دي: **جهد الرجل فی کذا ای جد فيه و بالغ.** (**۳، ۱۳۳**) (پلاني سړي په پلانۍ موضوع کي جدوجهد وکړ) يعني د مبالغې تر حده يې هڅه وکړه.

جهاد د مبالغې صيغه ده، يعني په يوه کار کي د امکان تر حده خپل ټول تـوان صرفول. په لسان العرب کي راغلي دي چي: **الجهاد، المبالغـة واسـتفراغ الوسـع فی الحرب او اللسان او ما اطاق من شئ** (**۱۳۵\۳**). قـرآني ارشـاد دی: وَجَاهِـدُوا

www.sikaraam.com

**فِي اللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِ.** (الحج، ۷۸) (د الله په لار کي پوره هڅه وکړه، لکه څنګه چي ښايي).

په عربي کي جهاد اصلاً يوازي د کوښښ يا زيات کوښښ مانا لري. دا چي له دښمن سره جګړه هم د کوښښ يوه برخه ده، له دې کبله د پراخ مفهوم له مخي له دښمن سره جګړې ته هم جهاد ويل کېداى شي، البته د دوهم مفهوم لپاره يې په عربي کي ځانګړى لغت قتال دى، نه جهاد.

له دښمن سره جګړه يوه داسي پديده ده چي په ژوند کي يې کله-کله اړتيا پيښيږي، نه هر وخت، لېکن جهاد يو داسي مسلسل عمل دى چي د مومن په ژوند کي هره ورځ او هره شپه جاري وي. د دغه ډول مستقل جهاد غوښتنه دا ده چي انسان د خپل ژوند په هره مسئله کي د الله پر رضايت ولاړ واوسي او د دې قيام په وړاندي چي هر شى خنډ ګرځي، له پامه به يې غورځوي. مثلاً نفسي- خواهش، د ګټي هيله، د رسم او رواج زور، د مصلحتونو غوښتني، ځانغوښتنه، د مال حرص او داسي نور... دا ټول مسايل د صالح عمل د خنډونو حيثيت لري. دغه ډول ټول خنډونه له پامه غورځول او د الله پر امر پاتېدل اصلي جهاد دى او دا د جهاد ابتدايي مفهوم هم دى. د دې جهاد په باب ګڼ شمېر احاديث راغلي دي چي د بيلګي په توګه د مسند امام احمد څو روايتونه يادولاى شو:

**المجاهد من جاهد نفسه لله.** (٦، ٢٠)

**المجاهد من جاهد نفسه في سبيل الله.** (٦، ٢٢)

**المجاهد من جاهد نفسه في طاعة الله.** (٦، ٢٢)

نړۍ يو ازموينځى دى، داسي ازموينځى چي ماحول يې د انسان لپاره د مسلسل امتحان حيثيت لري. د دغو ازموينو پر مهال انسان له ډول-ډول

www.sikaraam.com

خندونو سره مخ کیږي، مثلاً یو وخت له رښتیانې ګواهي ورکولو سره مخ شي، لېکن پر حق د پاته کېدو په صورت کې د ځان حقارت لیدل، له یو چا څخه د شتمنۍ اخیستلو او حقدار ته د تسلیمولو په صورت کې د ځان زیان تر سترګو کېدل، د خاکساره ژوند تېرولو په صورت کې پر ځان د جبر احساس، د غوسې او غچ اخیستني جذبات تر پښو لاندې کولو پر مهال د ځان د نفي کېدو هجان، له حق وینا څخه له دې کبله تېرېدنه چې د خلکو په وړاندې به یې مقبولیت له منځه ولاړ شي، د ځانغوښتني پر ځای د اصولي کړنو په خپلولو کې له اسانتیاوو محرومېدل او داسې نور...

په دغسې حالاتو کې انسان بار-بار دې ته مجبوره کیږي چې خپلې غوښتنې تر پښو لاندې کړي او د غوښتنو د قربانۍ اړتیا هم وي او ځیني وختونه سړی ډېر اړ کیږي چې غوسه وزغمي، نو دارنګه ټول خنډونه شا ته پرېښودل، هر ډول زیان زغمل او پر حق پاته کېدل اصلي او ابتدايي جهاد دی، هر هغه څوک چې پر دغه جهاد پاته سي، په آخرت کې به د جنت وړ ګرځي.

جهاد اصلاً د سوله ییزې مبارزې نوم دی. د دې سوله ییز جدوجهد یو صورت دا دی چې موږ-تاسې په عام ډول دعوت او تبلیغ ورته وایو. قرآن فرمایي: **فَلاَ تُطِعِ الْكَافِرِينَ وَجَاهِدْهُم بِهِ جِهَادًا كَبِيرًا.** (**الفرقان، ۵۲**) (د منکرینو اطاعت مه کوه او له هغوی سره د قرآن په ذریعه ستر جهاد وکړه). یعني د باطل پرستانو خبرې مه منه، بلکې د قرآني لارښوونو په مرسته هغوی ته دعوت او تبلیغ وکړه او له دې کاره خپل توان مه دریغوه. په دې آیت کې له جهاد څخه هدف کوم عسکري عمل نه دی، بلکې دلته هدف فکري او نظریاتي عمل دی. دې عمل ته په بله مانا ابطال باطل او احقاق حق هم ویلای شو.

جهاد د قتال یعني د خپل ابتدايي مفهوم له مخې هم سوله ییز جدوجهد دی. که د دښمن له لوري پوځي او عسکري ننګونه موجوده وي، بیا به هم اولاً ټوله

هڅه دا وي چې څواب يې په سوله ييز ډول وشي. د سوله ييزي طريقې پرېښودل يوازي هغه وخت جواز لري چې اختيارول يې ناممکن وي، يعنې د قتال په ځواب کي قتال يوازينی ممکن انتخاب وي.

په دې باب د بي بي عايشې رضی الله عنها يو روايت زموږ د لارښووني لپاره د اصولو حيثيت لري، هغې ويلي دي: **ما خير رسول الله صلي الله عليه وسلم بين امرين الاختار ايسرهما.** (**صحيح البخاري، کتاب الادب**) (رسول الله صلی الله عليه وسلم ته چي به کله په يوه مسئله کي دوه انتخابه مخي ته ورغلل، نو رسول الله به اسانه انتخاباوه). مطلب دا چي که به د يوې موضوع په باب د رسول الله په وړاندي دوه ممکن انتخابه پراته وای، مثلاً يو آسان انتخاب ( easier option) او بل ستونزمن انتخاب (harder option)، نو رسول الله به تل ستونزمن انتخاب پرېښاوه او آسان به يې خپلاوه.

رسول الله له دغه سنت څخه د ژوندانه د عامو مسايلو تر څنګ په جګړه کي هم کار اخيستی، په داسي حال کي چي دا د خپل نوعيت له مخي د يو ستونزمن انتخاب حيثيت لري. د رسول الله صلی الله عليه وسلم د سيرت له مطالعې پوهيږو چي هيڅکله يې له خپلي خوا د جګړې اقدام نه دی کړی، حتی کله چي د مخالفينو له لوري د جګړې هڅه شوې ده، نو پيغمبر د جګړې مخه نيولې ده. رسول الله يوازي هغه مهال په جګړه کي برخه اخيستې ده چي له جنګ پرته به بله هيڅ لار نه وه. د رسول الله صلی الله عليه وسلم د سنت له مخي په اسلام کي جارحانه (يو اړخيزه) جګړه جواز نه لري، په اسلام کي يوازي د دفاعي جګړې اجازه شته او هغه هم صرف په هغه صورت کي چي له جګړې پرته بل هيڅ انتخاب نه وي.

حقيقت دا دئ چي په ژوند کي ټول مسايل داسي دي چي له دوو څخه به يو انتخابيږي، مثلاً سوله ييز جدوجهد او پُرتشدد جدوجهد. د رسول الله صلی الله

علیه وسلم د سیرت له مطالعې څرګندیږي چې ټـل یـې د افراطـي طریقـې پـر ځای سوله ییزه تګـلار خپلـه کـړې ده او د پیغمـبر ټـول ژونـد د دغسـې اصـولو شاهد وو. دلته یې څو بېلګي رااخلو:

١) محمد صلی الله علیه وسلم چې کله په پیغمبرۍ مبعوث شو، نـو سمدسـتي پورتنۍ پوښتني راپیدا شوې چې پیغمبر به سـوله ییـزه تګـلار خپلـه کـړي، کـه پرُتشدده؟ د پیغمبرۍ هـدف د شرک لـه منځـه وړل او د توحیـد قیـام وو او پـه مکه کې کعبه د توحید د مرکز په توګه جوړه شوې وه، خو د رسول الله د بعثـت پر مهال په کعبه کې ٣٦٠ بتان پراته ول. په دې لحاظ خو لازمـه دا وه چـې د قرآن کریم لومړی دا آیت نازل شوی وای: **طهر الکعبة من الاصنام** (کعبه له بتـانو پاکه کړه)، مکه یو ځل بیا د توحید پـه مرکـز بدلـه کـړه او خپـل رسـالت مختـه یوسه.

که رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل رسالت د بتانو له ختمېـدو څخـه راپیـل کړی وای، حتماً به یې له قریشو سره جګړه رامنځته شوې وای. پـه عربـو کـې هغه مهال قریش څواکمن ول، ځکه هغوی د کعبـې د متولیـان رول ادا کـاوه. تاریخ ښیي چې رسول الله د کعبـې د بتـانو لـه ختمولـو څخـه ځـان وژغـوری او خپل رسالت یې یوازې د توحید تر نظري دعوت پـوري محـدود کـړ. د افراطـي تګلارې پر ځای سوله ییزه طریقه د پیغمبرۍ لومړنۍ بېلګه ده.

٢) رسول الله صلی الله علیه وسلم په مکـه کـې ١٣ کالـه پـه سـوله ییـز ډول د توحید نظري دعوت وکړ، لېکن پر دې سربېره قریشو د ده په وړانـدې دښـمني اختیار کړه، ان تر دې چې د قریشو مشرانو په خپل منځ کې پـه ګـډه د رسـول الله د وژلو پرېکړه وکړه، ټول سره رایو ځای شول او په مسلح ډول یې د رسـول الله کور محاصره کړ.

www.sikaraam.com

دا ګواکي د رسول الله او صحابه وو لپاره یوه ښکاره ننګونه وه، مګر رسول الله د الله له لارښووني سره سم د جګړې د نه کولو پرېکړه وکړه او په نیمه شپه کي له مکې څخه مدینې ته ولاړ. اسلامي تاریخ دا پېښه هجرت نوموي او هجرت په تمامه مانا سوله ییز حرکت وو.

۳) د خندق یا احزاب غزا هم د دې سنت یوه بېلګه ده. د دې غزا پر مهال د مختلفو قبیلو خلک سره رایوځای شول او د مدینې پر لوري یې حرکت وکړ، دوی غوښتل چي پر مدینه برید وکړي. تاسو وګورئ، دا په څرګنده د مخالفینو له خوا یوه جنګي ننګونه وه، مګر رسول الله صلی الله علیه وسلم د جګړې د مخنیوي په موخه د مخالفینو او خپل تر منځ لویه کنده وکښه، د هغه وخت له حالاتو سره سم دغه کنده د جګړې د مخنیوي یوه ښه طریقه (buffer) وه، په داسي حال کي چي د قریشو لښکر تر کندې ها خوا د څو ورځو لپاره د جګړې په موخه تم هم شو، خو بالاخره مجبوره شول چي بېرته ولاړ شي. د کندې کښل د افراطي عمل په وړاندي د سوله ییز حرکت د انتخاب یوه نمونه ده.

٤) دارنګه د حدیبیې سوله د دغه سنت بله بېلګه ده. د حدیبیې د پیښي پر مهال رسول الله او صحابه وو غوښتل چي مکې ته ولاړ شي او عمره وکړي، مګر د مکې مشرانو په حدیبیه سیمه کي د مسلمانانو د راتګ مخنیوی وکړ، مسلمانانو ته یې وویل چي په هیڅ صورت مکې ته نه شی تلائ، پر کومه لار چي راغلي یاست، بېرته پر هغه لار ولاړ شئ. دا ګواکي د قریشو له خوا د مسلمانانو لپاره یوه جنګي ننګونه وه. که پیغمبر صلی الله علیه وسلم له خپلي غوښتني سره سم پر عمره کولو ټینګار کړی وای، یقیناً به یې له قریشو سره پراخه جګړه رامنځته شوې وای، مګر رسول الله پر حدیبیه نومې سیمه باندي خپل سفر ته د پای ټکی کښېښود او د قریشو له یو اړخیزو شرطونو سره-سره

يې د سولي تړون وکړ. دا پيغمبرانه اقدام په واضح ډول راښيي چي د تشدد په وړاندي بايد سوله ييزه تګلار خپله شي.

٥) د مکې له فتحي څخه هم دا سنت ثابت دی. هغه مهال له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره ١٠زره داسي مسلمانانو ملګري ول چي په تمامه مانا تر سر تېر او قربانۍ ته چمتو ول. مسلمانانو له قريشو سره کاميابه جګړه کولای شوای، لېکن رسول الله د جګړې پر ځای له عدم تشدده کار واخيست، يعني داسي يې ونه کړل چي د دغه ١٠زره کسيز پوځ په مرسته په علني ډول د قريشو په وړاندي له جنګي تصادم سره سم مکه لاسته راوړي، بلکي د تصادم پر ځای يې صحابه دې ته چمتو کړل چي په خپ و چوپ ډول مکې ته داخل شي. مکې ته دغه دخول دومره ناڅاپي وو چي قريشو يې په وړاندي هيڅ ډول جنګي تياری ونه شو نيولای او مکه بې له کوم جګړه ييز تصادمه فتح شوه.

دا هم د تشدد پر ځای د سوله ييزي تګلاري يو څرګند دليل دی. له دغو څو بېلګو څخه معلومېږي چي نه يوازي په عامو، بلکي په نهايي کړکېچنو حالاتو کي هم رسول الله د جګړې پر ځای سوله غوره کړې ده. د دغو دلايلو پر بنياد ويلای شو چي د پيغمبر ټولي برياوي د دغه سنت عملي بېلګي دي.

لکه څنګه چي يادونه وشوه په اسلام کي سوله يو عمومي حکم دی، خو جګړه يوه مجبورانه استثناء ده. د دې حقيقت له مخي اوسني حالات په ډېره ښه توګه تحليلېدای شي او مهمه دا چي په دې مسئله کي پخواني او اوسني حالات خورا ډېر توپير لري. په پخوا زمانه کي تشدد يو عام رواج وو او برعکس سوله ييزه طريقه اختيارول نهايي ستونزمن کار وو، خو اوسني حالات کاملاً له پخوانيو سره فرق لري. نن-سبا متشددانه طريقه تر وروستي حده غيرمطلوبه او غيرمحموده ثابته شوې ده. اوسمهال عدم تشدد د يوازينۍ غوره تګلاري حيثيت لري. په اوسني وخت کي سوله ييزي تګلاري دومره فکري او

عملي تاييدات لاسته راوړي دي چې سوله ييزه مبارزه په خپل ذات کې د يوه نهايي لوی قوت په توګه پېژندل کيږي.

په دغو نوو تاييداتو کې ډېر مسايل شامل دي، مثلاً د بيان آزادي، د مفاهمې له مخې خپل افکار خپرول، د رسنيو قوت په خپله ګټه کارول او ... له دغو نوو تغيراتو سره سوله ييزې تګلارې پر يوه مهال مقبوليت هم ترلاسه کړی او تر ټولو مؤثره هم ثابته شوې ده.

لکه وړاندې چې مې يادونه وکړه د رسول الله صلی الله عليه وسلم تګلار دا ده چې کله سوله ييزه طريقه موجوده (available) وي، نو د اسلامي جدوجهد له مخې بايد يوازې همدا تګلار خپله شي. په اوسنيو حالاتو کې د زماني تغيراتو په پايله کې سوله ييزه تګلار نه يوازې په مستقل ډول ممکنه ده، بلکې د بېلابېلو تاييدي عواملو (supporting factors) پر بنياد يې نهايي مؤثريت هم ترلاسه کړی دی. بې له مبالغې ويلای شم چې په اوسنيو وختونو کې تشدد د يوې ستونزې حيثيت لري او له دې سره-سره کاملاً غيرمفيد هم دی، برعکس سوله ييزه تګلار له آسانتيا سره-سره نهايي اغېزناکه او مؤثره ده. اوسمهال د سوله ييزې تګلارې حيثيت له دوو ممکنه انتخابونو (possible options) څخه نه، بلکې هماغه يوازينی ممکن او اغېزناک انتخاب دی. ويلای شم چې نن-سبا متشددانه عمل متروک شوی دی، يعنې د شريعت له مخې يې منسوخ بللای شو. اوسمهال د مسلمانانو لپاره يوازې د يوې تګلارې انتخاب پاته دی او هغه ببشکه سوله ييزه تګلار ده، مګر نه په هغه صورت کې چې د حالاتو له تغير سره دوهم ځلي بيا د حکم تغير ته مجبور شو.

يقيناً په تېر تاريخ کې ځيني وختونه له تشدد څخه کار اخيستل شوی دی، خو هغه د زماني اسبابو پر بنياد يو مجبورانه انتخاب وو او نن-سبا چې د زماني تغيراتو له امله مجبوري له منځه ولاړه، نو متشددانه تګلار هم غيراړينه او

غیرمسنونه وګرځېده. د اوسنیو حالاتو له کبله اوس یوازې د سوله ییزې تګلارې انتخاب پاته دی، ځکه د جهاد په مسئله کې سوله عمومي حیثیت لري او جګړه یوازې یوه نادرالوقوع استثناء ده.

په اوسنۍ زمانه کې یو زړه راکښونکی مثال د هندي حاکم مهاتماګاندي (مړینه ۱۹٤۸) په ژوند کې موندلای شو. د اوسنیو تغیراتو پر اساس د مهاتماګاندي لپاره دا زمینه برابره شوه چې په هندوستان کې یوه سیاسي مبارزه مخته یوسي او د بریالیتوب تر پوړو یې ورسوي، د ده ټوله مبارزه له پیله تر وروستیو شېبو پورې د عدم تشدد (non-violent method) او سوله ییز عمل (peaceful activism) پر اصولو ولاړه وه.

د فقهې دا یو څرګند اصل دی چې: **تتغير الاحكام بتغير الزمان والمكان** (د زمان او مکان له تغیر سره احکام بدلېږي). د دې فقهي اصل له مخې که زماني تغیرات رامنځته شي، نو د شرعي احکامو لپاره باید انطباق (re-application) ولټول شي، تر څو شرعي حکم له زماني حالاتو سره همږغی شي. دا چې دغه فقهي اصل له نورو معاملاتو سره تعلق لري، نو له جنګي مسئلې سره هم پوره-پوره تړاو لري. د دې اصل غوښتنه همدا ده چې متشددانه تګلار باید پرېښودل شي او یوازې سوله ییزې طریقې ته شرعي جواز ورکول شي.

## اوسني جهادي تنظیمونه

اوسمهال په ډېرو هیوادونو کې د مسلمانانو له لوري مسلح جهادي تنظیمونه فعالیت لري، خو دغه ډول حرکتونه یوازې له دې کبله چې مدعیانو یې له نامه سره د جهاد کلمه سرېښ کړې ده، جهادي نه شو ګڼلای، ځکه د دغسې-حرکتونو لپاره لازمه ده چې په بشپړه توګه پر اسلامي شرایطو برابر وي. که په

www.sikaraam.com

جهاد کي خپل ټاکل شوي شرایط مراعت نه شي، نو دا جهاد نه، بلکي فساد دی او د دې فعالین به جایزه نه، بلکي د الله له خوا یوازي سزا ویني.

د جهاد (د قتال په مانا) شرایط ما په خپلو کتابونو کي په تفصیل سره ذکر کړي دي. دلته یوازي غواړم د دې وضاحت وکړم چي قتالي جهاد د لمانځه او روژې په څېر د انفرادي عمل حیثیت نه لري، بلکي دغه ډول جهاد یو ټولنیز ارزښت لري چي په تمامه مانا د ریاست او حکومت صلاحیت دی.

د جهاد (د قتال په مانا) دغه اصولي حیثیت د قرآن او حدیثو له بېلابېلو نصوصو څخه په څرګند ډول ترلاسه کولای شو، مثلاً په قرآن کي امر شوی دئ چي که د دښمن له لوري د برید وېره وي، تاسي یې په وړاندي عکس العمل مه ښیاست، بلکي د ویري جریان د اولوالامر (حکومت) مخي ته کښېږدئ، تر څو په حکومتي کچه یې د اصلي نوعیت تر سنجولو وروسته په وړاندي معقول او اړین تدابیر ونیول شي. (النساء، ۸۳)

دغه آیت موږ خبروي چي د ویري (جنګي) حالت د رامنځته کېدو په صورت کي ولس له خپلي خوښي سره سم د جګړې پرېکړه نه شي کولای، بلکي دغه ډول ټولنیزه مسئله به حکومت ته وړاندي کوي او حکومت چي کوم تصمیم نیسي، ملت یې ملاتړ کولای شي.

داراز په یو حدیث کي راځي: **انما الامام جنة، یقاتل من ورائه ویتقی به.** (**صحیح البخاري، کتاب الجهاد والسیر، باب یقاتل من وراء الامام، ویتقی به**) (بېشکه امام د سپر حیثیت لري، قتال د هغه تر امر لاندي کیږي او په همدې شکل د ځانونو ساتنه امکان لري). له دې څخه معلومیږي چي جنګي دفاع یوازي د چارواکي تر امر لاندي جواز لري، دولت به اړین تصمیم نیسي- او ولس به یې پیروي کوي.

په فقه کې دا یو متفق علیه مسئله ده چې د جنګ اعلان یوازي برحاله حکومت کولای شي، یعني ولس د دغسي یوې ټولنیزي مسئلې پرېکړه نه شي کولای. په فقه کي دا مسئله په دې ډول ده: **الرحیل للامام** (د جګړې پرېکړه یوازي د وخت چارواکی کولای شي).

اصلاً جګړه د یوه نهایي منظم عمل نوم دی او د دغسي منظم عمل اختیار یوازي حکومت لرلای شي، ځکه نو جنګي اقدام یوازي د حکومت لپاره جایز دی او ولس په هیڅ صورت د جګړې پرېکړه نه شي کولای.

نن-سبا مسلمانان په بېلابیلو هیوادونو کي د جهاد په نامه له حکومتونو سره متشدده مبارزه کوي، مګر له استثناء پرته د هري ډلي مبارزه د فساد حیثیت لري، نه د اسلامي جهاد، دا ځکه چي له دغو څخه یوه هم د "جهاد" لپاره حکومتي ملاتړ نه لري.

اوسني غیرحکومتي جهادي تنظیمونه د "NGOs" له لوري رامنځته شوي دي او له دې لاري مخته وړل کیږي. که بالفرض یوه ډله د حکومت ملاتړ ولري، په دوهم قدم کي د هغې لپاره لازمه ده چې د حکومت د دې ملاتړ اعلان وکړي، په داسي حال کي چي د شریعت له مخي د حکومتونو لپاره هغه مهال جهاد (قتال) روا دئ چي په علني توګه یې مخته وړي. (الانفال، ۵۸) له اعلان پرته د حکومتونو لپاره هم روا نه ده چي په جګړه لاس پوري کړي.

په اوسني وخت کي د مسلمانانو له لوري په مختلفو سیمو کي د جهاد په نامه روانه مبارزه پر دوه ډوله ده، یا خو د بغاوتي جنګ (gorilla war) حیثیت لري یا د غیرعلني جنګ (proxy war). بېشکه په اسلام کي دغه دواړه ډوله جګړې ناروا دي. بغاوتي جګړه ځکه ناروا ده چي د آزادو تنظیمونو له لوري مخته وړل کیږي او غیرعلني جنګ ځکه ناروا دئ چي د دولت له لوري په

غیرعلني ډول راپیل شوی دئ او په اسلام کي له اعلان پرته جگړه ناروا بلل شوې ده.

## د بحث خلاصه

اسلامي جهاد یو مثبت او مسلسل عمل دی چي د مومن په ژوند کي تل جاري وي. دغه مجاهدانه عمل درې برخي لري:

۱) د نفس جهاد، یعني پر خپلو منفي جذبات او دروني نامطلوبو غوښتنو واکمني او په هر حالت کي د الله پر تاکل شوي ژوند پاته کېدل.

۲) دعوتي جهاد، یعني د الله پیغام تر نورو رسول او د هغه لپاره د یو اړخیزي همدردۍ او خیرخواهۍ تر څنګ هڅه. قرآن دا مبارزه "ستر جهاد" بللی دی.

۳) د اعداء جهاد، یعني د دیني مخالفینو په وړاندي پر حق پاتېدل او د دین حفاظت کول. دغه جهاد اصلاً مخکي هم یو سوله ییز عمل وو او اوس هم پُرامنه عمل دی. له دې کبله جهاد یو سوله ییز جدوجهد دی، نه مسلحه مبارزه.

## د سولي کلتور

سوله څه ده؟

علماء د سولي تعریف په عدم جنګ (absence of war) سره کوي او په فني لحاظ دا تعریف پر ځای دی. په کومه ټولنه کي چي تشدد او جنګ نه وي، هغې ته سوله ییزه ټولنه ویلای شو او په کومه جامعه کي چي تشدد نه وي، هلته سوله خپله رامنځته کیږي.

د سولي د قیام پایله یوازي دا نه ده چي په ټولنه کي جګړه یا تشدد پای ته ورسېد، دلته خو یو دا کار وشو چي تشدد له منځه لاړ، دوهم دا چي که په یوه جامعه کي په تمامه مانا سوله تامین شي، نو له هغه سره پرمختګ تړلی دئ او ټول خلک د خپل ژوند په رغنیزو چارو بوختیږي.

www.sikaraam.com

د یوې ټولنې لپاره سوکالي دومره مهمه ده لکه لـه سـیند څخـه چـې بنـد لـیرې کړې. انساني ژونـد د روان سـیند غونـدې پخپـل تـوان دوام غـواړي. د انسـان ژوند یوازې هغه مهال په ټپه دریږي چې په مخ کې یې مصنوعي خنډ رامنځتـه شي، که دا خنډ نه وي، نو په طبیعي ډول به ژوند په منظم شکل مـخ تـه روان وي.

جګړه د ژوندانه د هر عمل لپاره د خنډ حیثیت لري، خو سوله د پایلي لـه مخـې د ژونـد لپـاره هـر ډول خنډونـه لـه منځـه وړي او تـر وروسـتي حـده لاري ورتـه پرانیزي.

سوله په عمومي ډول په عدم جنګ پیژندل کیږي، خـو دا د سـولي یـو محـدود مفهوم دی، حقیقت دا دی چې سوله له ټول انساني ژوند سره تړاو لـري. امـن ذاتاً یوه ایـډیالوژي او د هـر ډول سـتونزي کـیلي (master key) ده، چـې هـره دروازه پـه خلاصـیدای شي. امـن د هـر ډول کـار د بریـالیتوب لپـاره مناسـب چاپیریال رامنځته کوي او پـه دې مـاحول کـې هـرراز کـار شـونی وي، خـو لـه سوله پیز ماحول پرته هر کار ممکن نه وي.

## کاینات یو سوله ییز نظام دی

د قرآن کریم په ۳٦ سورت کې راغلي دي: **لاَ الشَّمْسُ يَنبَغِي لَهَا أَن تُـدْرِكَ الْقَمَـرَ وَلاَ اللَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ وَكُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ.** (یس ۴۰) (نـه لمـر سـپوږمۍ نیـولای (تینګولای) شي او نه شپه تر ورځې وړاندې کېدای شي او ټول (فلکي اجـرام) په خپل-خپل مدار (orbit) کې چورلي (لامبي)).

د قرآن کریم دا آیت فلکیاتو ته په کتو دا رابښیي چې د دنیا نظام هم د سولې د اصولو له مخې رامنځته شوی دی. د کاینـاتو بېلابېـل موجـودات پـه مسلسـل

حرکت کې دي، بیا هم یو شی له بل سره نه ټکریږي. د کایناتو هر جز په خپل-خپل محور کې خپله دنده مخته وړي، د کایناتو هیڅ جز د بل د دندې دایرې ته نه داخلیږي، ځکه خو هیڅ ډول ټکر نه رامنځته کیږي. د دغو اصولو غوندې د انسان لپاره د سولې کلتور ټاکل شوی دی او انسان ته هم ښایي چې د ځان لپاره د کایناتو دا اصول خپل کړي، له تشدد څخه لاس واخلي او د سولې پر لار روان شي.

د کایناتو د سوله ییز کلتور پایله دا شوې ده چې دا نظام له میلیونونو کالو راهیسې دوام لري او هیڅ ډول ټکر نه دی رامنځته شوی چې یو لوی خلل پېښ کړي. که په کایناتو کې تشدد رواج وای، اوس به د ټکر او مخالفت له کبله له منځه تللي وای.

کوم خالق چې کاینات رامنځته کړي دي، هغه ذات انسان هم پیدا کړی دی. دې خالق چې د کایناتو دا پراخ نظام ته د سولې کلتور غوره کړی دی، له انسان څخه هم غواړي چې د امن کلتور خپل کړي، یوازې په دې توپیر سره چې د کایناتو په پاته برخه کې د سولې فرهنګ په فطري ډول قایم دی، خو انسان یو آزاد مخلوق دی، ځکه باید پخپله خوښه او د خپلې پریکړې له مخې د ژوند لپاره د سولې کلتور خپل کړي.

## قرآن کریم؛ د سولې کتاب

قرآن کریم له شک پرته د سولې کتاب دی، نه د جنګ او تشدد کتاب. د قرآن ټول بیانات په مستقیم او غیرمستقیم ډول پر امن راڅرخي. د دې کتاب لومړنۍ جمله "**بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الـرَّحِيم**" ده، یعنې الله نهایي مهربان او نهایي رحم کوونکی دی. په بله مانا ویلای شو، کوم خالق چې دا کتاب رالېږلی

دی، د هماغه خالق تر ټولو لویه ښېګڼه رحمت دی او دا کتاب د رحمت د ښېګڼې مظهر دی.

د قرآن ټول آیتونه په مستقیم او غیرمستقیم ډول د سولې پر لارښوونو ولاړ دي. قرآن ټول ۶۲۳۶ آیتونه لري، له دغو څخه په مشکله څلوېښت داسي آیتونه موندلای شو چې د قتال (جنګ) امر کوي، یعني تر یو فیصد هم لږ آیتونه د جنګ اړوند دي، نو په دقیق ډول ویلای شو چې د قرآن د نورو آیتونو په نسبت د جنګ هغه یوازې صفر اعشاریه شپږ فیصده (۰.۶ percent) دي.

کوم څوک چې قرآن د الله کتاب ګڼي، نوموړی تر هغه وخته حقیقي مومن پاته کېدای شي چې د قرآن د دې لارښوونې پیروي وکړي او په تمامه مانا امن خوښوونکی واوسي او په هیڅ حالت کې متشددانه تګلار خپله نه کړي.

دلته دا یادونه اړینه ده چې خلک باید د اسلام او مسلمانانو تر منځ توپیر وکړي، یعني د مسلمانانو اعمالو ته د اسلامي تعلیم نوم ورنه کړي، یعني د مسلمانانو اعمال باید د اسلام له مخې وارزول شي، نه دا چې اسلام د مسلمانانو د اعمالو له پلوه وپېژندل شي. اسلام یوه نظریه ده او یو کس تر هغه مهاله مسلمان پاتېدای شي چې د اسلامي لارښوونو پیروي وکړي، خو کوم څوک چې اسلامي لارښوونو ته شا کړي، هغه له اسلام سره هیڅ تړاو نه لري، که څه هم ځان ته به د اسلام د اتل نوم ورکوي.

## د سولې او تشدد تر منځ توپیر

سوله ییز عمل انسان ته لارې پرانیزي او افراط د مقابل لورې په وړاندې جارحانه عمل دی. امن خوښوونکی تر عمل مخکې فکر کوي، مګر متشدد انسان تر فکر کولو وړاندې په عمل لاس پورې کوي. سوله ییز عمل په

لومړیو کې هم له هیلو ډک وي، په اخر کې یې هم امېد وي، خو افراطي مبارزه په لومړیو کې فرضي هیلي لري او په پای کې یوازي مایوسي.

امن خوښوونکی انسان پر حقایقو ولاړ وي او متشدد انسان پر دروغو. سوله بیزه لار له سره تر پایه پرانیستې وي، خو متشدده تګلار له خنډونو او موانعو ډکه وي. په سوله کې تل رغنیز کارونه سرته رسیږي، خو تشدد له تخریب پرته بل څه نه وي. امن خوښوونکی انسان د نورو په مینه پایي او متشدد انسان په نفرتونو کې راایسار وي. د امن پسندۍ پایله بریالیتوب وي، مګر تشددپسندي پر شرمندګۍ پای ته رسیږي.

په سوله ییز محیط کې هیڅ کار نه خرابیږي، خو په تشددپسندۍ کې هیڅ کار نه سمیږي او هر عمل خرابیږي. سوله د انسانیت او تشدد د حیوانیت تګلار ده. سوله ییز اعمال د قانون په چوکاټ کې سرته رسیږي او د متشددانه اعمالو پر مهال قوانین تر پښو لاندي کیږي.

سوله خوښوونکی انسان تل تر مسایلو مواقعو ته ترجیح ورکوي او متشدد انسان فرصتونه شا ته پریږدي او د مسایلو پر خلاف په بې ګټو شخړو بوختیږي. سوله ییز حرکات د میني باغ اوبوي او متشدد عمل د نفرت او دښمنۍ ځنګله ته اوبه ورکوي. سوله ییز فرهنګ د فرشتو کلچر دی او د تشدد کلتور د شیطانانو فرهنګ.

په سوله ییزه فضا کې هم د الله حقوق پر ځای کیږي او هم د انسان حقوق او د تشدد په صورت کې هم د الله د حقوقو مخالفت کیږي او هم د انسانو د حقوقو. سوله که جنت وګڼو، تشدد دوزخ بللای شو.

امن او جګړه یو شان نه دي. امن د انسان لپاره یو غوره انتخاب (choice) دی او جنګ یوازې د دې ثبوت دی چې انسان غوره انتخاب له لاسه ورکړې او د انتخاب په ازموینه کې ناکام شي.

په نړۍ کې ډېر شیان عملاً شتون لري، خو هغوی یوازې د ازموینې لپاره وي، نه مطلوب شیان. مثلاً په دنیا کې شراب شته، خو د دې لپاره نه دي چې انسان یې استعمال کړي، بلکې د دې لپاره دي چې انسان له هغه څخه په ځان ژغورنې دا ثابته کړي چې د ښه او بد تمیز کولای شي. کټمټ دا مسئله د جګړې هم ده. د جګړې مسئله که څه هم د استعمال وړ ده، خو د انسان لپاره غوره تګلار دا ده چې له جګړې څخه مخ واړوي.

په پخوانیو وختونو کې د جګړې جواز یوازې په دفاعي حالت کې ورکول شوی وو او هغه هم یوازې د قانوني اړتیا (law of necessity) له مخې وو، خو په اوسنۍ زمانه کې دا اړتیا کاملاً له منځه تللې ده او جګړې ته هیڅ ځای نه پاتېږي.

## سوله غوره ده

قرآن د فطرت یوه اصل ته په دې الفاظو اشاره کړې ده: **وَالصُّلْحُ خَيْرٌ**. (النساء، ۱۲۸) (سوله غوره ده). د سولې مطلب روغه-جوړه (reconciliation) ده. سوله تل د جانبینو تر منځ کیږي. که د دوو لورو تر منځ مناقشه رامنځته شي، نو یوه طریقه دا ده چې دواړه لورې متشددانه تګلار خپله کړي او دوهمه طریقه دا ده چې د تفاهم له مخې د شخړې حالت له منځه یوسي. که څه هم لږ وختونه داسې پیښیږي چې دا مصالحت د جانبینو تر منځ یو شان وي، خو

ډېرى مهال مصالحت په يو اړخيز ډول رامنځته کيږي، يعني يو لورى خپلې غوښتني شا ته وغورځوي او د دې بل د غوښتني مطابق پرېکړه وکړي.

پوښتنه دا ده چې دا ډول مصالحت ولي غوره بلل شوى دى؟ د دې لامل دا دى چې د جګړې په صورت کي رغنيزي چاري په ټپه دريږي او پر مصالحت د راضي پاته کېدو ګټه دا ده چې انسان خپل وخت او قوت د دې پر ځاى چې پر شخړې يې ولګوي، پر تعميري هڅو مصرفوي. غيرمصلحانه طريقه تل له زيان سره تړلې وي او مصلحانه روش له ګټو ډک وي.

انساني تاريخ ښيي چې تل هغو انسانانو او ډلو بريا ترلاسه کړې ده چې مصلحانه اسلوب يې اختيار کړى وي. په دې دنيا کي هيڅ انسان د منازعې په اختيارولو سره د کاميابۍ پوړو ته نه دى رسېدلى.

سوله ځکه دومره مهمه ده چې انسان ته دا فُرصت په لاس ورځي چې مواقع په ښه شکل په خپل حق کي استعمال کړي، مګر د ټکر په حالت کي تل داسي پيښيږي چې خپل ټول قوت د نورو پر تخريب تيريږي. د پرمختګ راز د ځان په رغونه او استحکام کي دى، نه د مفروضه دښمنانو په بربادۍ کي.

## په ځمکه کي د فساد له منځه وړل

د قرآن دوهمه شمېره سورت په ځمکه کي د فساد له منځه وړل په دې الفاظو بيان کړي دي: **وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لاَ تُفْسِدُواْ فِي الأَرْضِ قَالُواْ إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ.** (البقره، ١١) (که هغوى ته وويل شي چې تاسي په ځمکه کي فساد مه کوئ، نو هغوى وايي موږ خو مصلحين يو).

د قرآن له دې آیت څخه مراد هغه خلک دي چې ظاهراً يې د يوه اصلاحي هدف لپاره پاڅون کړی وي، خو طريقه او انداز يې ناسم وي او داسې طريقه يې غوره کړې وي چې له مخې يې عملاً فساد او اختلافاتو ته لمن وهل کيږي. په دې آيت کې له فساد څخه مراد دا دی چې د دغو کسانو د ناسمې طريقې له امله په خلکو کې خپلمنځي اختلافات رامنځته کيږي، په خلکو کې له يو-بل سره نفرتونه وده کوي، د خلکو اخلاقي احساسات کمزوري کيږي، د انسانانو منفي نفسيات وده کوي، دا ډول ټول مسايل په ځمکه کې د فساد حيثيت لري، دا ځکه چې د دې مسايلو له امله ټولنيز امن له منځه ځي، ان تر دې اندازې چې له امله يې شخړې او جګړې ته نوبت رسيږي.

د قرآن له دې لارښوونې څخه څرګنديږي چې د يوه غوره عمل لپاره يوازې دا بسنه نه کوي چې ظاهراً دې د يوه ښه هدف لپاره پيل شوی وي، بلکې دې ته هم بايد وکتل شي چې د اصلاح په نوم له دغه فعاليت څخه څه ډول پايلې لاس ته راوړل کيږي. که فرضاً د دې فعاليت له امله په خلکو کې اختلافات او نفرتونه زيږي، پر دې سربېره چې د اصلاح نوم به لري، مفسدانه فعاليتونه يې نومولای شو او دا ډول خلک د انسانيت په وړاندې مجرمين دي، نه د انسانيت مصلحين او خادمان.

هر اصلاحي کار تر هغه مهاله اصلاحي عمل بللای شو، څو چې د سولې او انسانيت په چوکاټ کې وي. د اصلاح په نوم هر هغه عمل چې په جامعه کې امن له منځه وړي او مالي و ځاني زيان ورسره تړلی وي، غلط دی. اصلاح بايد د پايلي له مخې اصلاح وي، خو کوم اصلاحي حرکت چې د نتيجې له مخې فساد وي، که هر څومره په ښو الفاظو بيان شي، بيا هم د حقيقت له اړخه فساد دی.

www.sikaraam.com

## د توطيې خاتمه

د قرآن کريم په ۳ سورت کي راغلي: که تاسي صبر وکړئ او د الله تقوا غوره کړئ، نو هيڅ ډول دسيسه به تاسي ته زيان ونه شي رسولای. (آل عمران، ۱۲۰) د قرآن دا آيت مو د ژوندانه يو مهم حقيقت ته پام اړوي، هغه دا چي په دنيا کي د شخص يا يوې ټولني په وړاندي اصلي مسئله دا نه ده چي دښمنان يې په وړاندي دسيسې جوي کړي، بلکي اصلي مسئله دا ده چي په هر شخص يا ډله کي هغه صبر او محتاط روش موجود نه دی چي هره توطيه له ناکامۍ سره مخ کړي.

په دې دنيا کي که توطيه د باران حيثيت ولري، نو صبر او تقوا د پوخ چت حيثيت لري او دا يو څرګند حقيقت دی چي باران يوازي د هغو خلکو لپاره ستونزه وي چي پاخه چتونه يې نه وي جوړ کړي، مګر کومو کسانو چي پاخه چتونه جوړ کړي وي، د هغوی لپاره باران هيڅ ډول ستونزه نه شي رامنځته کولای.

د دې دنيا نظام د سيالۍ (competition) پر بنياد جوړ شوی دی، ځکه خو په فطري ډول د دوو اړخونو تر منځ رقابت رامنځته کيږي او بالاخره همدا رقابت د دسيسې تر حده رسيږي. کوم څوک چي له داسي يوه حالت سره مخ شي، بايد د دښمن د دسيسې پر ځای يې د فطري قانون اظهار وګڼي. سازش ته د دښمن په نظر کتل انسان د تشدد لوري ته بيايي او سازش د فطري قانون پايله ګڼل بايد انسان ته دا ذهنيت ورکړي چي د تدبير له مخي يې له اغېز څخه ځان وژغوري، کټمټ لکه يو څوک چي د باران په وړاندي د احتجاج پر ځای له باران څخه د خلاصون له امله د کور يا چت د پخولو انتظام وکړي.

## د افراط ممانعت

د قرآن کریم په څلورم سورت کې راغلي دي چې: **لاَ تَغْلُواْ فِي دِينِكُمْ**. (**النساء، ۱۷۱**) (تاسي په خپل دین کي غُلُو مه کوئ). دا خبره په یو حدیث کي هم راغلې ده: پیغمبر فرمايي: **اياكم والغلو فى الدين، فانما هلک من كان قبلكم بالغلو فى الدين**. (**النسائي، کتاب المناسک، ابن ماجه، کتاب المناسک، مسند احمد ۳۷۴/۲۱۵**) (تاسي په دین کي له غُلُو څخه ځانونه وژغورئ، ځکه پخواني امتونه په دین کي د غلو له امله هلاک شول).

غُلُو شدت او افراط (extremism) ته ویل کیږي. افراط په هره مسئله کي ناسم کار دی. افراط د دین د اصلي روح خلاف عمل دی. د افراط وروستی حد جګړه ده. کوم کسان چي د افراطي نفسیاتو ښکار وي، هغوی د خپل ځانګړي مزاج پر بنیاد د اعتدال پر روش قناعت نه کوي، هغوی د سولي او اعتدال تګلوری تر معیار ټیټ ګڼي، ځکه نو په ډېري اسانۍ د تشدد خوا ته مایل کیږي او د اهدافو د ترلاسه کولو په نوم په جګړه لاس پوري کوي.

د غُلو ضد کلمه اعتدال ده. کومو خلکو چي د اعتدال نفسیات خپل کړي وي، هغوی تل د سوله ییز انداز له مخي فکر کوي او خپل جدوجهد د سوله ییزو هڅو پر بنیاد سرته رسوي. حقیقت دا دی چي امن او اعتدال تر وروستي حده له یو-بل سره تړلي دي. په کوم ځای کي چي اعتدال موجود وي، هلته امن حاکم وي. په کوم ځای کي چي سوله وي، هلته اعتدال حاکم وي.

برعکس د غلو نفسیات تل انسان افراط او انتهاپسندۍ ته بیايي او افراط په ډېري اسانۍ د تشدد او شخړي لار خپلوي. غلو او تشدد له یو-بل سره نهایي ژوري اړیکي لري، ځکه په دین کي غلو ډېر ناوړه عمل بلل شوی دی. ویل

کېدای شي چې د غلو خوښوني دوهم نوم تشددپسندي ده او د غلو نه کولو دوهم نوم اعتدال خوښونه ده.

## د یوه انسان وژنه؛ د ټولي نړۍ وژنه

د قرآن کریم په پنځم سورت کي راغلي دي: **مَن قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا**. (**المائده، ٣٢**) (که کوم څوک بل کس ووژني، پرته له دې چي قتل يې کړی وي يا يې په ځمکه کي فساد خپور کړی وي، ګواکي ټول انسانان يې ووژل).

وژنه یو نهایي خطرناک او ناوړه عمل دی. وژنه یوازي هغه مهال جواز لري چي یو کس د ټولنیز امن لپاره یو لوی خنډ وي او د سولي د ثبات لپاره یې د ناسور حیثیت خپل کړی وي. له جواز پرته د یوه انسان وژنه د ټولو انسانانو له وژلو سره برابره ده، ځکه له دې سره د انسانیت د احترام اصل له منځه ځي، که څه هم د یوه انسان په ناحقه وژل ظاهراً یو اسانه عمل ګڼل کيږي.

د شرابو د منعي په حدیث کي راغلي دي: **ما اسکر کثیره فقلیله حرام** (د کوم شي ډېره فیصدي چي نشه ولري، د هغه لږه اندازه هم حرامه ده). د قتل مسئله هم همدا ده. د ډېرو کسانو وژنه چي څومره ناوړه عمل دی، د یوه انسان وژنه هم په هماغه اندازه لوی جرم دی. د دواړو تر منځ توپیر یوازي د ډیګری دی، د نوعیت له مخي په دواړو کي هیڅ ډول توپیر نه شته.

د قرآن کریم له دې آیت څخه څرګندیږي چي په اسلام کي امن او سولي ته زیات اهمیت ورکول شوی دی. د اسلام غوښتنه دا ده چي که په ټولنه کي یو انسان ووژل شي، نو ټوله جامعه دي غمشریکي ورسره وکړي، ځکه نو مهمه ګڼل شوې ده چي په ټولنه کي دي د سولي او ثبات لپاره تر وروستي حده هلي

www.sikaraam.com

ځلي وشي او د يوه انسان وژنه د ټول انسانيت له وژني سره معادله ګڼل شوې ده.

## د تشدد اوروژنه

د قرآن کريم په پنځم نمبر سورت کې راغلي دي: **كُلَّمَا أَوْقَدُواْ نَارًا لِّلْحَرْبِ أَطْفَأَهَا اللّهُ.** (**المائده، ٦٤**) (کله چې هغوی د جنګ اور ته لمن وهي، نو الله هغه اور وژني).

د قرآن کريم له دې آيت څخه معلومېږي چې د خالق ټول پلانونه د امن پر اصولو ولاړ دي. د دې مطلب دا دی چې کله يو اړخ اور ته د لمن وهلو لپاره اماده وي، مقابل لوری دي د سوله ييز تدبير پر ځای د تشدد اور نه تازه کوي او هيڅکله بايد داسې ونه شي چې که يو لوری له سوک څخه کار اخلي، مقابل اړخ يې هم په سوک مقابله کوي. د خالق په ځمکه کې د ژوندانه غوره طريقه دا نه ده چې د سوک ځواب په سوک وويل شي، بلکې سمه او مطلوبه تګلار دا ده چې سوک شنډ کړل شي.

دغه خدايي اعلان ښيي چې د سوک بدله په سوک ورکول شيطاني طريقه ده. د دې برعکس الله دا خوښوي چې د سوک اغېز له منځه يووړل شي او د سوک اثراتو ته د پای ټکی کېښېښودل شي، تر څو محيط ورسره خراب نه شي.

په ټولنه کې د ناسمو حالاتو منځته راتګ کاملاً يوه فطري پديده ده او هيڅ انساني ټولنه له ناسمو خبرو او حالاتو څخه پاکه نه ده. د داسې يوه حالت اصلي حل دا نه دی چې د ناسمو حالاتو د له منځه وړلو لپاره هلې ځلې وشي، بلکې بنسټيز حل يې دا دی چې پر ناسمو حالاتو د خراب حالت اضافه ونه

www.sikaraam.com

شي، د سوک بدله په سوک ورنه کول شي او د غیرعادي حالت د خپرېدو مخنیوی وشي. د داسي مسایلو یوازینی حل همدا دی او بله هیڅ حللار نه لري.

## تر اصلاح وروسته فساد

د قرآن کریم په اووم نمبر سورت کي راغلي دي: **وَلاَ تُفْسِدُواْ فِي الأَرْضِ بَعْدَ إِصْلاَحِهَا ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ.** (**الاعراف، ۸۵**) (په ځمکه کي وروسته تر هغه چي اصلاح رامنځته شوې وي، فساد مه کوئ، دا ستاسي لپاره غوره ده، که تاسي مؤمنان یاست).

د قرآن په دې آیت کي اصلاً یو فطري حقیقت اعلان شوی دی، ځمکه چي انسان پکي آباد دی، د خپل تخلیق له مخي اصلاح یافته ځای دی. په دنیا کي هر شی د خپلو اصولو له مخي رامنځته شوی دی او انسان چي په ځمکه کي هر کار کوي، باید د فطري نقشې پر اصولو برابر وي. که چا له فطري اصولو څخه سرغړونه وکړه، پایله به یې دا وي چي اصلاحي نظام به له منځه ولاړ شي او ناسم حالات به حاکمیت ترلاسه کړي.

مثلاً په دنیا کي تر فطري نظام لاندي ګڼ شمېر کارونه سر ته رسیږي، د ځمکي مسلسل څرخ، له لمر څخه رڼا ترلاسه کول، هوا، باران، د سیندونو بهېدل، د نیالګیو او ونو اوبېدل او دې ته ورته نور کارونه په ځمکه کي په مسلسل ډول دوام لري. دغه ټول کارونه تر وروستي حده په سوله ییز ډول مخته روان دي، هیڅ ځای پکي تشدد نه شته او نه پکي له یو-بل سره ټکر رامنځته کیږي.

همدا د اصلاح طریقه ده. انسان ته ښايي چې پر همدې لار ولاړ شي. له تشدد او ټکر څخه په بشپړه توګه پرهيز وکړي او هري هڅې ته د امن د اصولو له مخې دوام ورکړي. کوم څوک چې د دې اصولو مخالفت وکړي، یقیناً په ځمکه کي فساد رامنځته کوي او په هیڅ صورت یو اصلاحي نظام نه شي رامنځته کولای.

## اعراض؛ نه جګړه

د قرآن کريم په اووم سورت کي راغلي دي چې: **وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ.** (**الاعراف، ۱۹۹**) (له ناپوهانو څخه مخ واړوه).

د اعراض یا مخ اړولو مطلب د ځان ساتنه (avoidance) ده. د اعراض ضد لغت تصادم (confrontation) دی. د اعراض طريقه انسان د سولي تر دايرې محدودوي او د تصادم تګلار انسان متشدد عکس العمل ته اړباسي.

په نړۍ کي هيڅ انسان او ډله يوازي نه ده، هر سړی بېل-بېل اهداف لري او هر چا جلا-جلا تګلار جوړه کړې وي، همدا وجه ده چې انسانان بار-بار له يو-بل سره ويني او له امله يې ځيني وختونه په کشمکش اخته کيږي.

په داسي حالاتو کي د انسان لپاره دوې لاري دي، اعراض یا تصادم. له دې پرته دريمه لار نه شته. که انسان د تصادم لار خپله کړي، نو د دواړو اړخونو تر منځ جګړه صورت نيسي. د تاريخ تجربه دا ده چې د جګړې په صورت کي يوازي د زړه بړاس ايستل کيږي او هيڅ ګټه نه لري. بناءً انسان ته ښايي چې له تصادمه ځان وژغوري او د اعراض طريقه خپله کړي. له جنګ څخه مخ اړول نه يوازي دا چې انسان له ډېر زيان څخه ژغوري، بلکي دا موقع هم ورکوي چې د خپل پرمختګ سفر ته له خنډونو پرته دوام ورکړي. له ټکر څخه

د مخ اړولو هدف له بېځایه تصادم څخه د ځان ژغورنه ده او خپل سفر ته له خنډ پرته دوام ورکول دي.

## زغم؛ د پرمختګ راز

د قرآن کريم په ۸ سورت کي راغلي دي چي: وَاصْبِرُواْ إِنَّ اللّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ. (**الانفال**، ۴۶) (زغم وکړئ، ځکه الله له صابرينو سره دی).

د يو روايت له مخي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي: **واعلم أن فی الصبر علی ما تکره خيرا کثيرا وان النصر مع الصبر وأن الفرج مع الکرب وان مع العسر يسرا**. (**مسند احمد، الجزء ۳۰۷/۱**) (پوه شئ چي پر ناخوښه شي زغم ستاسي لپاره لويه ښېګڼه ده او بريالیتوب له زغم سره مل وي او ابادي له تکليف سره).

اکثره خلک چي کله له ستونزمنو حالاتو يا يوې ترخې تجربې سره مخ شي، نو د وارخطايۍ له مخي د تشدد ښکار شي، خو دا ډول عکس العمل له فطرت څخه د ناخبرۍ پايله ده. حقيقت دا دئ چي د فطرت قانون تل له حقپلوو سره مل وي. حقپلوی فرد يا ډله که له عجلې څخه کار وانخلي او د زغم لمن ونيسي، خامخا يې بريالیتوب په برخه کيږي.

ډېری وختونه ناکامي د هغو خلکو په برخه وي چي له عجلې څخه کار اخلي او تر وخت وړاندي په توند اقدام لاس پوري کوي. برعکس کوم کسان چي د تحمل لار خپلوي، د هغوی لپاره تل داسي اسباب منځته راځي چي د بريالیتوب پوړو ته يې رسوي.

د قرآن له مخي د زغم ضد کلمه عجله ده (الاحقاف، ۳۵) مطلب کوم څوک چي د زغم روش خپل کړي، هغه د فطرت د نقشې پيروي کوي او کوم څوک

www.sikaraam.com

چې د عجلې طریقه اختیار کړي، اصلاً د فطري نقشې مخالفت کوي او کوم ځوک چې له فطري نقشې ځخه لیرې شي، د هغه لپاره په دې دنیا کې بریالیتوب ناممکن دی.

## د شخړې مخنیوی

الله د قرآن کریم په ۲۲ سورت کې فرمایي: **فَلاَ یُنَازِعُنَّکَ فِي الأَمْرِ وَادْعُ إِلَى رَبِّکَ**. (**الحج**، ۶۷) (دوی دې ستا سره په هیڅ صورت نزاع نه کوي او ته خلک د الله لورې ته راوبوله).

په دې آیت کې د نزاع نه کولو مطلب دا دئ چې هغوی ته د نزاع موقع مه ورکوه. یعنې کله چې ستا او د مقابل لورې تر منځ اختلافي مسئله رامنځته شي، په سوله ییز ډول یې د خبرو په حدود کې حل کړه. په هیڅ صورت داسې مه کوه چې اختلاف له ابتدایي حده تر عملي نزاع پورې ورسیږي او د متشددانه سیالۍ نوبت راشي.

د دنیا دستور دا دئ چې د دوو ډلو تر منځ په یو ډول نه یو ډول تشنج یا هیجان رامنځته کیږي. اصلاً تشنج په خپل ذات کې یوه فطري پدیده ده او دا په هر حال او هر مقام کې رامنځته کېدای شي، خو مهمه دا ده چې دغه تشنج یا اختلاف تر حد وانړول شي. اختلاف د امن په چوکاټ کې ساتل د هغه د حدودو مراعتول دي. د اختلاف عملي ټکر یا د تشدد تر حده رسېدل د هغه له حدودو ځخه تجاوز دی. د حدودو په چوکاټ کې هیڅ اختلاف ناوړه کار نه دی، مګر د حدودو ماتولو په صورت کې هر ډول اختلاف بد دی.

د قرآن کریم دا آیت اصلاً د یو باهدفه انسان د عمل طریقه راښیي. کوم انسان چې د یو ښه هدف لپاره لاس په کار شوی وي، د بریالیتوب لپاره یې

اړینه ده چي د دواړو تر منځ یوازي هغه مسئله تر بحث لاندي ونیول شي چي اصلي هدف وي. د جانبینو تر منځ پر غیرهدفي مسئلې بحث د باهدفه انسان لپاره د زهرو حیثیت لري.

پوښتنه دا ده چي د دواړو تر منځ سوله ییزه فضا څنګه رامنځته کېدای شي. ځواب دا دئ چي دغه فضا یوازي د هغه انسان د یو اړخیز زغم له مخي رامنځته کېدای شي چي د مثبت هدف لپاره یې پاڅون کړی وي. عملاً له دې پرته بل هیڅ صورت نه شته. د باهدفه انسان لپاره ښايي چي د یو اړخیز اعراض په مرسته د ځان او مقابل لوري تر منځ معتدل ماحول رامنځته کړي، تر څو سفر یې له خنډ پرته په مسلسل ډول دوام ولري.

## جګړه صرف د دفاع په خاطر

د قرآن کریم په ۲۲ سورت کي راغلي دي چي: **أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا.** (**الحج**، ۳۹) (هغو کسانو ته د جګړې اجازه ورکول شوه، د کومو په وړاندي چي جنګ روان دی، ځکه هغوی مظلوم دي).

اصلاً د قرآن کریم دا آیت د یوه نړیوال قانون بیان دئ او له دې څرګندیږي چي روا جګړه یوازي هغه ده چي د څرګند تېري د دفاع په خاطر رامنځته شي. بله هررنګه جګړه د ظلم حیثیت لري او د ظالمانو لپاره د الله په دې پراخه دنیا کي هیڅ ځای نه شته. د دې آیت مطابق له دفاعي جګړې پرته بله هیڅ ډول جګړه توجیه کېدای نه شي.

د قرآن کریم مطابق دفاعي جګړه هم باید په علني ډول وي، یعني له اعلان پرته روا نه ده او دا هم یوازي د برحاله حکومت کار دی. عام خلک د هیڅ عذر پر بنیاد د جګړې اجازه نه لري. د قرآن له دغو لارښوونو څخه معلومه شوه

چي د جګړې د ټاکلو اصولو له مخي او د مجبورۍ په صورت کي له دفاعي جګړې پرته هر ډول جګړه ناروا ده. د بیلګي په توګه بغاوتي، نیابتي، غیرعلني او جارحانه جګړې، دا ټولي جګړې په اسلام کي له شک پرته ناروا دي.

جنګ یو حیواني عمل دی، نه انساني عمل. حقیقت دا دئ چي د فطرت د ابدي قانون له مخي امن د عموم (rule) حیثیت لري او جګړه یوازي یوه استثناء (exception) ده. سوله په هر حال کي د خپلولو وړ ده او جنګ یوازي د اشد ضرورت پر مهال د ځان د ژغورني لپاره کیږي، هغه هم داسي مهال چي له ټکر څخه د اعراض ټول سوله ییز تدابیر ناکام شوي وي.

## زغم؛ یوه مرستندویه لار

د قرآن کریم په ۸ سورت کي ویل شوي دي چي: **وَاصْبِرُواْ إِنَّ اللّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ.** (**الانفال**، ۴۶) (د زغم تګلار خپله کړئ، بیشکه الله له هغو کسانو سره دئ چي د صبر روش یې خپل کړی وي).

صابرانه طریقې ته په بل مفهوم سوله ییزه تګلار هم ویلای شو. د دې په مقابل کي بله تګلار متشددانه طریقه ده. پورتنی آیت د فطرت هغه اصول راښیي چي په دنیا کي کوم څوک سوله ییز عمل خپلوي، د هغه د ملاتړ لپاره د فطرت ټول اسباب مهیا کیږي. د دې برعکس کوم څوک چي متشددانه تګلار خپلوي، هغه د فطرت له قوانینو څخه محرومیږي او کوم څوک چي له فطري قوانینو څخه محروم شي، د هغه لپاره په دنیا کي له ناکامۍ او بربادۍ پرته بل څه نه شته.

د صبر تګلار دا ده چي انسان پر ناخوښو مسایلو برسېره خپل برداشت له لاسه ورنه کړي، تر څو د فکر مثبت اړخ یې درهم برهم نه شي او د ممکن و

www.sikaraam.com

ناممکن تر منځ په توپیر کولو ممکنات خپل کړي. د عاجلي پـایلي غوښـتونکی ونه اوسي، بلکي د تدریج لار اختیار کړي. پـر زیـان مایوسـه نـه شي، بلکـي د راتلونکي په اړه فکر وکړي. کوم څه چي اوس ترلاسه کېـدای شي، هغـه اوس ترلاسه کړي او کوم څه چي سبا ترلاسه کیږي، د هغـه لپـاره د انتظـار پالیسي- خپله کړي. خپلي غوښتني د فطري قـانون تـابع وګرځـوي، نـه دا چـي فطـري اصول د خپلو غوښتنو تـابع کـړي. حقیقـت دا دئ چـي زغـم پـه بشـپړ ډول یـو مثبت عمل دی.

## د سوله ییز فکر وده

د قرآن کریم ۲۵ سورت د حق خاوندان مخاطب کړي دي: **وَجَاهِدْهُم بِـهِ جِهَـادًا كَبِيرًا.** (**الفرقان**، ۵۲) (له هغوی سره په دې (قرآن) ستر جهاد وکړه).

څرګنده ده چي قرآن کریم کومه وسله نه ده، بلکي یو نظریاتي کتـاب دی. لـه دې امله د قرآن په ذریعه د جهاد مطلب یوازي او یوازي دا کېدای ښي چي په سوله ییز ډول دي د قرآن پیغام او افکار تر خلکو پـوري ورسـول سي او د قـرآن احکام دي په مدلل ډول د خلکو په منځ کي بیان کړل شي، څو قـرآني احکـام خلکو ته د منلو وړ وګرځي.

لـه دې آیـت څخـه څرګنـده شـوه چـي پـه اسـلام کـي سـوله ییـزي مبـارزې (peaceful struggle) ته جهاد ویل شوی دئ او دا سوله ییزه مبارزه لـه تشـدد سره هیڅ تړاو نه لري. په عـربي کـي جهـاد هغـي هڅـي تـه ویـل کیـږي چـي مبالغه آمېز شکل ولري، یعني ډېر کوښښ کول، یا د یوه هدف لاس تـه راوړلـو لپاره تر وروستي حده هڅه کول.

له دې آیت څخه دا هم معلومیږي چې تر متشدد عمل سوله ییز هغه ډېر غوره دی. کوم څوک چې افراطي طریقه خپله کړي، نو د کوښښ دایره یې محدودیږي، خو کوم څوک چې سوله ییز لار خپل کړي، د هغه د هلوځلو دایره تر وروستي حده پراخیږي. په افراطیت کې یوازې له وسلو کار اخیستل کیږي، لېکن په سوله ییزو هڅو کې د انسان لپاره هر شی سبب او وسیله جوړیږي، ان په بنده خونه کې قلم هم په کار راځي.

## دښمن د ځان ملګری کول

د قرآن کریم په ۴۱ سورت کې راغلي دي چې: نېکي او بدي سره برابر نه دي، بدي په نېکي ځواب کړه، ناڅاپه به دې هغه څوک چې ستا او د ده تر منځ دښمني وي، ټینګ دوست شي. (حم السجده، ٣٤)

د قرآن کریم په دې آیت کې د فطرت له یوه راز څخه یادونه شوې ده. هغه راز دا دئ چې د هر دښمن په درون کې یو دوست انسان پټ وي. که ته هغه پټ دوست انسان ولټوې، وبه وینې چې په معجزوي توګه به ستا هغه انسان چې ظاهراً دي دښمن ګڼلی وو، نژدې ملګری وګرځي.

اصلاً دښمني فطري پدیده نه ده، بلکې یو مصنوعي عکس العمل دی. کله چې په ظاهري توګه کوم څوک ستا دښمن وګرځي، نو ته د هغه په وړاندي له عکس العمل څخه کار مه اخله، بلکې له هغه سره د ښه چلند کوښښ وکړه، که څه هم دغه غوره سلوک ستا د فرضي دښمن په وړاندې یو اړخیز وي.

ستا یو اړخیز چلند د دښمن منفي احساسات وژني او د دښمن ویده انسانیت یا جذبات راویښوي او یو نوی انسان ورڅخه جوړوي او دا به هغه نوی انسان وي چې قرآن کریم ستا د نژدې ملګري په توګه یاد کړی دی.

www.sikaraam.com

حقیقت دا دئ چي هر زېږېدونکی انسان له یوه ګډ فطرت سره دې دنیا ته راځي. هر انسان لومړی یو خالص فطري موجود وي، خو وروسته دښمن یا دوست وګرځي. له دې ښکاري چي ته خپله د ځان فرضي دښمن هم یې او کوم څوک چي دي فرضي دښمن دی، هماغه ته خپله یې. له همدې کبله باید انسان له ظاهري دښمنۍ سره-سره په سیال اړخ کي د خپل ګډ انسانیت په لټه وي او له نورو څخه هم هغه هیله ولري چي له ځان څخه یې لري.

## د خپلو اعمالو پایله

د قرآن کریم په ۴۲ سورت کي ویل شوي دي: له کومي بدبختۍ سره چي مخ کېږئ، هغه ستاسو د اعمالو پایله وي. (الشوری، ۳۰)

د قرآن دا آیت له دې حقیقت څخه یادونه کوي چي دا دنیا د اسبابو او علتونو پر بنیاد ولاړه ده. څنګه چي اسباب وي، هماغسي پایله. دا آیت راښیي چي که کوم څوک له یوې بدبختۍ سره مخ شي، نو هغه باید په خپل ځان کي د بدبختۍ د سبب په لټه شي، نه دا چي له ځانه بهر د سبب په تلاښ وي.

د ژوندانه دا حقیقت که د کوم انسان په ذهن کي ځای پیدا کړي، نو هغه انسان داسي نه کوي چي کوم بل څوک د خپلي ستونزي مسئول وګڼي او د هغه په وړاندي له تشدده کار واخلي، بلکي سنجیده انسان د خپل ژوند اړخونه ګوري او خپلي تېروتني پلټي، څو د خپلو تېروتنو په اصلاح سره له بدبختیو ځان وژغوري.

د خپلو تېروتنو پرځه پر نورو اچول او د هغوی پر خلاف عملي اقدام کول داسي مثال لري لکه یو څوک چي ګاونډی د خپلي ناروغۍ مسئول وګڼي او له هغه سره په جګړه شي.

www.sikaraam.com

که د کوم ښار موټران د ټرافیکي اصولو له مخي پر راسته لاس (keep right) چلیږي، که یو څوک همالته پر چپه لاس (keep left) روان شي، یقیناً به له ټرافیکي حادثې سره مخ شي.

دا ټرافیکي پیښه که څه هم د مقابل لوري د ټکر له امله رامنځته کیږي، مګر چپلاسی حق نه لري چي ووایي د مقابل لوري د ټکر له امله ټپي شوی دی. برعکس باید ووایي چي دی پر غلط لوري روان وو او مقابل لوری پر سمه لار او له همدې امله د مقابل لوري موټر د ده له هغه سره ټکر وکړ.

دا اصول د ژوندانه پر ټولو اړخونو راځرخي. په ژوند کي چي کله هم له کوم زیان سره مخ شئ، نو دا فکر باید وکړئ چي دا هر څه ستاسي د تېروتنو پایله ده او اصلاً دا د ژوندانه په مسایلو کي صحیح فکر دی. که تاسي د مسایلو سم درک ولرئ، نو د هر کار په اصلاح کولو سره راتلونکی تضمینولای شئ. که برعکس د خپلو تېروتنو پړه پر نورو اچوئ، خپل راتلونکی هم بربادوئ او ماضي و حال خو مو مخکي له مخکي وران دي.

## غوسه؛ یوه کمزوري

د قرآن کریم ۴۲ سورت د غوره انسانانو تعریف په دې ډول کوي: وَإِذَا مَا غَضِبُوا هُمْ يَغْفِرُونَ. (الشوری، ۳۷) (کله چي هغوی ته غوسه ورشي، نو معافي کوي).

له دې څخه مطلب یوازي دا نه دئ چي هغوی غوسه معافوي، بلکي مهم ټکی دا دئ چي دا کسان د غوسې پر نفسیاتو او غوښتنو پښه ږدي او دوهم دا چي پر غوسه ناک حالت سربېره له داسي تدبیره کار اخلي چي غوسه پکي ځای ونه لري او له قهر څخه په غیرمتاثر ډول د هري مسئلې ځواب وایي.

www.sikaraam.com

غوسه کمزوري ده او غوسه نه کول یو ځواک دی. انسان که د غوسې په حالت کې نه وي، هر ډول حالت تنظیمولای او قابو کولای شي او هره مسئله د خپلې خوښې مطابق مخته وړلای شي. قهر د انسان عقل ورګډوډوي او غوسه ناک انسان یوه مسئله نه په ښه ډول سنجولای شي او نه یې په سم شکل ځواب ویلای شي. که یو څوک په غوسه شي، نو سمدستي تشدد ته لاس اچوي، په داسې حال کې چې تشدد د هیڅ مسئلې حل نه دی. کوم څوک چې د خپلې غوسې مخنیوی وکړي، هغه اصلاً د موضوع سوله ییز حل لټوي او پُرامنه حلالر د هرې مسئلې یوازینۍ غوره لار ده.

د انسان ذهن له ډېرو ځواکمنو صلاحیتونو څخه ډک دی. که انسان له غوسې څخه کار وانخلي، د دې وړ ګرځي چې د ذهن پټ صلاحیتونه په ښه ډول په خپل حق کې وکاروي، خو که په غوسه شي، نو د ذهن توازن یې له منځه ځي او د صلاحیتونو د استعمال وړتیا پکې نه پاتېږي. غوسه نه کول بریالیتوب دئ او غوسه کول ناکامي ده.

## پر حق پاته کېدل

د قرآن کریم په ۱۰۳ سورت کې ویل شوي دي: هغه څوک دي چې له زیان څخه ځانونه ژغوري او د بریالیتوب ژوند غواړي. په دې باب د قرآن کریم الفاظ په دې ډول دي: وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ. (العصر، ۳) (هغه کسان چې یو-بل ته نصیحت او یو-بل ته د صبر تلقین کوي).

کوم کسان چې د حقایقو لپاره مبارزه کوي یا خلک سمې لارې ته رابولي، تل یې په وړاندې دسیسې جوړېږي او د خلکو له لورې له ډول-ډول مزاحمتونو سره مخ کېږي. په داسې حالت کې د حقپلوې انسان کار دا دئ چې له زغم

څخه کار واخلي، هر ډول ستونزي وزغمي او د دې هڅه ونه کړي چې د خپلو ستونزو پرړه پر نورو ورواچوي.

زغم د غیرجارحانه طریقې دوهم نوم دی. مطلب دا چې حقپرست انسان ته ښايي د تشدد په وړاندي له تشدده کار وانخلي، بلکي په یو اړخیز ډول سوله ییزه طریقه خپله کړي.

حق او تشدد سره یو ځای کېدای نه شي. کوم څوک چې د حق په لټه وي، هغه به خامخا د تشدد لمن پرېږدي. له تشدد څخه که د هر عذر پر بنیاد کار واخیستل شي، بیا هم تشدد دی. هر تشدد په ټولیز ډول تباه کوونکی دئ او هیڅ ډول معقول عذر تشدد له تباه کوونکو اثراتو څخه نه شي ژغورلای.

د حق د پیاوړتیا په نوم تشدد کول خپله د حق نفي کول دي. کوم کسان چې د حق په نوم له تشدده کار اخلي، هغوی دا په اثبات رسوي چې خوځښت یې د حق لپاره نه دی. حق خوښوونکی انسان هیڅکله تشدد خوښوونکی نه شي کېدای. کوم څوک چې تشدد خوښ کړي، هغه یقیناً حق نه خوښوي، که څه هم ځان ته د حق د اتل نوم ورکړي.

## د سولي بیه

هر شی بیه لري. انسان یو شی هغه مهال ترلاسه کولای شي چې بیه یې ادا کړي. په دې دنیا کي هیڅ مطلوب شی د قیمت له ادا کولو پرته نه شي ترلاسه کېدای. سوله هم له دې اصل څخه مستثنی نه ده او ځانګړې بیه لري. یو فرد یا ټولنه هغه مهال سوله لاس ته راوړلای شي چې ځانګړې بیه یې ادا کاندي. د سولي بیه د زیان زغمل دي.

دا حقیقت د قرآن کریم په ۲ سورت کي په دې ډول بیان شـوی دی: مـوږ دي خامخا ازمایو، د دښمن په ډار او په لوږي او د مالونو په لړوالي او په نفسونو او مېوو سره او صابرینو ته زېری ورکړه، دا هغه کسان دي چي کله مصیبت ورتـه ورسیږي، هغوی وایي موږ د الله یو او د هغه لـوري تـه سـتنیږو. (البقـره، ۱۵۵-۱٦۵)

د قرآن کریم دې آیت د ژوندانه یو حقیقت په ګوتـه کـړی دی، هغـه دا چـي د دنیا نظام پر ځانګړو اصولو ولاړ دی. د دغو اصولو له مخي انسانان له بېلابېلـو زیـانونو سره مـخ کیـږي، د خلکـو لـه خـوا لـه ننګوونـو سره مـخ کیـږي، کلـه د اقتصادي ستونزو ښکار ګرځي، کله له یوې ناوړې پېښي سره مخ کیـږي، کلـه له داسي ګټي څخه بې برخي شي چي خپل حق يې ګڼي او ...

انسان په دنیا کي د فطري اصولو له مخي خامخا له ګڼ شمېر ناخوښـه تجربـو سره مخ کیږي، که په داسي حالت کي زیان ونـه زغمـل شي، نـو د دې پـایلي نوم تشدد دی، که وزغمل شي، نو سوله ییز محیط پر خپل ځای پاتیږي.

د زیان په وړاندي له زغم څخه کار اخیسـتل اصـلاً د همـت او لـوړي حوصـلې خبره ده او دا حقیقت باید پـه اختیـاري ډول تسـلیم شي. د دې مطلـب دا دئ چي که څوک کوم شی له لاسه ورکړي، باید یقین ولري چي نور هـم لـه داسي وسایلو څخه برخمن دئ چـي د هغـوی پـه ذریعـه خپـل ژونـد تـه لـه سره دوام ورکولای شي.

د انسان لپاره د صبر او زغم ګټه دا ده چي که يې مطلوب شی له لاسه ووځي، بیا هم اعتـدال لـه لاسـه نـه ورکـوي. انسـان پـر تېـري ناکـامۍ سربېـره خپـل صلاحیت لاس تـه راوړي، تـر څـو موضـوع پـه معتـدل شـکل تـر غـور لانـدي ونیسي او له خپلي خوښـي سره سـم يـې وڅېـړي او لـه سره مـنظم پـلان جـوړ

www.sikaraam.com

کړي. له تېرو تجربو څخه راتلونکی وسنجوي او د مایوسۍ پر ځای د تدبیر له مخې بیا د ژوند سفر پیل کړي.

د دې دنیا یوه ښېګڼه دا ده چې تر هرې شپې وروسته یو روڼ سهار پیلیږي. دنیا له امکاناتو او فرصتونو څخه ډکه ده. دلته چې انسان کله یوه موقع له لاسه ورکړي، حتماً له بل فرصت سره مخ کیږي. له یوې موقع څخه تر محرومیت وروسته د دوهم فُرصت دروازه پرانیستل کیږي. همدارنګه په دنیا کې تکراراً داسي امکانات رامنځته کیږي چې د یوې لارې له بندېدو سره بله لار پرانیستل شي.

حقیقت دا دئ چې په نړۍ کې له هر بد خبر سره یو ښه خبر ملګری وي. هره حادثه په خاموشۍ انسان ته دا زېری ورکوي چې خواشینی او مایوسه کېږه مه، بلکې له همت څخه په کار اخیستنې نوي فرصتونه ولټوه. که دي همداسي وکړل نو د فطرت نظام مخکې له مخکې دا زېری درکوي چې د مستقل محرومیت ښکار نه یې، بلکې ډېر ژر د خپل ځان لپاره یوه نوې دنیا جوړوې او ډېر ژر به خپله ناکامي یوه رهنما درته ثابته شي.

کوم کسان چې زیان ونه زغمي، د منفي فکر ښکار ګرځي، آخر خپل ژوند یو بوج ورته ښکاري او د نورو د اوږو بار هم ګرځي. برعکس کوم کسان چې د زغم او همت لار خپله کړي، د خپل تېر په ویرانه کې د ځان لپاره نوی محل جوړوي او تر تیارې وروسته د یوه نوي سهار په لټه وي، تر څو د لمر په رڼا کې خپل سفر ته له خنډ پرته دوام ورکړي.

## د سولي وړانديز

د رسول الله په زمانه کي د قريشو د تېري په پايله کي د مسلمانانو او هغوی تر منځ د جګړې حالت رامنځته شو. پر دې مهال چي د قرآن کريم کوم احکام نازل شوي دي، له هغوی څخه يو په دې ډول دی: وَإِن جَنَحُواْ لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ (۶۱) وَإِن يُرِيدُواْ أَن يَخْدَعُوكَ فَإِنَّ حَسْبَكَ اللّهُ. (الانفال، ۶۲-۶۱) (که هغوی د سولي لپاره راولاړ شي، تاسي هم د امن لپاره راپاڅئ او پر الله باور ولرئ، بېشکه هغه اورېدونکی، د پوهي خاوند دی. که هغوی تاسي ته دوکه درکول غواړي، نو الله ستاسي لپاره کافي دی).

د قرآن کريم له دې آيت څخه معلومېږي چي په اسلام کي امن تر وروستي بريده مطلوب دی، ان تر دې چي که د سولي له قيام سره خطرات هم غوټه وي، بيا دي هم سوله وشي. د جګړې په حالت کي که مقابل لوری د سولي وړانديز وکړي، نو بې له ځنډه دي ومنل شي. که فرضاً دا انديښنه وي چي مقابل لوری د سولي له وړانديز سره د دوکي پلان لري، بيا دي هم د دې باور له مخي چي الله له امن خوښوونکو سره دی، سوله وشي.

له دې څخه دا هم ښکاري چي په دنيا کي تل هغه خلک چي د زغم خاوندان وي، سوله قايموي. په نړۍ کي همېشه د دوو ډلو تر منځ بېلابېل مسايل منځته راځي او د حقوقو او بې انصافۍ موضوعات رامنځته کېږي، په داسي حالاتو کي تل هغه کسان د امن هڅي کوي چي خپلي غوښتني تر پښو لاندي کوي او لوړ افکار لري. يوازي دا ډول باحوصله کسان سوله حاکمولای شي. کوم کسان چي له زغمه بې برخي وي، يوازي جګړې کوي او د سولي تاريخ نه شي جوړولای.

www.sikaraam.com

## ډېره شتمني

د قرآن کریم ۲۰ سورت د پیغمبر په مخاطبولو سره د ژوند یو حقیقت راپه ګوته کوي: وَلاَ تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَى مَا مَتَّعْنَا بِهِ أَزْوَاجًا مِّنْهُمْ زَهْرَةَ الْحَيَاةِ الدُّنيَا لِنَفْتِنَهُمْ فِيهِ وَرِزْقُ رَبِّكَ خَيْرٌ وَأَبْقَى. (طه، ۱۳۱) (ته په هیڅ صورت هغو شیانو ته مه ګوره چې موږ ځینو ډلو ته د ازمویني لپاره ورکړي دي او ستاسي د رب رزق ډېر غوره دئ او نور پاتېدونکي دي).

ژوند دوه بېل اړخونه لري، يو دا چې انسان مادي نړۍ خپل هدف وټاکي او په مال و شتمنۍ کې خپل بریالیتوب ولټوي. په دې شیانو کې تل د یوه او بل تر منځ توپیر وجود لري. پر دې سربېره په همدې مادي شیانو کې تل د غورځاڼ پروسه دوام لري. ځکه نو کومو کسانو چې د مادیاتو لمن نیولې وي، په کُلي ډول د حق تلفۍ او محرومیت ښکار وي. همدا احساس په تکراري ډول د حسد، انتقام او تشدد په بڼه راڅرګندیږي.

د ژوند دوهم اړخ دا دئ چې انسان د لاسته راوړنو یا بریاوو په احساس کې ژوند تېروي. دا ډول انسان په طبیعي ډول ډاډ ترلاسه کوي، همدا مثبت احساس انسان ته موقع نه ورکوي چې له نورو خلکو څخه نفرت وکړي یا یې په وړاندې له تشدده کار واخلي.

د بریا دا احساس هغه کسان ترلاسه کوي چې قرآن د رب د رزق په ډول یاد کړی دی. د رب له رزق څخه موخه دا ده چې انسان باوري شي چې ده د ربښتینولۍ پله نیولې ده او په دې پوه شي چې خالق کوم وجود ورکړی، هغه د سرو زرو تر ذخیرې هم ګران بیه دئ او په داسې مثبت ذهن په دنیا کې ژوند وکړي چې کاینات د هغه د فکري او روحاني سکون سبب وګرځي.

کوم څوک چې د مادیاتو په باب دا ډول فکر ولري، هغه ته مال او شتمني غوندي شیان حقیر معلومیږي. دا ډول نفسیات له هغه څخه خپله یو امن خوښوونکی انسان جوړوي. وروسته د هغه لپاره نفرت او تشدد دومره بې مانا ګرځي چې دې ته وخت نه لري چې له نورو څخه نفرت وکړي یا د نورو په وړاندې له تشدده کار واخلي. کوم چا ته چې باکیفیته شی ورسیږي، نو بې کیفیته شي ته په هیڅ صورت نه ګوري.

## سوله؛ د ژغورني ذریعه

په قرآن کې راغلي دي چې یو قوم خپل پیغمبر ته وویل: **وَلَوْلاَ رَهْطُكَ لَرَجَمْنَاكَ.** (هود، ۹۱) (که ستا دا قبیله نه وای، موږ به ته سنګسار کړی وای).

د پیغمبر ساتنه چې کومې قبیلې کوله، هغه قوم ایمان نه وو راوړی، خو پر دې سربېره یې د کلیوالي دود له مخې د پیغمبر ساتنه کوله. همدا حقیقت په یوه حدیث کې په دې ډول بیان شوی دی: **ما بعث الله نبیا الا فی منعة من قومه.** (**مسنداحمد**۲/۵۳۳) (الله هر پیغمبر له ځانګړي حفاظت سره رالیږلی دی).

په پخوا زمانه کې د اوس غوندې حکومتي نظامونه نه ول. خلکو کلیوالي ژوند درلود. په دغه ډول کلیوالي ژوند کې هرې قبیلې له بلې څخه د خپلو خلکو د ژغورنې مسئولیت درلود. په هغه زمانه کې د پیغمبرانو د ژغورنې لپاره له همدې څواک څخه کار اخیستل کېدی. خپله رسول الله د بنوهاشم د سردار ابوطالب له خوا ساتل کېدی او له دښمنانو څخه یې ژغوری. ابوطالب که څه هم د ژوند تر پایه ایمان رانه ووړ، مګر د هماغه دود له مخې یې د مخالفینو په وړاندې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم ساتنه کوله. (د ابن هشام سیرت، لومړی ټوک، ۲۸۱ مخ)

www.sikaraam.com

په اوسني وخت کي کليوالي ژوند له منځه تللی دی، خو د دولت په اړه نوی تصور دا دئ چي بې پرې نظام د مسلمانانو او داعيانو لپاره د ژغورني دا چاره سرته رسولای شي. د نن زمانې بې پرې حکومتونه خپلو ټولو وګړو ته دا زمينه برابروي چي هر مذهب خپلولای او د هر مذهب تبليغ کولای شي او هيڅوک يې مخه نه شي نيولای، يوازي په دې شرط چي مذهبيان يا داعيان به د نورو په وړاندي له تشدده کار نه اخلي.

په پخوا زمانه کي چي پيغمبرانو کوم ډول خونديتوب ترلاسه کړی وو، هغه يو کليوالي دود وو، نه اسلامي خونديتوب، خو بيا هم پيغمبرانو دا ساتنه منلې وه. نن-سبا چي مسلمانانو کوم تحفظ ترلاسه کړی دی، هغه بې پرې تحفظ دی. د پيغمبرانو د سنت له مخي مسلمانانو ته ښايي چي د همدې تحفظ د ترلاسه کولو په صورت کي په سوله ييز ډول دعوت وکړي. خو له بده مرغه د ټولي نړۍ مسلمان رهبرانو بې پرې نظامونه په لادينه هغو تعبير کړل او د هغوی په وړاندي يې په لفظي و عملي ډول جګړه پيل کړه او په بې مانا ډول د بې پرې حکومتونو حريفان شول او د بې پرې نظام له برکته د ترلاسه شوي تحفظ له استعماله بې برخي شول.

## د انسانانو لپاره رحمت

الله د قرآن کريم په ۲۱ سورت کي پيغمبر ته فرمايي: **وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلاَّ رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ.** (**الانبياء**، ۱۰۷) (موږ ته دنياوالو ته د رحمت په ډول لېږلی يې).

دنيا ته د پيغمبر راتګ د ټولو انسانانو لپاره د رحمت ظهور دئ او الله د پيغمبر په واسطه د ژوند هغه اصول راته په ګوته کړل چي له خپلولو سره يې انسان په (دارالسلام) (يونس، ۲۵) کي ژوند ته ادامه ورکولای شي، يعني په سوله ييز

www.sikaraam.com

چاپېریال کې د ژوندانه غوراوی. حقیقت دا دئ چې د رسول الله په ذریعه هغه لارښوونې رالېږل شوي دي چې له انساني ټولنې څخه یوه سوله ییزه معاشره جوړوي. پیغمبر په تاریخي لحاظ په لومړي ځل له امن (peace) څخه جوړه یوه بشپړه ایډیالوژي وړاندي کړه. رسول الله د ژوند هغه فارموله راته وښوده چې انسان د دې وړ ګرځوي چې له نفرت او تشدد څخه په ځان ژغورنې سره د ژوند لپاره یو مناسب چاپېریال رامنځته کړي. پیغمبر دا وښوده چې انسان د یوې بشپړې سوله ییزې ټولنې د رامنځته کېدو وړ دی.

رسول الله ځیني وختونه جګړو ته اړایستل شوی دی، خو هغه جنګونه دومره کوچني ول چې هغوی ته باید د جګړو پر ځای تصادم کلمه وکارول شي. پیغمبر یو لوی انقلاب رامنځته کړ او دا یو غیرخوني انقلاب ( bloddless revolution) وو.

رسول الله امن ته د ژوندانه د یوې بشپړې تګلارې حیثیت ورکړی دی. پیغمبر ویلي دي چې افراط د تخریب ذریعه ده او امن د ترقۍ لامل دی. پیغمبر صبر تر ټولو لوی عبادت بللی دئ او که وکتل شي د صبر موخه په بشپړ ډول دا ده چې انسان سوله ییزه تګلار خپله کړي. رسول الله فساد تر ټولو لوی جرم بللی دئ او فساد دې ته ویل کیږي چې د سولې فطري نظام له منځه یووړل شي. رسول الله سولې ته دومره ارزښت ورکړی دئ چې د یوه انسان قتل یې د ټولو انسانانو له وژلو سره برابر بللی دی.

رسول الله په لیده کاته کې د السلام علیکم کلمه دود کړه او د دې کلمې هدف دا دئ چې د انسانانو اړیکي د امن پر بنیاد ټینګې کړي. رسول الله د اخرت بریالیتوب د انسانانو د زیار پایله وبلله او د دې فکر ریښې یې له منځه یووړې چې انسان دي یوازې مادیات د ژوند هدف وټاکي، ځکه ډېر کله د مادیاتو پر سر د انسانو تر منځ جګړې رامنځته کیږي. رسول الله د غوره

ژوندانه داسي فارموله راته په ګوته کړه چي انسان باید له ځانه داسي څوک جوړ کړي چي نورو خلکو ته يې ګټه ورسيږي. که انسان فرضاً نورو ته ګټه نه شي رسولای، نو له زيان رسولو څخه دي ځان وژغوري. رسول الله ويلي دي هيڅوک د ځان دښمن مه ګرځوه، بلکي له دښمن سره ښه چلند وکړه، درته څرګنده به شي چي هر دښمن د امکان په ډول (potentially) ستا دوست وو. د هر دښمن په درون کي يو دوست انسان پټ وي.

## جهاد سوله ييزه مبارزه ده

ملا علي قاري يو مشهور عالم او فقيه دئ چي بشپړ نوم يې علي بن (سلطان) محمد، نورالدين الملا الهروي القاري دی. ملا علي قاري په هرات کي زېږېدلی دئ او په ۱۰۱۴ هـ (١٦٠٦ ء) کي په مکه کي وفات شوی دی. هغه پر بېلابيلو اسلامي موضوعاتو کتابونه ليکلي دي. (کتاب الاعلام)

د ملا علي قاري يو کتاب مرقاة المصابيح نوميږي چي د مشکاة المصابيح شرح ده. نوموړی په دې کتاب کي د جهاد تر عنوان لاندي ليکي چي جهاد د لغت له لحاظه جدوجهد او مشقت ته ويل کيږي. تر دې وروسته ليکي چي: **ثم غلب فی الاسلام علی قتال الکفار**. (يعني وروسته په اسلام کي د جهاد کلمه د کفارو پر ضد د جګړې لپاره وکارول شوه).

هره کلمه لغوي او استعمالي ماناوي لري. اوس کتمټ د جهاد کلمه هم له همدې مسئلې سره مخ ده. د جهاد کلمه له جهد څخه جوړه ده او لغتاً کوښښ ته ويل کيږي چي د مبالغې مفهوم پکي نغښتی دی. د استعمال له لحاظه دا کلمه د بېلابيلو هڅو لپاره کارول کېدای شي، چي له هغوی څخه يو جنګ هم دی، خو پر دې سربېره يې استعمال تر داسي يوې استثنايي جګړې پوري

محدود دئ چي د الله په لار کي شوې وي، مګر کومه جګړه چي د مال و شتمنۍ د ترلاسه کولو لپاره کيږي، هغه ته په هيڅ صورت جهاد نه شو ويلای.

په قرآن کريم کي په دې باب دوې جلا-جلا کلمې (جهاد او قتال) کارول شوي دي. په کوم ځای کی چي هدف سوله ييزه مبارزه وي، هلته د جهاد کلمه کارول شوې ده. مثلاً د قرآن په واسطه سوله ييزه دعوتي مبارزه (الفرقان، ۵۲)، خو کوم ځای چي د قرآن هدف جګړه وي، هلته د قتال کلمه کارول شوې ده. مثلاً د آل عمران ۱۲۱ آيت، خو په تدريجي ډول په مسلمانانو کي د جهاد کلمه د قتال په مانا وکارول شوه. که بالفرض د جهاد د کلمې استعمال سم وګڼل شي، پر دې سربېره به هم دا د جهاد د کلمې يو پراخ استعمال وي.

د حقيقي مفهوم له مخي جهاد د سوله ييزي مبارزې نوم دی. جهاد د انسان د ذهنيت او روحاني حالت د بدلولو لپاره کيږي، نه د انسانوژني لپاره.

## د سولي ارزښت

رسول الله تر وروستي حده امن خوښوونکی انسان وو. پيغمبر د مخالفينو له خوا ځو ځلي دې ته مجبور شو چي له هغوی سره په جګړه کي ښکېل شي، مګر هغه په تکراري ډول له جګړې څخه پرهېز کاوه، خو ځيني وختونه د دښمن له خوا د يو اړخيز تېري له مخي دې ته مجبور شوی دئ چي په دفاعي جګړې لاس پوري کړي. له هغو دفاعي جګړو څخه يوه هم د بدر غزا وه.

تاريخ ښيي چي يو وخت د مسلمانانو او مخالفينو پوځونه د جګړې لپاره مخ په مخ ولاړ ول. پر همدې مهال پيغمبر ته ملايکه راغله او ورته ويې ويل اې

محمده! الله تا ته د سلام (سلامتۍ) پيغام رالېږلی دی. د الله رسول د دې خبري له اورېدو سره وويل: **هو السلام ومنه السلام واليه السلام.** (**البداية والنهاية، الجزء الثالث، ۲۶۷ مخ**) (الله سلامتي ده او د خدای له لوري سلامتي ده او د هغه لوري ته سلامتي ده).

له دې پيښي څخه ځرګنده شوه چي ان د جګړې پر مهال هم پيغمبر ته د سوله ييز انسان پاته کېدو حکم شوی دی. دا خبره د ډېر پام وړ ده چي د جګړې په دومره اضطراري حالت کي د رسول الله ذهن د نفرت او تشدد ښکار نه شو او پر همدې مهال يې د سولي او سلامتۍ په باب فکر کاوه. په دې حالت کي لا هم رسول الله دا هيله درلوده چي د الله په مرسته سوله ييز چاپېريال جوړ شي او غوره انسان هغه دئ چي د جګړې پر مهال د امن په باب فکر وکړي.

دا څه عادي خبره نه ده، بلکي د مثبت فکر (positive thinking) يوه لويه بېلګه ده. ځرګنده ده چي جګړه تر ټولو لوی منفي عمل دئ او رسول الله د جګړې پر کنده ولاړ وو، خو له خولې څخه يې د تشدد د کلماتو پر ځای د سلامتۍ او امن الفاظ راوتل. له شک پرته دا د انسان لويه ښېګڼه ده. ښه انسان هغه دئ چي په افراط کي د سولي طرفدار وي او په جنګي حالت کي د سوله ييزي مبارزې په لټه وي.

## د الله يو نوم سلامتي دی

په قرآن کريم کي د الله بېلابېل نومونه يا صفات ياد شوي دي چي له هغوی څخه يو السلام (سلامتي) دی. يعني پخپله الله د سلامتۍ او امن مظهر دی.

الله تر دې حده د سولې او سلامتۍ طرفدار دئ چې ان خپل نـوم يـې السـلام ايښی دی.

الخطابي د دې آيت په تفسير کې ليکلي دي: **معناه الذی سلم الخلق مـن ظلمـه.** (**الجامع لاحکام القرآن للقرطبی، الجزء ۱۸، ۴۶ مخ**) (هغه هسـتي چـې انسـانان يې له ظلم څخه خوندي وي).

الله د انسانانو لپـاره د يـو لـوی معيـار حيثيـت لـري. دا چـې لـه انسـانانو سره د خدای سلوک د سولې پر اصولو ولاړ دی، نو انسانو ته هم ښايي له نـورو خلکـو سره سوله ييز چلند وکړي. ټول انسانان بايد له يو-بـل سره د سـختۍ او تشـدد پر ځای د امن او سلامتۍ له تګلارې کار واخلي.

## پياوړی انسان

پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايي: **ليس الشـديد بالصـرعة، انمـا الشـديد الـذی يملک نفسه عند الغضب.** (**البخاري، کتاب الادب، مسلم، کتاب البـر، موطـا کتـاب الجامع، مسند احمد**) (هغه څوک پياوړی نه دئ چې د جګړې پـر مهـال سـيال اړخ ته ماته ورکړي، بلکې ځواکمن انسان يوازې هغه دئ چې د قهر پر مهـال د خپلې غوسې مخنيوی وکړي).

د خـپلې غوسـې مخنيـوی د ځـان کنټرولولـو (selfcontrol) نښـه ده او د ځـان قابول کول له شک پرته لوی ځواک دی. د غوسې پر مهال د ځان قابو کول د انسان د ناوړه کارونو مخنيوی کـوي او کـوم څـوک چـې دا ښـېګڼه ونـه لـري، خامخـا متشـددانه عمـل تـه لاس اچـوي. د غوسـې مخنيـوی اصـلاً د سـوله خوښوونکي انسـان تګـلار ده او د غوسـې پـر مهـال بـې قـابو کېـدل د متشـدد انسان نښه ده.

که یو انسان بل ته په جګړه کې ماته ورکړي دا یوازې د دې ثبوت دئ چې د سیال اړخ په وړاندې له جسماني اړخه قوي دی، خو جسماني ځواک یوه محدوده پیاوړتیا ده. برعکس کوم څوک چې خپله غوسه قابو کړي او له مقابل لوري سره معتدل چلند وکړي، نو داسې انسان د ډېر لوی ځواک څښتن دی. د هغه دا روش د دې څرګندویي کوي چې له ځان سره د عقل لوی ځواک لري او د عقل پیاوړتیا بېشکه تر جسماني قوت لوړه ده. داسې انسان د خپلې پوهې په مرسته په هره جګړه کې بریالی کېږي، پرته له دې چې وینه وبهېږي.

## د ټولنیز امن فارموله

دا چې د ټولنیز امن فارموله څه ده او په ټولنه کې معتدل حالات څنګه رامنځته کېدای شي، په دې اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: **ان الفتنة نائمة لعن الله من ايقظها** (**حدیث**) (فتنه ویده ده، پر هغه شخص د الله لعنت دئ چې ویده فتنه راپاڅوي).

دا د ټولنیز امن یوه فطري قاعده ده چې په هر انسان کې د ځانغوښتنې (ego) احساس موجود وي. که دا احساس راوپارول شي، نو د فساد سبب ګرځي. که څه هم دا جذبه په هر انسان کې په طبیعي ډول موجوده وي، خو د تخلیقي نظام د اصولو له مخې دا احساس ویده وي. په داسې حالت کې له یوې ټولنې څخه هغه مهال سوله ییزه معاشره جوړېږي چې دغه احساس یې همداسې ویده پرېښودل شي.

هغه کسان ټولنیز امن له منځه وړي چې د ځانغوښتنې احساس یې غالب وي، خو که دا احساس له راپارولو څخه وژغورل شي، نو په ټولنه کې د سولې

www.sikaraam.com

رېښتې پراخېږي. له دې څخه معلومېږي چې په ټولنه کې د سولې حاکمیت ستاسو په واک کې دی، نو تاسو ته ښايي چې د خپلې مثبتې تګلارې له مخې د نورو د ځانغوښتنې احساس راونه پاروئ او په داسې حالت کې یقیناً تاسې د هغه له شره خوندي پاته کېدای شئ.

## د چوپتیا اهمیت

د چوپتیا له اهمیت څخه په بېلابېلو حدیثونو کې یادونه شوې ده. د یو روایت له مخې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: **من صمت نجا**. (**الترمذی، کتاب القیامة، الدارمی، کتاب الرقاق، مسنداحمد**) (کوم څوک چې چوپ پاته شو، ځان یې وژغوری).

د دې مطلب دا نه دئ چې انسان دې له خبرو لاس واخلي، بلکې د چوپتیا له اختیارولو سره باید د سوچ او فکر کولو موقع ترلاسه کړي، یعنې انسان باید لومړی سوچ وکړي او وروسته عکس العمل وښيي او دا له شک پرته د انسان غټه ښېګڼه ده. انسان باید دا عادت خپل کړي چې د ډېرو خبرو پر ځای چوپتیا غوره کړي او که خبرې کوي یوازې یې باید هغه مهال وکړي چې د سوچ او فکر کولو تر مرحلې تېر شوی وي.

دا عادت هغه مهال خپلېدای شي چې انسان هره ورځ د معمول له مخې په خبرو کې دې ټکي ته پام وکړي. که انسان په ورځنیو مسایلو کې دا ټکی مراعت کړي، نو د عادت له مخې هغه مهال هم له دې تاکتیکه کار اخیستلای شي چې له یوې نادرې پېښې سره مخ شي.

په عمومي ډول خلک داسې کوي چې کله له یوې مسئلې یا خبرې سره مخ شي، نو سمدستي هغه ډول ځواب ورکوي چې ذهن ته یې ورځي او له خولې

يې راباسي يا عکس العمل ښيي، په داسي حال کي چي دا د عکس العمل ناسمه طريقه ده. ښه طريقه دا ده چي لومړی فکر وسي او وروسته خبري يا عکس العمل وښوول شي. کوم څوک چي لومړی سوچ او وروسته په عمل لاس پوري کوي، هغه به چنداني پر خپلو تېرو خبرو پښېمانه نه شي او د خپلو کړو خبرو راګرځولو ته به اړ نه شي، په داسي حال کي چي تيري خبري بېرته نه راګرځي.

په عمومي توګه خلک داسي کوي چي کله له يوې بوږنوونکي پيښي سره مخ شي، ناسم او توند عکس العمل ښيي. له داسي حالت څخه د ځان ژغورني اسانه طريقه دا ده چي انسان په خپلو ورځنيو خبرو کي دا عادت خپل کړي چي لومړی سوچ او وروسته خبري وکړي. کله چي انسان دا عادت خپل کړي چي په عامو حالاتو کي لومړی سوچ کوي او وروسته خبري، نو د خپل دې عادت له مخي په ناسمو حالاتو کي هم د دې عادت پابندي کوي. په عامو حالاتو کي پر خپلو خبرو واک درلودل انسان ته دا وړتيا ورکوي چي په کړکېچنو پيښو کي هم پر ځان کنټرول ولري او د خبرو پر مهال ذهني توازن وساتي.

په دنيا کي ډېری فتنې له الفاظو څخه زېږي. ځيني الفاظ د نفرت او تشدد احساسات راپاروي او ځيني بيا د امن او انسانيت ماحول رامنځته کوي. که انسان تر خبرو وړاندي فکر وکړي او پر خپلو احساساتو حاکميت ولري، نو اکثره فتنې تر رامنځته کېدو وړاندي شنډېږي.

پر خپل ځان تر حاکميت وروسته خبري کول لويه انساني ښېګڼه ده او له دې ښېګڼي څخه هغه کسان برخمن وي چي د ځان نيمګړتياوو ته پام کوي او خپله وينا و عمل څاري.

انسان باید د یو خبر له اورېدو سره سمدستي عکس العمل ونـه ښـيي، بلکـي د یوې شېبې لپاره فکر وکړي چې دې سړي څه ډول خبره وکـړه او زمـا لـه خـوا د هغه لپاره ښه ځواب څه کېدای شي. د خبري تر اورېدو وروسـته د یـوې شـېبې لپاره فکر کول د غوره عکس العمل ضمانت دئ او په دې صورت کي به تـل د ډېري وار په ګل ځوابېږي.

## د دښمن له تصادم څخه مخ ګرځول

رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم فرمـایلي دي: **لاتتمنوالقـاء العـدو، وسـلوا الله العافیه**. (**البخاري، کتاب الجهاد**) (اې خلکو! تاسي له دښمن سره د مخامخ کېدو غوښتنه مه کوئ، بلکي له الله څخه د امن هیله ولرئ).

مطلب دا چې کوم څوک ستاسي دښمن وګرځي، داسي مـه کـوئ چـې تـاسي هم د هغه دښمني پر غاړه واخلئ او ورسره په جنګ شئ، بلکي د غلیم لـه خـوا پر دښمنۍ سربېره د اعراض تګلار خپله کـړئ. د غلـیم لـه مخالفـت سره-سره باید تاسو له شخړي څخه لاس واخلئ، نه دا چې په جګـړه کـي ورسره ښـکېل شئ.

له الله څخـه د امـن غوښـتني مطلـب دا دئ چـې د تصـادم پـر ځـای د سـولي غوښتنه وکړئ او پر سوله یېزو هڅو سربېـره لـه الله څخـه د امـن د قیـام هیلـه ولرئ. دعاګاني مو باید د غلیم پر بربـادۍ راونـه څرخـي، بلکـي غوښـتنه وشي چې خدایه داسي توفیق راکړه چې پـر دښـمنۍ سربېـره د تصـادم لار خپلـه نـه کړم، بلکي په سوله کي خپل ژوند تېر کړم.

له دې څخه معلومه شوه چې د فطري قانون له مخي په دنیا کي امن د عمـوم (rule) حیثیـت لـري او تشـدد یـوازي یـوه اسـتثناء (exception) ده او دا هـم

څرګنده شوه چې که په ښکاره ډول کوم څوک یا یوه ډله دښمني درسره لري، له هغه څخه د ځان ژغورنې حل یوازې دا نه دئ چې تصادم دې غوره شي، بلکې تر ټولو اغېزناک شکل یې دا دئ چې له غلیم سره د سوله ییز تدبیر له مخې چلند وشي او د سولې ځواک د تشدد په وړاندې ډېر کارنده او ګټور دی.

## عدم تشدد

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: **ان الله یعطی علی الرفق ما لایعطی علی العنف.** (**مسلم، کتاب البر، ابوداود، کتاب الادب، سنن ابن ماجه، کتاب الادب، سنن الدارمی، کتاب الرقاق، مسند احمد لومړی ټوک، ۱۱۲ مخ**) (الله د نرمۍ په صورت کې انسان ته هغه څه ورکوي، چې په سختۍ او تشدد کې یې نه ورکوي).

دا اصلاً د فطرت د هغو اصولو یوه برخه ده چې الله د دنیا لپاره غوره کړې دي. د دې اصولو له مخې چې کوم انسان د نرمۍ او عدم تشدد په حدودو کې واوسي، د هغه فعالیت به خامخا ښې پایلې ولري، خو کوم څوک چې تشدد ته لاس واچوي، پر ځای د دې چې کار یې مخته ولاړ شي، شاتګ کوي.

کوم څوک چې د تشدد لار خپله کړي، د هغه هڅې پر دوو غیراړینو برخو وېشل کېږي، یعني هم به د خپل شخصیت پر جوړونې کار کوي او هم به له حریف سره جنګیږي. برعکس کوم څوک چې نرمي او سوله ییزه تګلار خپله کړي، د هغه ټولې هڅې د یوې برخې یعنې ځان جوړونې لپاره وي او د فطري اصولو له مخې همدا انسان ډېر پرمختګ کولای شي.

په دې حدیث کې موږ ته د یو داسي لوی فطري قانون ښوونه شوې ده چې د دنیا ټول نظام وربانديي ولاړ دی، دلته چې هر څه لاس ته راوړل کیږي، د همدې اصولو له مخي حاصلیدای شي. د فطرت دا نظام په تمامه مانا د عدم تشدد پر اصولو ولاړ دی، ځکه نو هر څه د سوله ییزو اصولو له مخي ترلاسه کیږي او له سوله ییزو هڅو څخه د انحراف په صورت کي مثبتي ګټي نه شي ترلاسه کیدای.

## د اختلاف حدود

پیغمبر فرمایلي دي چې: **افضل الجهاد کلمة عدل عند سلطان جائر، افضل الجهاد کلمة عدل عند امیر جائر.** (**ابوداود، کتاب الملاحم، الترمذی، کتاب الفتن، النسائي، کتاب البیعة، ابن ماجه، کتاب الفتن، مسند احمد**) (د ظالم حکمرانانو په وړاندي د حق او انصاف وینا تر ټولو غوره جهاد دی).

بل خوا رسول الله په یو بل حدیث کي فرمایي: **من رای من امیره شیاً فکرهه فلیصبر.** (**البخاري، کتاب الاحکام، مسلم کتاب الاماره، الدارمی، کتاب السیر، مسنداحمد**) (کوم څوک چي په خپل آمر کي داسي څه ویني چي د ده خوښ نه وي، نو صبر دي پر وکړي). همدارنګه رسول الله فرمایي: **تسمع وتطیع الامیر وان ضرب ظهرک واخذ مالک.** (**صحیح مسلم، کتاب الایمان**) (تاسي د خپل حاکم خبره واورئ او اطاعت یې وکړئ، که څه هم تاسي په دورو ووهي او شتمني مو واخلي).

له دې حدیثونو څخه ظاهراً دوه ډوله احکام ثابتیږي، یو دا چي که د خپل حاکم ناوړه عمل ووینئ، نو سمدستي یې بربنډ کړئ. په یو بل حدیث کي

راځي چې که په خپل آمر کي کومه تېروتنه ووینئ، نو صبر پر وکړئ، که څه هم پر تاسو ظلم وکړي.

دا یوه ډېره مهمه لارښوونه ده چي له مخي یې د اقدام او اعلان توپیر راته ښکاري. غوره دا ده چي که کوم څوک په خپلو مشرانو کي تېروتنه ووینې، نو د نصیحت او خیرغوښتني په ډول دي یې اعلان کړي، خو له عملي اقدام څخه دي په هر صورت ځان وژغوري. انسان باید د نصیحت او تصادم تر منځ توپیر وکړي، تر څو د نصیحت د پالیسۍ له خپلولو سره له سیاسي تصادمه په بشپړ ډول ځان وژغوري.

د دغو دوو ټکو تر منځ توپیر نهایت مهم دی. ټولنه هغه مهال د تشدد لوري ته ځي، چي کله ولس د حکمرانانو په وړاندي د عملي ټکر مبارزه پیل کړي او د سیاست په نوم له اقدار څخه د حکمرانانو په راپرځولو لاس پوري کړي، اما که ځان له عملي تصادمه وژغورل شي او یوازي پر قولي نصیحت بسنه وشي، نو تل به په ټولنه کي سوله حاکمه وي او هیڅکله به معاشره د تشدد مرکز ونه ګرځي.

## د سوله ییزي تګلاري غوراوی

د معاملاتو په اړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم عمومي پالیسي- داسي وه: **ما خیر رسول الله صلی الله علیه وسلم بین امرین الا اختار ایسرهما. (صحیح البخاري، کتاب الادب)** (د رسول الله په وړاندي چي به کله هم دوه انتخابه موجود ول، نو تل به یې اسانه خپلاوه).

د اختیار دې اصولو ته که د تشدد او سولي له زاویې وکتل شي، نو ویلای شو چي د رسول الله تګلار دا وه چي له متشددانه طریقې څخه دي ځان وژغورل

شي او سوله ییزه تګلار دي خپله شي، ځکه متشددانه طریقه یقیناً ستونزمنه ده او سوله ییز تګلار برعکس.

که څه هم دا یوازي د اسان او ستونزمن مسئله نه ده، بلکي هدف دا دئ چي په ټولو مسایلو کي سوله ییزه پالیسي له ښو پایلو سره ترلېِ وي او متشددانه طریقه له ناسمي پایلي سره. اصلاً تشدد د یوې مسئلې حل نه دی، بلکي موضوع نوره هم پېچي. په حدیث کي له ستونزمني طریقې څخه هدف دا دئ چي د یوې تګلاري لاسته راوړنه ستونزمنه وي او له اسانۍ څخه هدف هغه طریقه ده چي لاسته راوړنه یې اسانه وي.

## نرمه تګلار

یو روایت د حدیثو په مختلفو کتابونو کي راغلی دی. (صحیح البخاري، کتاب التوحید. صحیح مسلم، کتاب المنافقین. سنن الدارمي، کتاب الرقاق. مسند احمد)

په دې حدیث کي مومن یا خداپرست انسان د واښکي په ډول یاد شوی دی، یعني مومن د نرم واښکي غوندي دی، کله چي د هوا څپه وربانـدي راشي، نـو پر هماغه لوري کږیږي او کله چي څپه ولاړه شي، بېرته راپورته کیږي او په همدې شکل ځان له ناخوالو او کړاوونو څخه ژغوري.

د دې حدیث له مخي له توپان څخه د ژغورني دوې لاري دي، یو دا چي په وړاندي یې له سختۍ څخه کار واخیستل شي او دوهمه دا چي په وړاندي یې نرمي خپله شي. یا په بله مانا ویلای شو چي یوه افراطي سیالي ده او بله سوله ییزه، خو د خدای خوښه دا ده چي لومړۍ طریقه ترک او دوهمه خپله شي.

د توپان په وړاندي چي کوم څوک د سختۍ تګلار خپله کړي، هغه د خپل دې عمل په ترسره کولو ثابتوي چي دی د ځانغوښتني ښکار دی. برعکس سوله ییزه تګلار پر تواضع ولاړه ده، په داسي حال کي چي ځانغوښتونکي خلک ډېرکله ناکامه کیږي او متواضع انسانان تل بریالي وي. کټمټ همدا خبره په یو حدیث کي په دې ډول راغلې ده: **من تواضع رفعه الله.** (چا چي د تواضع لار خپله کړه، الله سرلوړي ورپه برخه کوي).

## سوله ییز ښاري

رسول الله د مومن تعریف داسي کړی دی: **المؤمن من امنه الناس علی دمائهم واموالهم** (**الترمذي، کتاب الایمان. النسائي، کتاب الایمان. ابن ماجه، کتاب الفتن. مسنداحمد**) (مومن هغه دئ چي د خلکو وینه او شتمني ورڅخه خوندي وي).

په ټولنه کي د اوسېدو دوې طریقې دي. یوه دا چي انسان د خلکو په منځ کي سوله ییز ژوند وکړي، بله دا چي له خلکو سره په جنګ جګړو کي واوسي. د دې حدیث له مخي ایماني تګلار دا ده چي انسان د ټولني لپاره د سوله ییز موجود په توګه ژوند وکړي، د نورو د ځان، شتمنۍ او عزت لپاره ستونزه جوړه نه شي او په هیڅ صورت د خلکو په وړاندي له تشدده کار وانخلي.

د ژوند هغه طریقه چي خلک د یو-بل له تېري څخه په امن کي واوسي، دا ده چي له خلکو څخه پر شکایت او ناخوښۍ سربېره د خپل چلند طریقه همداسي معتدله وساتل شي، شکایات په زړه کي وساتل شي او د خپل زړه اور د نورو د ازار سبب ونه ګرځول شي. دا هغه ډول ټولنه ده چي انسانان پکي د یو-بل له ازار څخه خوندي وي. سوله ییزه ټولنه معیاري انساني ټولنه ده او برعکس په کومه ټولنه کي چي تشدد ریښې کړي وي، هغه حیواني ټولنه نومولای شو.

www.sikaraam.com

سوله خوښونه یو لوړ اخلاقي چلند دی، برعکس د تشدد پایله دا وي چې انسان د انساني اخلاقو له سطحې څخه راپرځوي او حیواني کچې ته یې رسوي.

## انتظار؛ یوه حللار

رسول الله فرمايي: **افضل العبادة انتظار الفرج.** (**الترمذي، کتاب الدعوات**) (له ناخوالو څخه د خلاصون لپاره صبر غوره عبادت دی).

په ژوند کې هر انسان له ستونزمنو حالاتو سره مخ کيږي، خو په داسي مواردو کې اکثره خلک په شعوري او غیرشعوري ډول فکر کوي چې دغه ستونزمن او تکليفي حالات دوامداره دي، ځکه نو د ځان د خلاصون لپاره له حالاتو سره جګړه کوي، اما دا ډول جګړه تل نه يوازي بې ګټې ثابه شوې، بلکې پر همدې ناخوالو نوره اضافه هم شوې ده.

ناخوالي او کړاوونه تر يو وخته محدود وي، يعنې همېشني نه وي. د ناخوالو حللار دا ده چې د زغم پالیسي خپله شي، يعني له غيراړيني جګړې څخه دي لاس واخیستل شي، بلکې د انتظار او کتنې (wait and see) پالیسي- دي خپله شي او د دې تګلاري ګټه دا ده چې انسان ذهني سکون له لاسه نه ورکوي، بلکې هر څه پر خپل ټاکلي وخت سرته رسيږي.

انسان چې کله هم له ستونزي سره مخ کيږي، نو هڅه کوي چې سمدستي يې حللار ولټوي، خو اصلي تېروتنه په همدې ځای کې ده. که انسان رامنځته شوې ستونزه د انتظار په خانه کې کښېږدي، نو له هيڅ مسئلې څخه ستونزه نه جوړيږي.

www.sikaraam.com

## خدايي خبرداری؛ نه انساني ظلم

پيغمبر صلی الله عليه وسلم چي د وړاندويني په توګه خپل امت له ځينو راتلونکو حالاتو څخه خبر کړی دی، له هغو وړاندوينو څخه يوه دا ده چي مسلمانان به د نورو ملتونو له يرغل سره مخ شي. رسول الله فرمايي: **يوشک الاهم ان تداعی عليکم کما تداعی الاکلة الی قصعتها** (ابوداود، کتاب الملاحم، مسند احمد) (نژدې ده چي قومونه به ستا پر خلاف يو-بل داسي راوبولي لکه ډوډۍ خوړونکي چي يو-بل دسترخوان ته رابولي).

تاريخ ښيي چي دا پېښه په اروپا کي د اتلسمي مېلادي پېړۍ په وروستۍ نيمايي کي رامنځته شوه او وروسته نور ملتونه ورڅخه برخمن شول او دا لړۍ تر اوسه دوام لري. دا چي ولي داسي وشول، د قرآن له مطالعې څخه ثرګنديږي چي دا په مستقيمه توګه خدايي سنت دی. خدايي تګلار دا ده چي د ملتونو د راپاڅولو لپاره لومړی خبرداری ورکوي او دا اصلاً د سمون لپاره يو ډول ښورښت (shock treatment) دئ چي په مرسته يې ځانونه اصلاح کړئ، لکه فرمايي: **فَلَوْلا إِذْ جَاءهُمْ بَأْسُنَا تَضَرَّعُواْ وَلَـكِن قَسَتْ قُلُوبُهُمْ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ.** (**الانعام**، ۴۳) (کله چي زما له لوري پر هغوی سختي راغله، نو کاش دوی عاجزي کړې وای، مګر د دوی زړونه سخت شول او شيطان هغه څه ورته ښايسته کړل چي دوی کول).

په دې آيت کي د تزئين کلمه کارول شوې ده، يعني يو ناوړه کار په داسي ښو الفاظو بيانول چي بدي يې پټه شي. اوسني مسلمانان کټمټ له همداسي مسئلې سره مخ دي، د مسلمانانو اوسنيو مشرانو په شعوري او غيرشعوري توګه عين همدا کار وکړ لکه په پورتني آيت کي چي تزئين ورته وويل شول.

www.sikaraam.com

اوسني مسلمانان چې د غیرمسلمانو ملتونو له کومو مسایلو سره مخ شـوي دي، هغه اصلاً خدایي خبرداری (warning) دی. مګر مسلمان مشرانو هغه مسایل د ځانو په وړاندي په ظلم او دسیسې یاد کړل. پایله دا شوه کوم څـه چـې بایـد مسلمانانو د خپلو نیمګړتیاوو په ډول محسـوس کـړي وای او د ځـانو د اصـلاح لپـاره یـې کـار کـړی وای، د مسـلمان مشرـانو د ناسـمو لارښـوونو لـه املـه د مسلمانانو ټول سوچ نورو ملتونو ته واوښت. پر ځای د دې چـې لـه ځـانو سره د حساب کولو سـوچ رامنځتـه شـوی وای، لـه نـورو سره د حسـاب کولـو ذهنیـت راویښ شو چې په تدریجي ډول په تشدد واوښت.

## د خاموشۍ ځواک

عمر فاروق د اسلامي تاریخ دوهم خلیفه دی. د هغه یوه وینا ده: **امیتـوا الباطـل بالصمت عنه** (تاسو باطل د خاموشۍ په اختیارولو له منځه یوسئ).

د فطري اصولو له مخې په دنیا کې حق تلپاتې وي او باطل له منځه ځـي او د باطل د له منځه وړلو لپاره دا کافي ده چې خاموشي اختیار کـړل شي. د باطـل پر خلاف بړغېدل او په وړاندي یې عکس العمل هغه تـه ژونـد ورکـول دي او د باطل په وړاندي چوپ پاته کېدل د هغه د له منځه وړلو سبب کیږي.

د باطل په وړاندي له چوپ پاته کېدو څخه هدف د هغـه صرف نظر کـول دي او پر خلاف یې باید له عکس العمل څخه لاس واخیسـتل شي او پـه وړانـدي یې د احتجاج تګلار خپله نه شي، البته داسي کړنـه یـوازي د هغـو خلکـو لپـاره امکان لري چې فطري قوانین پېژني او پر هغوی باور لري. کوم کسـان چـې د فطرت ځواک نه پېژني، هغوی د باطل په وړاندي غبرګون ښـیي او دا غبرګـون باطل ته ژوند وربخښي.

## تشدد؛ د مایوسۍ پایله

تشدد د محرومیت د احساس پایله ده او امن د لاسته راوړني د احساس پایله. کوم کسان چې د محرومیت احساس کوي او په دې فکر وي چې نور انسانان د دوی د محرومیت سبب شوي دي، تل د منفي نفسیاتو ښکار وي او د هغوی دا احساس ډېرې وختونه د تشدد په بڼه راڅرګندیږي. مګر کوم کسان چې د لاسته راوړنو له احساس سره ژوند کوي، هغوی له ذهني سکون څخه برخمن وي او تل یې سوله ییز ژوند په برخه وي.

کوم کس یا ډله چې له نورو څخه کرکه کوي او د نورو په وړاندې په تشدد لاس پورې کوي، دوی پخپل دې عمل ثابتوي چې ځانونه محروم ګڼي او برعکس کوم کسان چې په امن پسندۍ کې ژوند کوي، هغوی پخپل عمل د دې ثبوت ورکوي چې په خپل ژوند کې یې هغه څه ترلاسه کړي دي چې دوی باید ترلاسه کړي وای.

پوښتنه دا ده چې د محرومیت احساس ولې پیدا کیږي او هغه کوم کسان دي چې تل د لاسته راوړني له احساس سره ژوند کوي.

په دې دنیا کې تر ټولو لویه لاسته راوړنه دا ده چې انسان خپل خالق ومومي او تر ټولو لوی محرومیت دا دئ چې انسان د خدای له موندني څخه محروم شي. د خدای تر موندني وروسته بل دومره مهم څه د لاس ته راوړلو لپاره نه دئ پاته او کوم کسان چې د خدای له موندني څخه مروم وي، هغوی ګواکي د محرومیت هغه حد ته رسېدلي دي چې یوازې او یوازې محرومیت وي، حتی تر دې حده چې هیڅ شی هم د دوی محرومیت له منځه نه شي وړلای.

## له شته امکاناتو څخه مثبته ګټه اخیستنه

انسان چي کله د یو عمل د سرته رسولو اراده وکړي، سمدستي د ځان په وړاندي ځیني خنډونه محسوسوي. د موانعو له دغه ډول احساس سره هم افراد او هم ټول ملت مخامخ کېدای شي. اوس یوه طریقه دا ده چي د خپل عمل د سرته رسولو لپاره لومړی موانع له منځه یوووړل شي، د ځان لپاره لار خلاصه شي او خپل مطلوب عمل پیل شي. دې طریقې ته په عام ډول (radicalism) یا د بنیادي سمون غوښتنه ویل کیږي.

راډیکالیزم اکثره وختونه د احساساتي یا متشددو خلکو خوښیږي، په داسي حال کي چي دا د مثبت هدف د لاس ته راوړلو لپاره ګټوره لار نه ده. راډیکالیزم یوازي د تخریب لپاره ګټوره ده.

په راډیکالیزم کي نه یوازي اوسنی سیستم له منځه ځي، بلکي ټول هغه ټولنیز روایات چي له پیړیو راهیسي- منځته راغلي دي، له منځه ځي. د وژنو، اختلافاتو او ټکرونو له امله بېشمېره کسان له ډول-ډول ستونزو سره مخ کیږي. د تجربې له مخي راډیکالیزم په نظري ډول سم معلومیږي، مګر له عملي اړخه هیڅ ګټه نه لري.

بله لار دا ده چي له شته خنډ سره له مواجه کېدو پرته د خپل عمل د سرته رسولو یوه مناسبه لار وسنجول شي او له هغو امکاناتو (status quo) څخه کار واخیستل شي چي اوس موجود دي. دغه ډول طریقې ته ( positive statusquoism) هم ویل کیږي.

راډیکالیزم تل تشدد رامنځته کوي. برعکس د شته امکاناتو څخه مثبته ګټه اخیستنه (positive statusquoism) هم ټولنیز امن ته صدمه نه رسوي او هم خپل هدف لاس ته راوړي. راډیکالیزم کوچنۍ مسئله غټوي او پازیټیو

www.sikaraam.com

ستېټس کوایزم له ستونزو زېږولو پرته خپل کار سر ته رسوي. که یوې طریقې ته د ورانوني نوم ورکوو، دا بلې ته باید د رغوني نوم ورکړو.

پیغمبر صلی الله علیه وسلم چې د عربو د اصلاح لپاره کومه طریقه اختیار کړې وه، هغه ته پازیټیو ستېټس کوایزم ویلای شو. مثلاً هغه مهال په کعبه کې ۳٦۰ بتان موجود ول او دا یوه لویه ستونزه وه، مګر د قرآن کریم د نزول په پیل کې داسې امر ونه شو چې: **طهر الكعبة من الاصنام** (کعبه له بتانو څخه پاکه کړئ) پر ځای یې دا آیت نازل شو: **وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ثیابک فطهر.** (**المدثر**، ۴) (خپل کالي پاک کړئ). دلته هدف دا دئ چې خپل او د نورو اخلاق سم کړئ.

## تشدد هیڅ جواز نه لري

افراط د انساني فطرت مخالف عمل دی، افراط د انسانیت وژنه ده، افراط تر ټولو لوی جرم دی. دا چې پر دې سربېره بیا هم له افراطه کار اخیستل کیږي، لامل یې دا دی چې دغسې کسان په خودساخته ډول د ځانونو لپاره د تشدد د جواز (Justification) په لټه وي، دوی یوازې د ځانو په اړه د ناسمو دلایلو پر بنیاد د تشدد لپاره نامعقول جواز لاسته راوړي.

مګر حقیقت دا دئ چې د تشدد هر ډول جواز ناسم او دروغجن دی. هر څوک او هره ډله چې کله له تشدده کار اخلي، په عین وخت کې د هغه لپاره د عدم تشدد لاري-چاري موجودي وي. په هغه حالت کې چې له تشدد پرته سوله ییزې لاري موجودي وي، ولې له تشدده کار اخیستل کیږي. په داسې حالت کې تشدد کاملاً د پرېښودلو او سوله د خپلولو ده. انسان ته په کار ده

چې د هیڅ عذر له مخې له تشدده کار وانخلي او باید په هر حالت کې سوله ییزه لار خپله کړي.

## د دښمنۍ حل

ډېری خلک دا فکر کوي چې پلانی قوم زموږ دښمن دئ او د دې مفروضې له مخې له دې امله د هماغه قوم پر خلاف له تشدده کار اخلي چې له دښمنۍ څخه یې ځانونه وژغوري. مګر نه یوازې دا مفروضه غلطه، بلکې د همدې مفروضې پر بنیاد عکس العمل هم ناسم دی.

دښمني د لاس د ګوتي په څېر د انسان د وجود برخه نه ده، بلکي دا د انساني وجود یوه عارضي برخه ده. د مثبت تدبیر له مخې هر ډول دښمني له منځه وړل کېدای شي. د دښمنۍ مثال داسي دئ لکه یو ګلاس چې په دوړو ککړ وي او دوړې د ګلاس په مینځلو سره په ډېري اسانۍ له منځه ځي. یعنې په دوړو د ګلاس ککړېدل هیڅ ستونزه نه ده، بلکې اصلي خبره دا ده چې له خلکو سره د ګلاس د مینځلو لپاره پاکي اوبه نه شته.

ټک له دوو لاسو خیژي، هیڅکله له یوه لاسه ټک نه خیژي. دښمني هم دې ته ورته دوه اړخیز عمل دی. که څوک ستاسو سره دښمني کوي، تاسو یې د عکس العمل په ډول دښمنۍ ته لاس مه اچوئ، تاسي به وګورئ چې دښمني به خپله له منځه ولاړه شي. له دښمن سره دښمني نه کول د دښمنۍ تر ټولو غوره لار ده.

## د وسلو په واسطه د ځان ژغورنه

یو وخت له یو چا سره مخ شوم. هغه یو بریالی تاجر وو. د خبرو په دوران کې یې وویل چې زما کور د ښار په داسې ساحه کې دئ چې هلته نور کورونه نه شته. د دې لپاره چې د ځان او اولادونو ژوند مې ژغورلی وي، له ښاره مې په یوه لیرې ساحه کې کور واخیست. له دې سره سم مې د کورنۍ هر غړي ته د وسلې جواز جوړ کړ او اوس مو د کورنۍ هر غړی وسله لري. زه اوس خپل ځان او کورنۍ خوندي ګڼم او له هیچا نه ویرېږم.

ما په ځواب کې ورته وویل چې ته د تجارت په اصولو پوهېږې، مګر د ټولنیز ژوند له اصولو سره نابلده یې. د ټولنیز امن ذریعه وسله نه ده، بلکې د ټولنیز امن اصول دا دي چې ته د نورو لپاره یو غوره ګاونډی او ښه انسان واوسې او نورو ته ستونزه ونه ګرځې او له دې سره به ته کاملاً د نورو له شره وژغورل شې. که ته له خلکو څخه نفرت وکړې، نو له مقابل لوري به هم نفرت ترلاسه کړې، مګر که په زړه کې د نورو لپاره خیرغوښتنه ولرې، نو له مقابل لوري به هم د خیرغوښتنې ډالۍ ترلاسه کړې.

ما ورته وویل که فرضاً ستاسې د کور مخې ته ستا په وړاندې خلک د مظاهرې په ډول راغونډ شي او ته هم د خپل کور په بارنډه کې ودرېږې او هغوی ته په ډزو ځواب ورکړې، فکر کوې چې له دې سره به ستونزه هواره شي؟ هیڅکله نه! باید وپوهېږې چې پر انسانانو ډزې کول یو داسې جرم دئ چې پولیسو ته د ګام اخیستلو اجازه ورکوي. که فرضاً ته پر خلکو ډزې وکړې، یقیناً به پولیس راځي، مداخله به کوي او ته نه شې کولای چې له پولیسو سره وجنګېږې.

باید پوه شې چې ستا او د پولیسو د وسلې تر منځ بې حده توپیر شته. ته سربېره پر دې چې وسله لرې، پر خلکو د ډزو کولو قانوني حق نه لرې، مګر

پولیس چې له ځانو سره وسلې لري، د ډزو قانوني حق لري. ستا او یرغلګرو سیالي د دوو مساوي اړخونو تر منځ ښکاري، مګر که مسئله تا او پولیسو ته ودریږي، نو دا سیالي کاملاً غیرمساویانه بڼه خپلوي. په داسي یوه حالت کې ستا له خوا ډزي د نتیجې له مخې داسي مثال لري لکه ته چې ورته وایې راشه ومې وژنه. څرګنده ده چې دا ډول اقدام ځانساتنه نه، بلکې یوازي بربادي ده.

## د وجدان قضاوت

یوه مسلمان په یو ښار کي ځان ته کور جوړ کړ. د کور د څنګ ځمکه یې هم د کور برخه وګرځوله. د هغه په ګاونډ کي یو هندو ټېکه دار اوسېدی. دې هندو دعوه وکړه چې دا ځمکه د هغه ده، نه یوازي دا چې پر ځمکه یې دعوه وکړه، بلکي د مسلمان په وړاندي یې د خپل ښار مذهبي هندوان راوپارول او بالاخره یې د مسلمان پر کور د ګڼ شمېر هندوانو حجوم وروړ او د مسلمان د کور مخي ته یې د هغه پر خلاف نارې ووهلې.

د دغه مسلمان په کور کي هغه مهال دوه توپکان ول، مګر دې سړي له توپکانو څخه کار وانخیست، بلکي یوازي او خالي لاس له کوره راووت. د ځان پر خلاف یې راغونډو شوو هندوانو ته څه ونه ویل، صرف یې پوښتنه وکړه چې ستاسو مشر څوک دی. یو ښاغلی چې نوم یې سونډ وو، رامخ ته شو او ویې ویل زه د دې ډلي مشر یم، ووایه څه وایې. مسلمان لاریون کوونکو ته وویل چې تاسي همدلته تم شئ او ښاغلی سونډ یې دننه کور ته بوتی او هلته یې آرام پر څوکۍ کښېناوه.

تر هغه وروسته مسلمان ورڅخه وپوښتل چې ښاغلی سونډ تاسو د څه لپاره دلته راغلي یاست. ښاغلي سونډ په قهرېدلي انداز ورته وویل چې تا زموږ د یو هندو ځمکه غصب کړې ده، ځکه موږ ستا پر خلاف راغونډ شوي یو. مسلمان په نرمه لهجه ورته وویل تاسو پوهېږئ چې ځمکه د اسنادو له مخې د یو چا ملکیت ثابتېدای شي او اسناد دي چې د ځمکي ملکیت ثابتوي. تاسو زما او د ټېکه دار صاحب اسناد واخلئ او په ډاډه زړه یې کور ته یوسئ. په دې مسئله کي شخصاً تاسو ته قضاوت په لاس درکوم، تاسو چې تر اسنادو کتلو وروسته هره پرېکړه وکړه، بې له شرطه یې منم.

ښاغلي سونډ چې دا کیسه واورېده ډېر ارام شو. هغه له غوسې سره یو ځای کور ته دننه شوی وو او له خندا سره له کوره راووت. پر سړک ولاړو لاریون کوونکو ته یې وویل چې تاسو ببرته ستانه شئ، دې ښاغلي خپله ما ته قضاوت په لاس راکړ. زه به د دواړو اسنادو ته په کتو پرېکړه وکړم. ښاغلي سونډ کور ته ولاړ، په ډاډه زړه یې د دواړو اسناد وکتل او ټوله مسئله یې دقیقه وارزوله. څو ورځي وروسته یې د اسنادو له مخې سل فیصده د مسلمان په حق کي پرېکړه وکړه.

دغه مسلمان که له خپلو وسلو څخه کار اخیستی وای او پر لاریون کوونکو یې ډزي کړي وای، بېشکه به یې د لاریون کوونکو احساسات نور هم راپارولي وای، بیا به په ښکاره ډول هر څه د مسلمان پر خلاف پای ته رسېدلي وای. مګر کله چې هغه د وسلې پر ځای له عقله څخه کار واخیست، په پایله کي د مخالفي ډلي وجدان راویښ شو او کله چې وجدان راپاڅېږي، نو هغه تل عادلانه پرېکړه کوي. وجدان هیڅکله ظالمانه او غیرعادلانه پرېکړه نه کوي.

## برې هم ناکامي ده

پایرس پاچا (King Pyrrhus) تر مېلاد درې پېړۍ وړاندې یو یوناني واکمن وو. هغه له رومیانو سره جګړه وکړه. جګړه بالاخره د پایرس پاچا په بریالیتوب پای ته ورسېده، مګر له جګړې سره د پایرس پاچا خپل پوځ او د هیواد اقتصادي سرچینې ټولې له منځه ولاړې. د پایرس پاچا لپاره په ظاهري ډول دا یوه بریا وه، مګر پایله یې ناکامي شوه. د دې تاریخي پیښې اړوند یوه اصطلاح مشهوره شوې ده چې (Pyrrhic Victory) ورته ویل کیږي، یعنې ظاهري بریا خو د حقیقت له مخې په تمامه مانا ناکامي.

د جګړو تاریخ ته که وکتل شي نو دا به مبالغه نه وي چې ډېرې بریاوې پر پورتنۍ اصطلاح دلالت کوي. هر فاتح له دوو زیانونو سره خامخا مخ کیږي، یو د ځان او مال زیان، دوهم د مفتوح په زړه کې د فاتح په وړاندې نفرت. هیڅ فاتح له دغو زیانونو څخه ځان نه شي ژغورلای، یوازې دومره توپیر امکان لري چې یو فاتح ژر له زیان سره مخ شي او بل څه وخت وروسته زیان ووینې.

دا ډول زیان له افراطي تګلارې سره تړلی دی، سوله ییزه تګلار له دې څخه بېله ده. له سوله ییزې مبارزې سره یوازې بریالیتوب تړلی دئ او د ناکامۍ سوال نه پیدا کیږي، حتی که د سوله ییزې مبارزې پایله ظاهراً ناکامي وي، بیا هم بریالیتوب دی، ځکه په سوله ییزه مبارزه کې که انسان له ناکامۍ سره مخ شي، مګر فُرصتونه او امکانات له لاسه نه ورکوي. فُرصتونه او امکانات اوس هم له هغه سره موجود دي. هغه له دې امکاناتو څخه بیا ځلې نوې مبارزه پیلولای شي او له سره د خپل بریالیتوب پوړ ته ځان رسولای شي.

## شکایت سمدستي له منځه وړل

شکایتي مزاج یو وژونکی مزاج دی. شکایتي طبیعت په انسان کي منفي سوچ زیږوي، انسان له مثبت فکره راګرځوي او دا ډول طبیعت ښښکه د ټولو بدیو ریښه ده. اکثره وختونه د تشدد شا ته شکایتي مزاج پروت وي.

د دنیا نظام داسي تخلیق شوی دئ چي په انسانانو کي خامخا له یو -بل څخه د شکایت حالت رامنځته کیږي. د دې حللار دا ده چي کـه ذهـن تـه شـکایت لار وکړي، نو سمدستي دي له دماغه وایستل شي.

شکایت چي کله راپیدا کیږي نو لومړی د انسان په شعوري ذهن (Conscious mind) کي وي، که دوام وکړي یا څو ځلي تکرار شي، نـو پـه تـدریجي ډول د انسان غیرشعوري ذهن (unconscious mind) ته ځي او هلتـه داسي ریښـې کوي چي بیا په هیڅ صورت له ذهنه نه وځي.

په داسي حالت کي په کار دا ده چي د شکایت له راپیـدا کیـدو سره سمدسـتي له منځـه یووړل شي، کـه ژر خـتم نـه شي، نـو پـه تـدریجي توګـه د انسـان د نفسیاتو ځانګړې برخه ګرځي. تر هغه وروسـته د انسـان سـوچ پـه منفـي سـوچ اوړي، خلک د ځان دښمنان ګڼي، که موقع په لاس ورغله د خلکو په وړانـدي له تشدده کار اخلي، ان له هغو خلکو سره چي شکایت ورڅخه کوي، په عملي اختلاف لاس پوري کوي.

په اوایلو کـي د شـکایت د لـه منځـه وړلـو فارمولـه قـرآن کـریم پـه دې الفـاظو بیانوي: وَمَا أَصَابَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ. (الشوری، ۳۰) (پر تاسـو چـي کوم مصیبت راځي هغه ستاسو د خپلو اعمالـو نتیجـه ده). د دې هـدف دا دئ چي کله ستاسو په ذهن کي د خلکو په باب شکایت پیدا کیږي، نـو سمدسـتي د شکایت مخ خپل لوري ته اړوئ، د مسئلې داسي توجیه ولټـوئ چـي تاسـو د

www.sikaraam.com

پیښني لامل وګرځئ، کله چې تاسو ته د دې احساس وشي چې نیمګړتیا خپله په تاسو کې ده، نو په دې صورت کې به تاسو د خپلو نیمګړتیاوو په لیرې کولو مصروف شئ، نه دا چې د خپل فرضي دښمن په وړاندې په فریاد او احتجاج وخت ضایع کړئ.

www.sikaraam.com

## جګړه او سوله په اسلام کې

په اسلام کې جګړه او سوله څه حیثیت لري. د دې پوښتنې د ځواب د موندلو لپاره مهمه دا ده چې د اسلامي میشن هدف څه دی. جګړه او سوله دواړې بېلابېلې تګلارې دي، نه هدف. په داسې یوه حالت کې که دا وټاکل شي چې د اسلامي میشن هدف څه دی، نو تر هغه وروسته دا په ډاګه کېږي چې سوله که جګړه اسلامي طریقه ده.

قرآن د دې پوښتنې څرګند ځواب ویلی دی. قرآن کریم پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته په خطاب کولو یو عمومي حکم په دې الفاظو کړی دی: **وَجَاهِدْهُم بِهِ جِهَادًا كَبِيرًا**. (**الفرقان**، ۵۲) (اې محمده! له دوی سره د قرآن په ذریعه لوی جهاد وکړه).

www.sikaraam.com

قرآن یو کتاب دی، توپک یا توره نه ده. د قرآن په واسطه د جهاد مطلب معلوم شو چې سوله ییزه مبارزه (peaceful struggle) ده، نه مسلح جدوجهد (armed struggle).

دا چې قرآن یو نظریاتي کتاب دی، نو د ده په واسطه د سوله ییزې مبارزې مطلب دا کېدای شي چې د خلکو ذهنیتونه دې ورغول شي. د خلکو افکار دې له قرآن سره برابر کړل شي. په بل عبارت د قرآن هدف پر ځمکه قبضه لګول نه دي، بلکې د انسان ذهن مغلوبول دي. د اسلام هدف ذهني انقلاب دی، نه په جسماني لحاظ د خلکو مغلوبول.

که قرآن مطالعه شي چې پیغمبر په څه شکل خپله مبارزه مخته وړله، نو معلومیږي چې خپله ټوله مبارزه یې د انسانانو د ذهنیتونو جوړولو لپاره کړې ده. قرآن وایي الله تعالی خپل کلام پر خپل استازي ځکه نازل کړ چې د خلکو افکار له تیارې څخه د رڼا لوري ته سوق کړي (الحدید، ۹). د یوه روایت له مخې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې د انسان د اصلاح په لار کې اصلي ارزښت یو شی لري او هغه د انسان د زړه اصلاح ده (**الا وهی القلب**) د انسان د فکر له بدلون سره د هغه ټول ژوند بدلیږي. په مکه کې چې پر پیغمبر صلی الله علیه وسلم په لومړي ځل وحې نازلې شوې، نو رسول الله خلک راغونډ کړل او ورته وې ویل اې خلکو! زه ځکه تاسو ته رالېږل شوی یم چې تاسو په هغه ژوند چې تر مرګ وروسته راتلونکی دی، خبر کړم (**انا النذیر العریان**) همدارنګه چې کله پیغمبر په داسې حال کې مدینې ته ولاړ چې غالب وو، هماغه وخت یې هم د مدینې خلکو ته وویل اې خلکو! ځانونه له اوره وژغورئ، که څه هم د یوې ټوټې خرما په ذریعه وي (**اتقوا النار ولو بشق تمرة**).

د قرآن او سیرت له مطالعې څرګندیږي چې د اسلام اصلي هدف د انسانو د ذهنیتونو جوړول دي، همدا د اسلام اول او وروستی هدف دی. خو په دنیا

www.sikaraam.com

کي هر ډول انسانان اوسیږي او د تخلیقي اصولو له مخي هر انسان پـه بشـپړه توګه آزاد دی، د همدې آزادۍ پر اساس کله-کلـه داسي پېښـه شـوې ده چـي ځینو انسانانو د پیغمبر مخالفت کړی دی، ان تـر دې حـده چـي ځینـو خلکـو د پیغمبر د مبارزې په وړاندي په عملي جګړې لاس پوري کړی دی. لـه همـدې امله پیغمبر او د هغه ملګرو د خپلي دفاع په موخه وسلو تـه مجبـور شـوي دي. له دې کبله ویلای شو چي په اسلام کي سوله عمومي (rule) حیثیـت لـري او جګړه یوازي یوه استثناء (exception) ده.

د رسول الله پیغمبرانه عمر ۲۳ کاله وو. په دغو ۲۳ کالو کي قـرآن پـه تـدریجي ډول له حالاتو سره سم نازل شو. پـر دې اسـاس کـه دغـه مـوده تقسـیم کـړل شي، نو معلومیږي چي د قرآن یوه برخه هغه ده چي تقریباً د ۲۰ کالو پـه اوږدو کي خپره شوې ده او دوهمه برخه یې هغـه ده چـي پـه ټـولیز ډول پـه تقریبـاً ۳ کالو کي مشتمله ده.

په ۲۰ کالو کي چي کوم آیتونه نازل شـوي دي، ټـول لـه سـوله ییـزو لارښـوونو سره تړاو لري، مثلاً عقیده، عبـادت، اخـلاق، انصـاف، انسـانیت او داسي نـور ... د جګړې آیتونه په هغو ۳ کالو کي نازل شوي دي چي مسلمانان عمـلاً لـه مسلح ټېري سره مخ ول.

په قرآن کي ټول ۱۱۴ سورتونه دي. په ټولیز ډول قرآن ٦٢٣٦ آیتونـه لـري. پـه دغو کي په مشکله څلوېښت داسي آیتونه دي چي مسـتقیم یـا غیرمسـتقیم لـه جنګ (قتال) سره تړاو لري. د دې تناسب له مخي په قرآن کي له جګـړې سره د تړلو آیتونو تعداد تر یوه فیصده هم کم دئ (precisely ۰.٦ per cent).

دا ډول توپیر د هر هیواد په قوانینو او په هر مذهبي کتاب کـي مونـدلای شـو. مثلاً په انجیل (New Testament) کي ګڼ شمېر سوله ییزي لارښووني شـته.

د هغه تر څنګ د عیسی علیه السلام دا وینا نقل شوې ده چې زه د سولې راوستلو لپاره نه یم راغلی، بلکې د وسلې د استعمال لپاره راغلی یم:

I do not come to bring peace but a swod.

دارنګه د هندوانو په مقدس کتاب بهګوت ګیتا کې ګڼ شمېر د اخلاقو او حکمت اړوند لارښووني شوي دي. مګر د دې تر څنګ دا هم پکې راغلي دي چې کرشن ارجن ته په ټینګار وویل اې ارجن! مخ ته ولاړ شه او جنګ وکړه. خو څرګنده ده چې په انجیل او بهګوت ګیتا کې دا ویناوې استثنایي حیثیت لري.

د اسلام د سولې خوښوني یو مهم اړخ دا دئ چې په اسلام کې د دښمن او بریدګر تر منځ توپیر شوی دی. د اسلام لارښوونه دا ده چې که کومه ډله په یو اړخیز ډول عملي برید او تېری وکړي، نو په دې صورت کې دي د بد او بدتر تر منځ د انتخاب په توګه دفاعي جګړه وشي. قرآن فرمایي: **أُذِنَ لِلَّـذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا**. (**الحج**، ۳۹) (هغو کسانو ته د جګړې اجازه ده چې تېری وربانديي شوی دی).

مګر تر کوم حده چې د دښمن خبره ده، د هغه په وړاندې یوازې د دښمنۍ له مخې له چا سره د جنګ جواز نه شته. په دې باب د قرآن یو آیت مسلمانانو ته یوه څرګنده لارښوونه ده: او ښېګڼه او بدګڼه دواړې برابرې نه دي، ته په ځواب کې هغه څه ووايه چې تر هغه غوره وي، بیا به ته وګورې د هغه چا چې ستا او د هغه تر منځ دښمني وه، داسې شي لکه نژدې دوست. (فصلت، ۳۴)

دغه آیت راښيي چې کوم څوک تاسې ته دښمن په نظر درځي، تلپاتې دښمن يې مه ګڼئ، ځکه د هر انسان په درون کې ستا یو دوست انسان پټ دی،

دغه دوست انسان ولټوه او دا امکان (potential) په واقعیت (actual) واړوه او وروسته به له هیچا د دښمنۍ شکایت ونه لرې.

یو روایت دا مسئله نوره هم راته روښانه کوي، هغه داسي چي عایشة رضی الله عنها د پیغمبر د عمومي پالیسۍ په ډول وايي: **ما خير رسـول الله صـلي الله عليـه وسلم بين امرين الاختار ايسرهما.** (**صـحيح البخـاري**) (رسـول الله صلی الله علیـه وسلم چي به کله د دوو امرونو د انتخاب له مسئلې سره مخ شـو، نـو رسـول الله به تل له دواړو څخه آسانه عمل انتخاباوه).

ځرګنده ده چـي هـر کـار دوې طریقـې لـري، یـوه متشـدده طریقـه ( vioclent method) او بله سوله ییزه طریقه (peaceful method). که دواړي سره پرتلـه شي نو معلومیږي چي په اختلافي مسـایلو کـي متشـدده لار خپلـول سـتونزمن انتخـاب (harder option) دئ او سـوله ییـزه لار اختیـارول اسـانه انتخـاب (easier option) دی. د دې اړونـد د اسـلام عمـومي تګـلار دا ایجـابوي چـي کله له یـوې ډلي سره نزاعـي یـا اخـتلافي حالـت رامنځتـه شي، نـو د هغـه پـه وړاندي باید سوله ییزه لار غوره شي. په اوسني وخت کي چـي آزادي د انسـان یو مهم او تلپـاتی حـق ګڼـل شـوی دی، نـو اوس بایـد یـوازي سـوله ییـزه لار انتخاب شي، ځکه د نن زمانې د اصولو لـه مخـي متشـدده لار لـه خنـډونو سره مخ ده، برعکس سوله ییزه لار هیڅ ډول خنډ نه لري.

د پیغمـبر صـلی الله علیـه وسـلم پـه زمانـه کـي چـي کـومي محـدودي جګـړې رامنځته شوي دي، په هغـو کـي اصـلاً زمـاني عامـل (age-factor) مهـم رول درلود. دا جګړې د اتمي مېلادي پېړۍ په لومړۍ نیمایـي کـي رامنځتـه شـوي دي. دا د مـذهبي جـبر او مـذهبي ربـړوني (religious persection) زمانـه وه. هغه مهال د اوس غوندي مذهبي زغم نه وو، له دې امله د توحیـد مخـالفینو د پیغمبر پر خلاف په جارحانه عمل لاس پوري کړ او پیغمبر یې جنګ ته مجبـور

www.sikaraam.com

کړ. په اوسنۍ زمانه کي مذهبي آزادي د هر انسان او هري ډلي مسلم حق ګرځېدلی دی، له دې کبله نن-سبا د مذهبي حقوقو لپاره د جګړې سوال نه پیدا کیږي.

په اسلام کي امن دومره باارزښته دئ چي د هر ډول ناسمو حالاتو د زغملو او د امن ساتلو امر شوی دی. د مخالفینو له لوري پر ربړوني د صبر او اعراض طریقه خپلول او په هره بیه د یو اړخیز تدبیر له مخي دا حالت ساتل د اسلام له مهمو اصولو څخه دی. دا امر ځکه شوی دئ چي د اسلام رغنیز فعالیتونه یوازي په سوله ییز او معتدل چاپېریال کي سرته رسېدای شي. دلته یوازي یوه استثناء شته او هغه د سیال اړخ له خوا یو اړخیز تېری دی.

پیغمبر هغه مهال په مکه کي د خپلي پیغمبرۍ مبارزه پیل کړه. په دې دوران کي پیغمبر دیارلس کاله په مکه کي تېر کړل. په دې موده کي مخالفینو څو ځلي تېری او ظلمونه وکړل، مګر پیغمبر او د هغه ملګرو په یو اړخیز ډول ټول ظلمونه وزغمل. د دې صبر او اعراض یو ډول دا هم وو چي پیغمبر او د هغه ملګرو له جنګ څخه د لاس اخیستني په موخه له مکې څخه مدینې ته هجرت وکړ. د مکې او مدینې تر منځ ۳۰۰ میله فاصله ده. مګر مخالفینو بیا هم لاس وانخیست، بلکي په فوق العاده ډول یې پر مدینې حملې پیل کړې. دغو حملو ته د سیرت په کتابونو کي غزاګاني ویل کیږي. د کوچنیو او لویو غزاګانو شمېر ۸۳ ته رسیږي، مګر د پیغمبر او مخالفینو تر منځ یوازي درې ځلي باقاعده جګړې (fullfledged war) شوي دي. مطلب دا چي په ۸۰ غزاګانو کي پیغمبر صلی الله علیه وسلم د اعراض او تدبیر له مخي د دواړو لورو تر منځ د عملي جګړې مخه نیولې ده. پیغمبر یوازي درې ځلي (بدر، احد او حنین) د مجبورانه حالاتو له امله جګړه ییزه سیالي کړې ده.

له جنګي سیالۍ څخه د اعراض یوه بېلګه دا ده چې د حدیبیې سوله ورته ویل کیږي، کله چې د پیغمبر او د هغه د مخالفینو تر منځ جنګي حالت رامنځته شو، نو پیغمبر هڅې پیل کړې چې د یو اړخیز تدبیر له مخې جنګي حالت له منځه یوسي او د دواړو لورو تر منځ سوله ییزه فضاء رامنځته کړي.

د دې هدف لپاره پیغمبر صلی الله علیه وسلم له مخالفینو سره د سولې خبرې اترې پیل کړې چې تر دوو اوونیو پورې یې دوام وکړ. دا خبرې او لیده کاته مکې ته څېرمه په حدیبیه کې وشول، ځکه نو دې ته د حدیبیې سوله ویل کیږي. دا اصلاً د دواړو لورو تر منځ د سولې تړون وو. د خبرو اترو په دوران کې پیغمبر صلی الله علیه وسلم ولیدل چې مقابل لوری خپل ضد نه پرېږدي، په داسې حال کې چې رسول الله د مخالفینو د یو اړخیزو شرایطو په منلو له هغوی سره د سولې تړون وکړ.

د دې تړون هدف دا وو چې د دواړو لورو تر منځ اختلافات له منځه ولاړ شي او عادي حالت رامنځته شي، تر څو په معتدلو حالاتو کې د دعوت او بنسټ جوړونې هغه کار وشي چې د اسلام اصلي هدف دی. د حدیبیې له تړون سره حالات عادي شول او د اسلام ټولو بنسټیزو فعالیتونو دوام پیدا کړ او بالاخره پایله دا شوه چې اسلام په ټوله سیمه کې خپور شو.

دلته غواړم اضافه کړم چې د اسلام د لارښوونو له مخې جګړه یوازې د برحاله حکومت مسئولیت دی، د غیرحکومتي خلکو او ادارو کار نه دی. غیرحکومتي ادارې که د اصلاح اړتیا محسوسه کړي، نو یوازې په سوله ییزه دایره کې د فعالیت حق لري، په هیڅ صورت د جنګ دایرې ته د داخلېدو جواز نه لري.

په دې اړه دوې خبرې ډېرې مهمې دي، یو دا چې غیرحکومتي تنظیمونه د هیڅ عذر له مخې د مسلح فعالیت جواز نه لري. دوهم دا چې د برحاله

www.sikaraam.com

حکومت لپاره حکماً که څه هم دفاعي جګړه جواز لري، خو د دې لپاره هم اعلان شرط دی. په اسلام کې غیرعلني جنګ قطعاً جواز نه لري. دغو دوو شرایطو ته په کتو په اسلام کې بغاوتي او نیابتي جګړې ناروا دي. بغاوتي جګړه ځکه ناروا ده چې د غیرحکومتي تنظیمونو له خوا مخته وړل کېږي او نیابتي جګړه ځکه ناروا ده چې که څه هم حکومت دخالت پکې لري، مګر دغه دخالت علني نه دئ او د اسلامي حکومت لپاره له اعلان پرته جګړه جواز نه لري. قرآن فرمايي: **فانذ اليهم على سواء** (**الانفال**، ۵۸) د دې دنیا نظام داسې ډیزاین شوی دئ چې خامخا د دوو خلکو یا ډلو تر منځ شخړه رامنځته کېږي، په داسې حالت کې د اسلام امر دا دئ چې شخړه باید د تشدد تر حده ونه رسول شي، دې تګلارې ته قرآن د زغم او اعراض نوم ورکړی دی. قرآن د یوه مستقل اصل په ډول ویلي دي چې **الصلح خير** (**النساء**، ۱۲۸) یعني د جانبینو د شخړې پر مهال په سوله ییز ډول نزاع له منځه وړل د پایلې له مخې غوره ده. د دې علت دا دئ چې سوله یا مصالحت دا موقع رامنځته کوي چې خپل ځواک پر مخالفت له ضایع کېدو څخه راوګرځوي او پر رغنیزو کارونو یې ولګوي. د دې مصلحت پر اساس پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: **لاتتمنوا لقاء العدو واسئلوا الله العافية** (**البخاري**) (تاسې له دښمن سره د مخامخ کېدو هیله مه کوئ او له الله څخه امن وغواړئ).

د دې اړوند د قرآن کریم یو آیت په دې ډول دی: **كُلَّمَا أَوْقَدُواْ نَارًا لِّلْحَرْبِ أَطْفَأَهَا اللّهُ.** (**المائده**، ۶۴) (کله چې هغوی جګړې ته لمن وهي، نو الله هغه اور وژني).

د قرآن کریم له دې آیت څخه د اسلام د اصلي رح درک معلومېږي، هغه دا چې په دنیا کې د بېلابېلو لاملونو له کبله جګړه رامنځته کېږي، دا د دنیا د ځانګړي نظام غوښتنه ده چې د سیالۍ (competition) پر اصولو رامنځته

شوې ده. مګر د مسلمانانو مسئولیت دا دئ چي که مخالف لوری جګړې ته لمن وهي، نو مسلمانانو ته ښايي چي د يو اړخيز تدبير له مخي هغه اور سوړ کړي. یعني جګړه د مسلمانۍلار نه ده، بلکي له جګړې څخه مخ اړول د مسلمانۍ غوښتنه ده. مسلمانان باید له یوه اړخه دا وکړي چي له جنګ پرته د خپلو ګټو ساتنه وکړي او دوهم مسئوليت يې دا دئ چي د سولي پيغام لېږدوونکي واوسي. مسلمانان باید په دنیا کي د سولي سوداګر وي، نه د جګړې سوداګر.

د اسلام د اصولو پر بنسټ وینو چي پیغمبر کله په مدینه کي اقتدار پیدا کړ، نو داسي يې ونه کړل چي د مديني اوسېدونکي محکوم کړي او له محکومیت څخه يې په ګټي اخیستني له هغوی سره جګړه وکړي. د دې پر ځای يې د عربو له قبیلوي خلکو سره د خبرو اترو له لاري تړونونه وکړل او همدارنګه يې د ټول عربستان قبیلوي خلک د تړونونو په مرسته د سولي په رسۍ پیوند کړل.

که د اسلام ژوره مطالعه وشي، معلومیږي چي اسلام د هغو وسایلو ریښې له منځه وړي چي د جنګ سبب ګرځي. دا چي جنګي خلک ولي جګړه کوي، دوه بنيادي عوامل لري، یو د دښمن له منځه وړل او بل د سیاسي قدرت لاس ته راوړل. په اسلام کي د دغو دواړو اهدافو د لاس ته راوړلو لپاره هيڅ جواز نه شته.

تر کومه حده چي د دښمن مسئله ده، لکه څنګه چي يادونه وشوه د قرآن يو آيت تلپاتې لارښوونه ده. د دې آيت ترجمه دا ده: او ښېګڼه او بدګڼه دواړې برابري نه دي، ته په ځواب کي هغه څه وکړه چي تر هغه غوره وي، بيا به وګورې د هغه چا چي ستا او هغه تر منځ دښمني ده، داسي شي لکه يو نږدې دوست. (فصلت، ۳۴)

له دې څخه معلومه شوه چې د مخالف په وړاندې د اسلام لارښوونه دا ده چې دښمني له منځه یووړل شي، نه دښمن. هر دښمن حقیقي دښمن نه وي، ځکه د هر دښمن په درون کې یو دوست انسان پټ وي، له دې کبله مسلمانانو ته ښایي چې د یو اړخیز غوره چلند له مخې د مخالف په درون کې پټ انسان ته د ځان رسولو هڅه وکړي او د همدې نېک چلند له مخې دښمن د خپل ځان ملګرى کړي.

د قرآن له مطالعې څرګندېږي چې قرآن د دښمن او بریدګر تر منځ توپیر کړى دى. د دښمن په اړه یې امر دا دئ چې له هغه څخه دې نفرت نه کیږي، بلکې د ښه چلند له مخې دې د هغه د ملګرې کېدو هڅه وشي. البته که له مقابل لوري څخه حمله وشي، نو د داسې بریدکوونکي په وړاندې د دفاعي جګړې اجازه شته. دغه امر چې د قرآن کریم له کومو آیتونو څخه څرګندیږي، له هغوی څخه یو په دې ډول دى: **وَقَاتِلُواْ فِي سَبِيلِ اللّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلاَ تَعْتَدُواْ**. (**البقره**، ۱۹۰) (او د الله په لار کې له هغو خلکو سره وجنګېږه چې ستا سره جنګیږي او تېرى مه کوئ).

له دغه ډول آیتونو څخه معلومیږي چې د جګړې اجازه یوازې په هغو وختونو کې شته چې کومه ډله په یو اړخیز ډول پر مسلمانانو تېرى وکړي. په اسلام کې له دې ډول عملي تېري پرته هیڅ ډول جګړه جواز نه لري.

د جګړې او امن په باب چې اسلام کوم بنیادي اصول ټاکلي دي، هغه د قرآن له دغو الفاظو څخه څرګندیږي: **فَمَا اسْتَقَامُواْ لَكُمْ فَاسْتَقِيمُواْ لَهُمْ**. (**التوبه**، ۷) (تر کومه وخته چې هغوی ستا سره ستونزه ونه لري، ته هم له هغوی سره سم چلند کوه). له دې قرآني امر څخه معلومیږي چې د قومونو یا ډلو تر منځ د اړیکو اصول دا دي چې که یوه ډله د امن طرفداره وي، نو مسلمانان هم باید د سولې لار خپله کړي.

مسلمانان نه شي کولای چې مقابل لوری یې سوله ییزه لار خپله کړي او مسلمانان پر دې سربېره د یو عذر له مخې په جګړه لاس پوري کړي. د مقابل لوري له تېري پرته هیڅ عذر د جګړې لپاره د منلو نه دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم په ۵۷۰ کې په مکه کې زېږېدلی دی. په ٦۱۰ کې په پیغمبرۍ مبعوث شو. تر هغه وروسته یې ۲۳ کاله د پیغمبر په توګه ژوند وکړ. له دې ۲۳ کالو څخه یې لومړني ۱۳ کاله په مکه او پاته ۱۰ کاله په مدینه کې تېر کړل. د قرآن ځیني سورتونه په مکې او ځیني په مدني دور کې نازل شول. د پیغمبرۍ په دوره کې رسول الله څه وکړل! پیغمبر خلکو ته د **اقرأ باسم رب الذی خلق** (**العلق**) او دې ته ورته نور غیرحربي آیتونه واورول. رسول الله خلکو ته وویل چې **ایها الناس قولوا لا اله الا الله تفلحوا**.

پیغمبر خلکو ته د دعا او عباداتو طریقې وښوولې. خلکو ته یې د اخلاقو او انسانیت تعلیم ورکړ. خلکو ته یې وښوول چې که څوک تاسو وځوروي بیا هم له زغم او اعرض سره ژوند وکړئ. قرآن یې د یو اصلاحي او دعوتي کتاب په توګه تر خلکو ورساوه.

رسول الله د دې ریکارډ کښېښود چې په دارالندوه (د مکې پارلمان) کې د څوکۍ د ترلاسه کولو پر ځای په جنت کې د ځای موندلو هڅه وشي. د خپل کردار په توګه یې خلکو ته وښوول چې که د کعبې په څېر مقدس ځای کې ۳٦۰ بتان ایښودل شوي وي، بیا هم له ټکر پرته خپل هدف په سوله ییز ډول پیلېدای شي. رسول الله خلکو ته وښوول چې انسان په سختو حالاتو کې خپل ځان د خلکو له نفرت څخه وژغوري او سوله ییز واوسي، تر څو د خلکو د خیرغوښتني کار پای ته ورسوي.

پیغمبر چي په خپل ژوند کي څه ډول غیرمتشدده کارونه کړي، هغه ټول بېشکه ستر اسلامي کارونه ول، بلکي دا د نبوت اصلي هدف دی. جنګ یوازي یوه استثنایي اړتیا ده، له دې کبله فقهاوو جنګ ته حسن لغیره ویلی دی.

Not for the sake of Islam, but due to some pratical reasons.

## د حدیبیې سوله

د حـدیبیې سـوله د اسـلام د ابتـدايي تـاریخ یـوه مهمـه پېښـه ده. کلـه چـې د حدیبیې سوله وشوه، نو د قرآن دغه آیت نازل شو: **إِنَّا فَتَحْنَا لَـکَ فَتْحًـا مُّبِینًـا**. (دا سوله ستا لپاره د بریا یو یقیني ضمانت دی).

رسول الله خپله مبارزه په ٦١٠ سنه کې پیل کړه. د رسول الله دا مبارزه د توحید لپاره وه. هغه مهال په عربستان کې ډېری مشرکین اوسېدل. هغـوی د پیغمـبر له مبارزې سره جوړ نه ول او بالاخره یې د رسول الله سخت مخالف وکړ، حتـی تر دې حده چې په جګړې یې لاس پوري کړ. څـو کالـه د جګـړې حالـت دوام وکړ. د جګړه ییز حالت له امله د دعوت او تعمیر مبارزه په سمه توګه پرمختګ نه شوای کولای.

www.sikaraam.com

د دغه ناسم حالت د له منځه وړلو لپاره پيغمبر لـه خپلـو مخـالفينو سره د سـولي خبري اترې پيل کړې. دا خبري اترې په حديبيه کې وشوې. مخالف لوري يـو اړخيز شرايط وړاندي کول چي بالاخره تر دوو اوونيو خبرو اتـرو وروسـته رسـول الله د خپلو مخالفينو شرايط په يو اړخيز ډول ومنل، له هغوی سره يـې د سـولي تړون وکړ او جګړې ته يې د پای ټکی کېښېښود.

د دې تړون پايله دا شوه چي مسلمانانو ته د دعوت او رغوني فرصتونه په لاس ورغلل، البته د مثبتي رغوني مبارزه چټه روانه وه. تر دې وروسته يوازي پـه دوو کالو کي اسلام دومره قوي شو چي له ويني بهېدني پرته په ټول عربستان کـې خپور شو.

د حديبيې سوله يوه منفرده يا استثنايي پېښه نه ده، بلکـې دا د فطـرت يـو عـام اصل دئ يا په بل عبارت دې ته د نظم تګلار ويلای شو. په دنيا کي يو سړی يا يو قوم يوازي نه دی، بلکي دلته زيات انسانان اوسيږي، د هر انسان علاقـه بېله-بېله ده، له دې کبله د انسانانو تر منځ هـر وخـت سـتونزي او مسـايل پيـدا کيږي. په داسي حالـت کـې يـوازي دوه ممکـن حالتونـه دي، لـه سـتونزو سره مواجه کېدل يا له ستونزو څخه مخ اړول او مخته تلل. لومړی د جنـګ طريقـه ده او دوهمه د سولي. قرآن کريم فرمـايي: وَٱلصُّلۡحُ خَيۡرٌ. (النساء، ۱۲۸) (سـوله ډېره ګټوره ده). رسـول الله د دې قـرآني لارښـووني لـه مخـې د حـديبيې سـوله وکړه او دا د اسلام لپاره کامیابه سوله ثابته شوه.

د سولي يا نظم (adjustment) طريقه د فطـرت لار ده. د بېلګـې پـه ډول يـوه بهېدونکي چينه درواخلئ، تاسو وينئ چي د چينې اوبه کلـه لـه ډبـري سره مـخ کيږي، نو د کاڼي د ماتولو هڅه نه کوي، بلکي د ډبري څنګ ته لار پيدا کوي او مخته ځي. دارنګه کله چي يو څوک پر سړک تيريږي، نـو لـه مخـامخ مـوټر سره ټکر نه کوي، بلکي له څنګ سره يې تيريږي او مخ ته ځي.

د دې سوله ييزي طريقې نوم حديبيه دی. د حديبې تګلاري ته له بل پلوه داسي هم ويلای شو چي مسايل صرف نظر کول او له فرصتونو کار اخيستل. دا يو ابدي اصل دئ چي له ټول انساني ژوند سره تړاو لري، هغه که له کورنۍ، ټولني يا ملتونو سره وي. هر ځای د ښه ژوندانه همدا يوازينی اصل دی. د حديبيې د سوله ييزي طريقې د پرېښودلو پايله يوازي تصادم دئ او له ټکر سره ستونزه نه هواريږي. د حديبيې د سولي طريقه که ژوند وګڼل شي، نو د تصادم او جګړې طريقه يوازي مرګ دی.

د حديبيې د سولي طريقه په دنيا کي د برياليتوب يوازينۍ لار ده. دا طريقه انسان له منفي سوچ څخه مثبت لوري ته بيايي. انسان له دې زيانه ژغوري چي په تصادم کي وخت ضايع کړي او فرصتونه ونه کاروي. د حديبيې د سولي طريقه انسان د دې وړ ګرځوي چي خپل زيانونه په مفاداتو واړوي او منفي په مثبت تبديل کړي.

## افراطیت د اسلام په جامه کي

په قرآن کي ویل شوي دي چي د لومړي انسـان ادم علیـه السـلام زوی قابیـل خپل ورور د شخصي هدف لپاره وواژه. تر دې وروسته ویل شوي دي چـي: لـه دې کبله موږ پر بني اسرائیلو لازمه کړه چي که څوک له بل چـا لـه وژلـو او پـه ځمکه کي له فساد پرته یو کس ووژني، ګواکي ټـول انسـانان يـې ووژل او چـا چي یو کس وژغوری، ګواګي ټول انسانان يې وژغورل. زموږ رسول دوی ته لـه ښرګندو احکامو سره راغی، خو لـه دې سره-سره د دوی ډېـر کسـان پـه ځمکـه کي فساد کوي. (المائده، ۳۲)

له دې په ډاګه شوه چي په الهي شریعت کي د انسان وژنه تـل یـو نـاوړه جـرم بلل شوی دی، خـو انسـان د خپـل بغـاوت لـه املـه هـر وخـت د دې مخالفـت

کوي، مګر په دې اړه د لرغوني او اوسني دور تر منځ يو څه توپير موندل کېږي. لرغونو انسانانو يا د شخصي ګټو لپاره وژني کولې يا د غچ اخيستلو لپاره، ځکه نو په لرغوني تاريخ کې د قتل معملې يو حد درلود او له حده زياتي وژني نه کېدلې.

په اوسني دور کې د انسان وژني يو نوی دود رامنځته شوی دئ چې فکري وژنه بلل کېدای شي يا د يوې ايډيالوژۍ پر بنسټ د خلکو وژل يعنې د فکري جواز (ideological justification) پر بنسټ د انسانانو وينې بهېول. د ايډيالوژۍ له امله د خلکو د وژني دې تصور انسانانو ته دا فرصت ورکړ چې ملامت او سلامت ته له پاملرني پرته هر څوک ووژني، مګر بيا يې هم په زړه کې هيڅ عاطفه ځای پيدا نه کړي، ځکه د خپلې فرضي عقيدې له مخې فکر کوي چې د حق لپاره وژني کوي.

د ايډيالوژۍ پر سر د وژني لړۍ د شلمې پېړۍ په نيمايي کې کمونيستانو راپيل کړه. دوی پر جدلياتي ماديت (dialectrical materialism) باور درلود، له دې عقيدې سره سم بدلون يوازي په دې ډول راتلای شي چې د انسانانو يوه ډله د زور زياتي له لارې بله له منځه يوسي. هغوی د دې عقيدې له مخې په بېلابېلو هيوادونو کې تر ۵۰ ميليونه ډېر کسان ووژل.

د نظرياتي وژنو نوري دردوونکې بېلګې د اسلامي نړۍ پيښې دي. د شلمې پېړۍ په لومړنۍ نيمايي کې سختدريځو افکارو وده وکړه، د دې افکارو په رامنځته کولو او خپرولو کې د اوسني وخت دوو لويو ډلو اغېزناک رول ادا کړ. په عربي نړۍ کې اخوانيان (الاخوان المسلمون) او په نوره اسلامي دنيا کې جماعت اسلامي.

اخوانیانو د خپلي ځانګړي ایډیالوژۍ له مخي دا شعار ورکړ چي: **القرآن دستورنا والجهاد منهجنا**. (قرآن مو قانون او جهاد مو تګلار ده). په عربي نړۍ کي دې شعار دومره محبوبیت ترلاسه کړ چي پر لویو لارو یې داسي انګازې وکړې:

**هلم نقاتل هلم نقاتل　　　　فان القتال سبیل الرشاد**

له فلسطین څخه نیولې تر افغانستان، چیچنیا او بوسنیا پوري چي هر ځای د اسلامي جهاد په نوم افراطي کړني وشوې، د ټولو علت همدا مفکوره وه.

همداراز جماعت اسلامي دا دریځ خپل کړ چي اوسمهال په ټوله نړۍ کي کوم نظامونه دود دي، هغه طاغوتي نظامونه دي. دا د هر مسلمان فریضه ده چي طاغوتي نظامونه له منځه یوسي او پر ځای یې اسلامي نظام رامنځته کړي. دا کار دومره اړین دئ چي که د خبرو اترو له لاري ونه شي، باید مسلمانان له زور څخه په کار اخیستلو د طاغوت له پلویانو د واک واګي واخلي او په ټوله نړۍ کي اسلامي حکومت رامنځته کړي. په پاکستان او کشمیر کي چي د اسلام په نوم کومي افراطي کړني کیږي، هغه هم په بشپړ ډول د همدې جعلي نظریې پایله ده.

د ۲۰۰۱م کال د سپتمبر تر ۱۱ وړاندي او وروسته چي د نړۍ په بېلابېلو سیمو کي د اسلام په نوم کومي ناولي کړني ترسره شوي دي یا دوام لري، په مستقیم یا غیرمستقیم ډول له همدې دوو تش په نوم انقلابي غورځنګونو څخه سرچینه اخلي.

د دې دوو ډلو د بنسټګرو ناسم فکر له هغه ځایه پیلیږي چي د ډلي او دولت (State) تر منځ یې توپیر درک نه کړ. یوه مشروع دولت چي کوم مسئولیت درلود، دوی هغه د خپلي ډلي مسئولیت وباله. له اسلامي لاربښوونو سره سم

جګړه ییز جهاد او د ټولنیز شریعت رامنځته کول په بشپړ ډول د حکومت دنده ده. د دې اهدافو لپاره د ترهګرو ډلو جوړول په اسلام کې هیڅ جواز نه لري.

په اسلام کې چې د ډلي کوم حدود لازمي دي، هغه د قرآن له یوه آیت څخه ښکاري. په دې آیت کې ویل شوي دي: باید په تاسو کې یوه داسي ډله وي چې خیر ته بلنه وکړي، خلک نېکیو ته وهڅوي، له بدیو یې راوګرځوي او همدا خلک بریالي دي. (آل عمران، ۱۰۴)

له دې قرآني لارښووني سره سم د ډلي جوړول یوازې د دوو اهدافو لپاره جواز لري، یو د سوله ییزې-نېکې بلنې لپاره او بل په سوله ییز ډول د نصیحت او وعظ لپاره. له نېکې بلنې څخه هدف نامسلمانو ته د اسلامي پیغام رسول دي او له امر بالمعروف او نهي عن المنکر څخه هدف د مسلمانانو تر منځ د دعوتي مسئولیت پوره کول دي. له دې پرته د سیاسي اړودوړ لپاره د ډلو جوړول سراسر بدعت او ګمراهي ده چې په اسلام کې هیڅ ځای نه لري. باید ووایو چې په قرآن کې له جماعت څخه مراد ډله ده، نه ګوند.

د اخوان المسلمین او جماعت اسلامي بنسټګرو چې کوم جعلي نظریات رامنځته کړل، هغه هم د شریعت خلاف ول او هم د فطرت. دا ډول غیرمنطقي نظریات تل په تشدد پیلیږي او پر منافقت پای ته رسیږي. تر څو چې د خلکو په افکارو کې د خپلو روماني تصورات جنون وي، هغوی د خپل فرضي انقلاب لپاره داسي لېونیان کیږي چې د استشهاد په نوم ځانمرګي بریدونه هم روا ګڼي. خو کله چې حقایق د دوی د لېونتوب دا مورچلونه ویجاړوي، نو تر دې وروسته هغوی له منافقته کار اخلي، یعني له فکري او اعتقادي پلوه بیا هم خپله پخوانۍ نظریه مني، مګر په عمل کې په بشپړ ډول د همږغۍ لار نیسي او خپلي دنیوي ګټې پالي.

## ترهګري څه ده؟

اوسمهال د ترهګرۍ (terrorism) خبري ډېري تودې دي. نژدې په هر هیـواد کي پر دې موضوع لیکني او بحثونه کیږي، مګر زما لـه معلومـاتو سره سـم تـر اوسه یې هیڅ څرګند تعریف نه دئ شوی. خلـک ترهګـري غنـدي، خـو دا نـه وایي چي په مشخص ډول ترهګري څه ده.

لیکوال د اسلامي لارښوونو په رڼا کي د ترهګرۍ د درک هڅـه کـړې ده. زمـا له مطالعې سره سم د غیرحکومتي ډلو له خوا د وسلې پورته کول ترهګري ده.

Armed struggle by non-governmental ogranisations

اسلام د خپلواکۍ اصل مني، له اسلامي لارښوونو سره سم هر سـړی یـا ډلـه د ملي او سیاسي اهدافو لپاره د سوله ییـز یـون کولـو حـق لـري او تـر هغـو یـې

www.sikaraam.com

څښتن دئ چې په مستقیم یا غیرمستقیم ډول یې تاوتریخوالي ته لاس نه وي اچولی. په اسلام کې د وسلې کارولو یا د یوې جدي اړتیا لـه مخـې د وسـلې استعمالولو حق په اصولي توګه رامنځته شوی حکومت لري، نادولتي موسسې (NGOs) د هـیڅ عـذر پـر بنسـټ د وسـلې پورتـه کولـو حـق نـه لـري. (د دې اسلامي حکم پوره تفصیل زما په نورو اثارو کې لوستلای شئ).

مجرم ته سزا ورکول، د یرغلګـرو دفـاع او داسي نـوري چـاري چـې لـه نړیوالـو اصولو سره سم مشروع دولت ته د وسله وال غبرګون حق ورکوي، همـدا خپلـه د اسلام اصول هم دي. د دې اصولو پـه رڼـا کـې د ترهګـرۍ تعریـف دا دئ چې ترهګري د هغه وسله وال فعالیت نوم دئ چې د نادولتي ډلو له خوا تـرسره کیږي. دا ډول نادولتي ډلي که هر ډول عذر وړاندي کړي، په هیڅ حالت کـي د منلو نه دی. که یو نادولتي بنسټ دا احساسوي چې په هیواد کې بې عدالتي روانه ده او حقوق تر پښو لاندي کیږي، نو هغه یوازي دا حق لري چې د سـوله ییزو هڅو له لاري خپل یون ته دوام ورکړي، یعني په هیڅ حال کي او د هـیڅ عذر پر بنسټ د افراطیت لار نه شي غوره کولای.

که کوم شخص یا نادولتي تنظیم دا وایي چې مـوږ سـوله ییـزي هڅـي غـواړو، خو مخالف لوری د عمل په وسیله زموږ د دې حق منلـو تـه چمتـو نـه دی، پـه داسي حال کي موږ باید څه وکړو. ځواب دا دئ چې د دې مسئولیت حکومـت ته متوجه دی، نه نادولتي تنظیم تـه. کـه څـوک دا احساسـوي چـي حکومـت خپل مسئولیت نـه تـرسره کـوي، بیـا هـم هغـه تـه د دې جـواز نـه شـته چـې د حکومت کار خپله پیل کړي، په داسي حال کي هـم د هغـه لپـاره پـه دوو لارو کي د یوې غوره کول دي، یا به صبر کوي یا سـوله ییـزي هڅـي. یعنـي یـا بـه سوله ییز کار ته دوام ورکوي، یا به هیڅ نه کوي. دلتـه دا پوښـتنه پیـدا کیـږي چې د دولتي ترهګرۍ یا حکومتي تشـدد حکـم څـه دی، یعنـي کـه حکومـت د

نامناسب تشدد هغه کار وکړي چي نادولتي تنظیم یې کوي، نو په دې حالت کي به یې حکم څه وي. ځواب دا دئ چي حکومتي تشدد د حکومت لپاره د خپل حق بېځایه کارونه ده، مګر د نادولتي تنظیم لپاره تشدد یو داسي کار دئ چي د کولو هیڅ حق یې نه لري، څرګنده ده چي له حق پرته یو ګام اخیستل او له حکمي پلوه د حق له درلودلو سره-سره د هغه بېځایه استعمال (misuse) دواړه له یو-بله د نوعیت له پلوه توپیر لري.

په بل عبارت که نادولتي تنظیم تشدد کوي، نو په وړاندي به یې د جواز له دلیل پوښتلو پرته ګام اخیستل کیږي. برعکس که رسمي دولت بېځایه تشدد کوي، نو هغه ته به ویل کیږي چي تاسو باید له خپل روا حق څخه جایزه استفاده وکړئ. د حق په ناروا کارولو حکومت ځان هغه ډول مجرم ګرځوي لکه یو نادولتي تنظیم.

د بېلګي په توګه دا حالت داسي وګڼئ چي که یو ماهر جراح د بدن پر غلطه برخه عملیات وکړي، نو هغه به د خپل حق د بېځایه کاروني مجرم وي، خو همدا جراح پر سم ځای د عملیاتو کولو حق حتمي لري، مګر د ناسم ځای د عملیاتو هیڅ حق نه لري. برعکس که یو غیرمسلکي کس د انسان بدن عملیاتوي، دا کړنه یې په هر حال غلطه ده، ځکه یو خو غیرمسلکي کس نه په ظاهره پر سم ځای د عملیاتو حق لري او نه پر غلط ځای.

## د څرګندي بریا راز

د رسول الله په زمانه کي یوه پېښه د حدیبیې د سولي په نوم یادیږي. رسول الله غوښتل چي له خپلو ملګرو سره د عمرې لپاره مکې ته ولاړ شي، مګر د مکې مشرانو په ناروا ډول مکې ته د هغه د داخلېدو مخه ونیوله. په دې ډول د دواړو لورو تر منځ شخړه رامنځته شوه. رسول الله یې دا حل وړاندي کړ چي مکې ته د داخلېدو له خپل حق څخه لاس پر سر شي. په بدل کي د مکې اوسېدونکو هغه ته دا ضمانت ورکړ چي دوی به د ده پر خلاف له دې امله جګړه خوشي کوي چي تر منځ یې د سولي فضا رامنځته شي.

د حدیبیې د سولي تر تړون سمدستي وروسته د قرآن ۴۸ سورت نازل شو. په دې سورت کي اعلان شوی دئ چي د حدیبیې سوله ستاسو لپاره څرګنده بریا

ده. له دې قرآني وينا څخه يو مهم اصل ترلاسه کيږي، هغه دا چې د شخړې پای ته رسېدل تل د واخله او ورکړې (give and take) له لارې وي. رسول الله او د هغه ملګرو د خپلو مخالفينو دا غوښتنه ومنله چې مکې ته د ننوتلو په اړه خپل حق پرېږدي او په بدل کې يې مخالفين دې ته چمتو شول چې د مسلمانانو پر خلاف خپل جنګي فعاليتونه ودروي او په سوله کې د کار کولو فرصت ورکړي.

دا خبره په نورو الفاظو داسې هم بيانېدای شي چې په دې نړۍ کې بريا د هغو کسانو ده چې د ماتې له احساس پرته پرشاتګ او وړاندې تګ ته چمتو وي. په دې دنيا کې موندنه يوازې د هغو کسانو برخليک دئ چې د نورو ورکړې ته تيار وي. په دې دنيا کې د کامياب ګام اخيستلو نېکمرغي يوازې هغه څوک ترلاسه کوي چې نورو ته د لار ورکولو حوصله ولري.

د همدې اصولو په رڼا کې د کشمير ستونزې ته هم پام وکړئ. پاکستاني مشرانو چې د کشمير د شخړې د هوارې لپاره کومه تګلار غوره کړې، په بشپړ ډول ناکامه ده. د دې يوازينی سبب دا دئ چې دوی په دې اړه د قرآن ياد شوي اصول نه دي خپل کړي. دوی خپل ځانونه پېژندلي دي، خو د فطرت قانون يې نه دئ پېژندلی.

په ۱۹۴۷ کې دا ستونزه بېخي ساده وه. دا خبره ما څو ځلې په الرسالة مجله کې هم کړې ده. دا مسئله هغه مهال په خپل فطري حالت کې وه. په هغه وخت کې پاکستاني مشرانو د دې فرصت درلود چې د حيدرآباد په اړه خپله دعوه پرېږدي او په نتيجه کې ټول کشمير ترلاسه کړي، خو پاکستاني مشرانو د خپل حماقت له امله داسې ونه کړل او دا ستونزه تر اوسه د دواړو هيوادونو لپاره د ويجاړوونکې شخړې په توګه پاته ده.

د بنګله دېش تر جګړې وروسته په ۱۹۷۱ کې د پاکستان ۹۳زره پوځیان هندي ځواکونو ونیول. هغه مهال شونې وه چې د دې ۹۳زره پوځیانو په تبادله کې لـه پاکستان سره د کشمیر ستونزه هـواره شي، خـو یـو ځـل بیـا د دواړو هیوادونـو مشران ناکام شول او له دې زرین فرصت سره-سره د دواړو هیوادونو تـر مـنځ د کشمیر ستونزه هماغسې ناحله پاته شوه.

د ۲۰۰۱ کال د وروستیو وختونو پر مهال په اګره کـې د کشـمیر پـه اړه د دواړو هیوادونو مشرانو غونـډه وکـړه. هغـه مهـال لیکـوال دا وړانـدیز کـړی وو چـې د اوسني حالت (status quo) په منلو دې دا ستونزه هواره شي، یعنـې د کشـمیر کومه برخه چې د پاکستان په واک کـې ده، هغـه دې د پاکسـتان برخـه وبلـل شي او کومـه برخـه چـې یـې د هندوسـتان تـر ولکـې لانـدې ده، هغـه دې د هندوستان خپلواکه برخه وګڼل شي، خـو پـه دې ځـل هـم د دواړو هیوادونـو د مشرانو تر منځ کوم جوړجاړی ونه شو او دا شخړه چې له وړاندې په کـوم ځـای کې وه، پر هماغه ځای پاته شوه.

بالاخره د وروستي حل په توګه لیکوال په الرسالة کې دا وړاندیز وکړ چې د دې ستونزې په بـاب دې یـو ډول د ډیلینکینـګ (delinking policy) تګـلار غـوره شي. د دې مطلـب دا دئ چـې د کشـمیر سـیاسي شـخړه دې لـه نـورو مهمـو انساني غوښتنو بېله شي. د کشمیر مسئله دې په پوره تاکیـد د سـولې پـه فضـا کې د خبرو اترو مېز ته وړاندې شي او له دې پرته چـې کـومې تـر ټولـو مهمـې غیرسیاسي معاملې دي، د هغو پـه اړه دې بشـپړه عـادي پالیسـۍ اختیـار شي. مثلاً د سوداګرۍ، زدکړو، تګ راتګ، سیاحت، کلتوري اړیکـو او نـورو انسـاني معاملاتو په اړه دې داسې مـنځلاري روابـط جـوړ شي چـې څـه ډول اړیکـې د هندوسـتان او نېپـال یـا د اروپـایي اتحـادیې د هیوادونـو تـر مـنځ دي. د دې

تګلاري ګټه به دا وي چې د کشمير ستونزه به د نورو بشري او ملي پرمختګونو په وړاندي هغه ډول خنډ نه وي لکه اوس چې ده.

د کشمير په اړه د پاکستاني مشرانو تر ټولو ستره تېروتنه دا ده چې دوی لا هم په تېر تاريخ کي ژوند کوي. دوی غواړي د خپلي تېروتني بيه له نورو ترلاسه کړي. دوی د فطرت تغير نه منونکو قوانينو ته په پام نه کولو د خپلو جعلي فرضيو پر بنسټ يوه بېله دنيا غواړي، مګر د حقيقت په نړۍ کي دا ډول کار ناممکن دی.

د کشمير په اړه د پاکستان اوسنۍ د حقيقت خلاف تګلاري پاکستان ته سخت زيان رسولی دی. که پاکستان پر همدې تګلاري ټينګار وکړي، نو وروستۍ پايله يې د دواړو هيوادونو تر منځ خونړۍ جګړه ده. که خدای مه کړه د دواړو هيوادونو تر منځ جګړه رامنځته شي، نو هر هيواد ته به سخت زيان ورسوي. که څه هم د دواړو هيوادونو تر منځ دا توپير دئ چې هندوستان به د يوه لوی هيواد په توګه د هغه تر عهدې ووځي، خو تر کومه ځايه چې په پاکستان پوري اړه لري، هغه نسبتاً وړوکی هيواد دی، د جګړې په صورت کي به يې يقيني برخليک دا وي چې اوس پر کشمير د هندوستان برلاسي نه مني، خو تر جګړې وروسته به دومره ويجاړ شي چې د خپل ځان د سمون لپاره به د ځو نورو هيوادونو برلاسي د دې لپاره ومني چې د هغوی په مرسته ژوندی پاته شي او تر کومه ځايه چې په کشمير پوري تړلې ده، د هغه سياسي نقشه به له څه بدلون پرته هماغسي وي، لکه څرنګه چې نن ليدل کيږي.

## د اسلام په نوم بې ديني

يو لوستي ځوان چې په امريکا کې اوسيږي، د ليدني پر مهال راته وويل نن-سبا په امريکا کې د اسلام تصور دومره خراب شوی دئ چې ځان ته په مسلمان ويل ويره احساسوم. که څوک زما څخه د خپل دين په اړه وپوښتي، زه ورته وايم چې زما دين انسانيت دی. که زه ورته د اسلام نوم واخلم، سمدستي به ووايي چې بيا خو نو يو ترهګر يې.

Then you must be a terrorist

ده وويل د اسلام دا انځور نوي ميډيا رامنځته کړی دی. ما ويل نه، د اسلام دا تصور خپله مسلمانانو رامنځته کړی دی. حقيقت دا دئ چې مسلمانان په بېلابېلو سيمو کې د اسلام په نوم افراطيت خپروي چې د رسنيو کارکوونکي د

www.sikaraam.com

همدغو کړنو راپورونه ورکوي. څرنګه چي مسلمانان دا حرکات د اسلام په نوم کوي، ځکه نو په رسنیو کي اسلام ته منسوبیږي. څرنګه چي مسلمانان خپله دې کړنو ته د اسلام نوم ورکوي، نو رسنۍ يې څنګه په بل نامه خپاره کړي؟!.

هغه وویل دا ډول سختدریځي کړني یوازي څو محدود مسلمانان کوي، نه ټول مسلمانان، نو بیا ولي د هغوی له املـه د ټولو مسلمانانو په هکله منفي دریځ سم بللای شو. ما ورته وویل دا سمه ده چي دا ډول کړني څو محدود مسلمانان کوي، مګر له دې سره دا هم سمه ده چي نور مسلمانان دا ډول کړني په ښکاره نه غندي او د هغوی په اړه يې چوپتیا غوره کړې ده، له همدې کبله به خپله د اسلام د اصولو پر بنسټ دا خبره پر ځای وي چي که د اسلام په نوم د کرکي او تشدد د دې کړنو مسئولیت په مستقیمه توګه د څو کسانو پر غاړه وي، نو پاته مسلمانان يې په غیرمستقیم ډول مسئولین دي.

دامهال د مسلمانانو دا ډول چلند ډېر ځوروونکی دی. د اسلامي حکومت، نبوي نظام او اسلامي جهاد په نوم داسي څه ترسره کیږي چي په بشپړ ډول د اسلام خلاف دي چي خلک خدایي دین ته د رانژدې کېدو پر ځای له هغه لیري کوي، همدې ویرجن حالت ته په کتو یو شاعر ښه ویلي دي:

کسے خبر تھی کہ لے کر چراغِ مُصطَفوی    جہاں میں آگ لگاتی پھرے گی بولہبی

## اسلامي نظام

په اوس وخت کي دغه ډول سختدریځ غورځنګونه د اسلامي یا نبوي نظام په نوم پر مخ ځي، مګر حقیقت دا دئ چي دا ډول غورځنګونه د اسلام په نوم سیاستونه دي. د سیاسي واک د ترلاسه کولو لپاره ډلي جوړول په اسلام کي جواز نه لري. د اسلامي دعوت هدف د فرد جوړول دي، نه د دولت یا حکومت

مسلمانول. صوفيانو (د تصوف لارويانو) چې په تېرو پېړيو کې کوم کار وکړ، هغه د فرد اصلاح وه. دې کار په سوله ييزه طريقه دوام درلود او هيڅکله د کرکې او تشدد خپرولو سبب نه شو. د تصوف په وسيله ټول سولې او انسانيت وده وکړه، مګر د اوسني عصر ټش په نوم اسلامي حرکتونه د دې معکوسه نتيجه ورکړې ده.

له اسلام سره د کرکې او تشدد پيوند صرف د اوسني عصر د ټش په نوم مسلمان مشرانو توليد دئ چې په جعلي ډول يې حکومت او اقتدار خپل هدف وګرځاوه او حرکت يې پيل کړ. دوی پخپلو کړنو له اسلامه د کرکې او تشدد دين جوړ کړ، په داسې حال کې چې د خدای له خوا رالېږل شوی اسلام د امن او خواخوږۍ دين دی. مسلمان له انسانيت سره خواخوږي لري، د انسانيت وسله وال عسکر نه دی.

## اسلامي جهاد

که يو څوک په ميدان کې ودريږي، لاس او پښې ښوروي، يا کښېني وايي چې زه لمونځ کوم، نو په دې خبره د هغه دا کار لمونځ نه بلل کيږي. لمونځ ځينې مشخص شرطونه لري، له هغو شرطونو سره چې کوم عمل ترسره شي، هغه لمونځ دی، نه له هغو پرته.

اسلامي جهاد هم داسې دی. جهاد ځينې شرطونه لري، که له هغو شرطونو سره سم وشي، نو د الله په نزد جهاد دئ او که په عمل کې دا شرطونه نه موندل کيږي، نو يوازې اړودوړ جوړول دي، نه حقيقي جهاد.

اسلامي جهاد هغه دئ چې د الله په لار کې وي. د هيوادونو او مال په څير دنيوي ګټو لپاره جګړه کول او هغې ته د جهاد نوم ورکول يوازې فساد دی.

www.sikaraam.com

داسي کسانو ته هیڅکله د اسلامي جهاد ویاړ نه شي ورکول کېدای. همداراز له اسلامي شریعت سره سم، د یو چا پر خلاف د جګړې اعلان رسمي حکومت کولای شي. عام وګړي د دې اجازه نه لري چي پر خپل سر د جهاد په نوم د یو چا پر خلاف جګړه اعلان کړي. عام وګړي که هر ډول ګیله ولري هغوی مکلف دي چي په سوله ییز ډول خپل اعتراض څرګند کړي. د دوی لپاره په هیڅ حالت کي د جګړې او تشدد لار خپلول جواز نه لري.

همدا ډول وسله وال جهاد په بشپړ ډول یو دفاعي عمل دی. په اسلام کي هیڅکله یرغلیزه جګړه روا نه ده. پر دې سربېره که کوم قوم برید وکړي، نو هم باید لومړی په بشپړ ډول د جګړې د مخنیوي هڅه وشي. جګړه به یوازي په هغه صورت کي کیږي چي د جګړې درولو او مخنیوي ټولي هڅي ناکامه شي. د رسول الله مخالفینو تر ۸۰ ځلي زیاته هڅه وکړه چي هغه په جګړو او شخړو اخته کړي، خو ده ډېر ځلي د ښه تدبیر له امله د جګړې مخه ونیوله. ده یوازي د بدر، احد او حنین په جګړو کي عملي ونډه واخیستله او دا هغه مهال وو چي له جګړې پرته بله چاره نه وه. همداراز خپله د حکومت لپاره هم جګړه صرف هغه وخت جواز لري چي جنګ ته یې پوره چمتووالی نیولی وي. له ضروري چمتووالي پرته جګړه ځانوژنه ده، نه اسلامي جهاد. په اسلام کي یوازي ګټه درلودونکی اقدام جایز دی. کوم اقدام چي مثبته نتیجه نه لري، هغه د خپل حقیقت له مخي د ځانوژني ټوپ وهل دي، نه اسلامي یا دیني عمل. په اسلام کي جګړه هم د یو څرګند عمل نوم دی. اسلام هیڅکله پټو جګړو ته جواز نه ورکوي. د همدې اصولو له مخي په اسلام کي نااعلان شوې جګړه (proxy war) ناروا ده. ځکه په دې جګړه کي ښکېل حکومت د ناڅرګندي مرستي په وسیله نوري ډلي تشدد ته هڅوي او په ښکاره یې اعلان نه وي کړی.

## يرغمل نيونه

د اوس عصر- ځينـي مسـلمانان د خپلـو فـرضي دښـمنانو پـر خـلاف داسي لـه تشدده ډکي کړني کوي چي های جکينګ يا يرغمل نيونه بلل کيـږي. دا ډول ټولي کړني ناروا دي. څوک چي داسي کوي، هغه يقيناً له الله نه وېرېږي، کنه هيڅکله به دا ډول نـاوړه کـړني ونـه کـړي. د الوتکـو يرغمـل کـول پـر بېګنـاه انسانانو ظلم دی. دا ډول بې غيرته کړنـې هـم د بشر-يت خـلاف دي او هـم د الهي دين.

په اسلام کي د يرغمل نيوني حرمت د لومړني وخت په يوه پېښه ثـابتيږي. پـه مکه کي د رسول الله مخالفينو دا د انسانيت خـلاف کړنـه تـرسره کـړه چـي لـه دوی سره مېشت ځيني مسلمانان يې زنداني کړل او پر همـدې مهـال د رسـول الله او مخالفينو تر منځ د حديبيې د سولي مشـهور تـړون وشـو. پـه هغـه وخـت کي رسول الله له خپلو مخالفينو څخه دا غوښتنه ونه کړه چي تاسو زموږ کسـان بېرته راوسپارئ، البته په يو اړخيز ډول يې دا اعلان وکړ چـي کـه مـوږ ستاسـو کوم څوک ونيسو، له ځان سره به يې نه ساتو، بلکي تاسو ته به يې سـپارو. لـه دې څخه معلوميږي چي که دوهم اړخ زموږ کسان يرغمل کـړي، نـو هـم مـوږ ته روا نه ده چي د هغوی کسان يرغمل کړو.

## اصلي مسئوليت

دامهال چي د اسلام په نوم کومه کرکه او سختدريځي خپره ده، د هغـو اصـلي مسئوليت چا ته راجع کيږي؟ اصل مسئوليت يې هغـه مسـلمان زلميـان نـه دي چي د کرکي او تشدد په کړنو کي ښکېل شوي دي، بلکي اصلي مسـئولين يـې هغه تش په نوم اسلامي مفکرين دي چي دا ځوانان يې د اسلامي انقلاب پـه

www.sikaraam.com

نوم له يو داسي فکر سره وروزل چي په عملي ډول يې همدا منفي پايله درلوده او ورکړې يې هم ده.

اسلام د دعوت دين دئ او دوهمه طريقه د سياست تګلار ده. د دعوت طريقه سوله ييزه وي او د سياست طريقه ټکر دی. په اوس وخت کي تش په نوم مفکرينو اسلام په سياسي ډول تعبير کړی دی. د همدې نتيجه دا ده چي اسلامي دعوت په سياست بدل شو او په ناسم ډول له اسلام سره د هغو ټولو ناوړه شيانو ريښې پيوند شوې چي يوازي د سياست او سياسي خوځښتونو برخه ده.

دعوت د خپل فطري مزاج له مخي مخالف اړخ ته د امکاني دوست په بڼه کتل دي، مګر د سياست معامله له دې جلا ده. سياسيون د خپل ځانګړي دريځ له مخي مخالف اړخ ته د سيال او دښمن په شکل ګوري، همدا وجه ده چي د دعوتي هڅو له امله د خواخوږۍ فرهنګ رامنځته کيږي او د سياسي کړنو له امله د کرکي فرهنګ. په کومو ټولنو کي چي د خواخوږۍ فرهنګ وي، هلته هر ډول ښېګڼي وده کوي او په کوم ځای کي چي د کرکي فرهنګ وي، هلته هر ډول بدۍ او افراطيت خپريږي. له کرکي سره هيڅکله د خير شی نه شي يو ځای کېدای.

## مهم کار

حقيقت دا دئ چي د مسلمانانو له لوري اوسنی اړودوړ او تشدد نه يوازي د اسلام خلاف دی، بلکي هيڅ ګټه نه لري. دا نژدې تېر تاريخ يې د ثبوت لپاره کافي دی.

څرګنده ده چې د شلمې پېړۍ په لومړنۍ نیمایي کې ډېرى اسلامي هیوادونه په مستقیم یا غیرمستقیم ډول د لوېدیځو ځواکونو تر تسلط لاندې ول او تر دې وروسته د خپلواکۍ خوځښتونه پیل شول. نن دا ټول اسلامي هیوادونه په سیاسي ډول آزاد دي، چې شمېر یې نږدې ٦۰ ته رسیږي. د ارقامو له مخې د ملګرو ملتونو په غړو هیوادونو کې د اسلامي هیوادونو شمېر ډېر دی، خو له دې سره-سره د نړۍ په سیاسي نقشه کې مسلمانان هیڅ ارزښت نه لري. علت یې دا دئ چې په لرغوني تاریخ کې سیاسي ځواک یو څه رول درلود، مګر په اوسني عصر کې سیاسي ځواک د دوهمې درجې شی دی. نن زدکړې، ساینس، ټکنالوژي او پیاوړی اقتصاد ډېر مهم دي. یوازې په سیاسي ډول خپلواکي په نننۍ نړۍ کې هیڅ ارزښت نه لري.

څرنګه چې د اوسني عصر اسلامي هیوادونه په غیرسیاسي څانګو کې له نورو ملتونو سره پیوند دي، له همدې امله د نړۍ په نقشه کې چنداني رول نه شي ادا کولای. د دوی ولسونه لا هم تر ډېره حده له زدکړو بې برخې دي. په ساینس او ټکنالوژۍ کې تر اوسه هم لوېدیځو هیوادونو ته اړ دي. د نوي عصر له اړتیا سره سم یې اقتصادي پرمختګ نه دئ کړی. په ښکاره د سیاسي ځواک له درلودلو سره-سره د ژوند په ټولو څانګو کې له نورو شعبو سره تړلي دي. دوی د نورو ملتونو په پرتله له دې حدیث سره سم یوازې ید سفلی (لاندې لاس) دي او له خپلواکۍ سره-سره عملاً محکوم دي.

یو بل ښه سترګي خلاصوونکی مثال دا دئ چې په ډېرو اسلامي هیوادونو کې د دوی له ادعا سره سم اسلامي انقلاب راغلی دی، لکه مصر، پاکستان، ایران، الجزایر، سوډان، افغانستان او نور، خو دا هیوادونه د اصلي ستونزي په پرتله له نورو لویو ستونزو سره مخ شوي دي او ستونزي یې تر هغو هیوادونو ډیري لویي دي چې بې پرې بلل کیږي.

www.sikaraam.com

د دې علت دا دئ چې په علمي او اقتصادي څانګو کې دا تش په نوم اسلامي هیوادونه هماغومره کمزوري دي لکه بې پرې هیوادونه. له همدې امله د کولو اصلي کار دا دئ چې د اوسني وخت مسلمان ځوانان په همدې غیرسیاسي څانګو کې پرمختګ وکړي او په یقیني ډول دا له سیاسته لیري کار دئ او له سیاست و واک ترلاسه کولو سره هیڅ تعلق نه لري. پر دې سربېره په غیرسیاسي چارو کې کار کول یوازې د سولې په حالت کې امکان لري. په دې ډګرونو کې د خوځښت لپاره نه کرکې خپرولو ته اړتیا ده او نه تشدد پارولو ته. دا ټول مثبت کارونه دي چې له منفي فعالیتونو سره هیڅ تړاو نه لري.

## اسلامي جهاد

جهاد د ژوند يو حقيقت دی. کوم څه چې موږ عمل يا هڅه ( Struggle) بولو، عربي مترادف يې جهاد دی. جهاد نه له رازونو ډک شی دئ او نه د تشددپه مانا، په ساده ډول د پوره هڅي لپاره يوه کارېدونکې کلمه ده.

په پښتو کي وايو: کله چي زه را لوی شوم او په ژوند کي د هڅو مرحلې ته ننوتلم. همدارنګه په عربي کي ويل کيږي "بذل جهده" يعني هغه خپله پوره هڅه وکړه. په انګرېزي کي وايي:

We must struggle against this prejudice.

د يو هدف د ترلاسه کولو لپاره هڅي يو عام انساني صفت دئ او د دې لپاره د نورو ژبو په څېر عربي هم الفاظ لري. د جهاد حقيقي مفهوم همدا دی، په

www.sikaraam.com

عربي کي د کوښښ لپاره سعيې يو عام لفظ دی، مګر د جهاد په لفظ کي مبالغه هم ده يعني ډېره هڅه کول.

البته دلته يو توپير شته کله چي موږ د کوښښ، هڅو يا سترګل لفظ وايو، نو د ثواب يا عبادت مفهوم نه لري خو کله چي د جهاد لفظ يوه اسلامي اصطلاح وګرځېده نو دا مفهوم يې هم خپل کړ يعني که د هڅو مانا صرف کوښښ کول وي، نو د جهاد مطلب يو داسي کوښښ کول دي چي عبادت دئ او په کولو يې انسان ته ثواب ورکول کيږي. په قرآن کريم کي راغلي دي: **وَجَاهِدُوا فِي اللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِ**.

## جهاد په لغت کي

د جهاد اصل جُهد دئ چي د کوښښ مانا لري مګر د جُهد په ماده کي د مبالغې مفهوم شته، لکه چي وايي: **جهد اللبن** (د کوښښ په کولو يې ټول کوچ راوايستل) او **اجهد الدابه** (پر حيوان د هغه تر طاقت ډېر بار وړل) همدارنګه ويل کيږي: **بذل جُهدَه** (خپل ټول توان يې مصرف کړ) همداراز وايي: **لابلغن جهدی فی الامر** (زه به په دې چاره کي خپل ټول وس وکاروم) د جهاد او مجاهدې مانا هم دا ده. په قرآن کريم کي راغلي دي: **جاهدوا فی الله حق جهاده** (د الله په لار کي په حقيقي ډول پوره هڅه وکړئ).

د عربي په مشهور قاموس لسان العرب کي ويل شوي دي چي د جُهد مانا ډېره هڅه کول دي. لکه ويل کيږي چي: **جهدتُ جهدی و اجتهدت رأی و نفسی حتی بلغت مجهودی** (ص، ۱۳۳) (ما په دې ډول پوره هڅه وکړه چي خپل وروستي حد ته ورسېدم). همدا راز ويل کيږي: **جهد الرجل فی کذا ای جد فيه و بالغ** (هغه سړي په کار کي هڅه وکړه او خپل ټول توان يې مصرف کړ). د

جهاد او اجتهاد مانا ده: **بذل الوسع فی طلب الامر** (په یو کار کي خپل ټول توان په کار اچول)

حالاتو ته په پام ځیني وختونه د جهاد یا هڅو دا عمل له دښمنانو سره تر مقابلې رسیږي، هغه مهال د استعمال له مخي، نه د لغت له وجي دا لفظ د محاربې یا جګړې مفهوم هم خپلوي. امام راغب اصفهاني د استعمال پر بنسټ د جهاد درې ډولونه بیان کړي دي: له دښمن، شیطان او نفس سره مقابله (**والجهاد ثلاثة اضرب: مجاهدة العدو الظاهر و مجاهدة الشیطان و مجاهدة النفس**).

## جهاد په قرآن کي

په قرآن کي هم جهاد او د هغه مشتقات په هغه مانا کارېدلي دي چي په عربي لغت کي کاریږي یعني د یو هدف لپاره پوره هڅه کول. په قرآن کي د جهاد لفظ څلور ځلي راغلی او هر ځای د هڅو مانا ورکوي، نه په مستقیم ډول د جنګ- جګړې.

په دې لړ کي د لومړني قرآني آیت ژباړه دا ده: ورته ووایه که مو پلرونه، اولادونه، وروڼه، مېرمني، کورنۍ، ګټلی مال، هغه سوداګري چي تاسو یې له بندېدو وېرېږئ او د خپلي خوښي کورونه دا ټول تر الله، د ده تر رسول او د ده په لار کي تر جهاد درباندي ګران وي، نو تر هغو انتظار وکړئ چي الله خپله پرېکړه وکړي او الله نافرمانو خلکو ته لارښوونه نه کوي. (التوبه، ۲۴)

په دې آیت کي مسلمانانو ته امر شوی دئ چي دوی دي د قربانۍ تر بریده د اسلام په دعوتي هڅو کي د رسول ملګرتیا وکړي، که څه هم په دې کار کي یې ځاني ګټې په خطر کي ولویږي، مال او تجارت ته یې زیان ورسیږي او له

بدني کړاوونو سره مخ شي، دوی دي په هر حال کي د رسول د دعـوتي هڅـو ملاتړ وکړي.

په دې آیت کي د "**جهاد فی سبیل الله** " لفظ پـه حقیقـت کـي د رسـول د دعـوتي تګلاري لپاره کارول شوی دی، نه د جګړې لپاره. د قرآن په بل سورت کي امر شوی دئ چي د منکرینو خبره مه منه او لـه دوی سره د قـرآن پـه وسـیله لـوی جهاد وکړه. (الفرقان، ٥۲)

په دې آیت کي په ښکاره ډول له جهاد څخه مراد دعـوتي هڅـي دي، ځکـه د قرآن په وسیله جهاد بل مطلب درلـودای نـه شي. دا لفـظ پـه قـرآن کـي دریـم ځـای داسي راغلـی دی: **إِن كُنـتُمْ خَـرَجْتُمْ جِهَـادًا فِـي سَـبِيلِي وَابْتِغَـاء مَرْضَـاتِي.** (**الممتحنة**، ۱) (که تاسي زما په لار کي د جهاد او زما د رضا لپاره وتلي یاست).

دا آیت د مکې تر فتحي لږ وړاندي نازل شو. له مدینې څخـه مکـې تـه سـفر د جګړې لپاره نه وو، بلکي دا یو سوله ییز لاریون وو چي د حـدیبیې د سـولي پـه بنه د سوله ییزو پـایلو د ترلاسـه کولـو لپـاره وشـو. پـر دې مهـال یـوه مسـلمان داسي وویل: **الیوم یوم الملحمة** (نن د جګـړې ورځ ده) د دې پـه اوریـدو رسـول الله وویل: نه! نن د رحمـت ورځ ده (**الیوم یوم المرحمـة**). پـه قـرآن کـي دا لفـظ څلورم ځای په دې ډول راغلی دی: **وَجَاهِدُوا فِي اللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِ.** (**الحج**، ۷۸) (د الله په لار کي مناسب جهاد وکړئ). دلته له جهـاد څخـه مـراد دعـوتي هڅـي دي او دا حقیقت یې له سیاق څخه په ښکاره ډول معلومیږي.

## د دښمن او مقاتل تر منځ توپیر

په قرآن کي له یوې خوا دا لارښوونه شوې ده چي که یو څوک ظاهراً ستاسو دښمن وي، بیا هم له هغه سره ښه چلند وکړئ، ځکه شونې ده چي یوه ورځ به مو دوست شي. (حم السجدة، ۳۴)

بل لوري ته په قرآن کي ویل شوي دي چي کومو کسانو ستاسو سره جګړه نه ده کړې، باید له هغوی سره ښه سلوک وکړئ، مګر الله تاسي له هغو خلکو سره له ښه چلنده راګرځوي چي ستاسو سره جنګیږي. (الممتحنة، ۸)

د دې آیتونو له پرتله ییزي مطالعې ښکاري چي قرآن کریم د عدو (enemy) او مقاتل (combatant) تر منځ توپیر کوي. د قرآن امر دا دئ چي که کوم شخص یا ډله ظاهراً ستاسو دښمنان وي، نو له هغوی سره هم باید ښې

اړیکي ولرئ چي دعوتي عمل په معتدل ډول دوام وکړي. ظاهري دښمني باید د اختلاط یا اړیکو (interaction) په وړاندي خنډ ونه ګرځي، ځکه د اړیکو په وسیله دعوتي عمل دوام کوي او د دعوت کار په دښمن د دوست بدلولو توان لري. البته د جګړه مار یا مقاتل (combatant) معامله له دې بېله ده. دا هغه کسان دي چي په یو اړخیز او عملي ډول د مومنانو پر خلاف جګړه پیل کړي. له داسي کسانو سره باید د بیړنیو اصولو یا جنګي اخلاقو له مخي معامله وشي. ان له دوی سره به تر هغه وخته اړیکي هم غوڅېږي چي له جګړې یې لاس نه وي اخیستی.

دا یو ډېر مهم توپیر دئ چي باید په عملي ژوند کي غوره شي. که مومنان په دې توپیر ونه پوهېږي، نو له مخالف سره به هم د جګړه مار په څېر معامله کوي. نتیجه به یې دا وي چي د اسلام دعوتي چاري به ټکنی شي او د دعوت و تبلیغ مطلوب عمل به ودرېږي. پر ځای دریځ دا دئ چي که کوم شخص یا ډله عملي وسله وال جنګ پیل کړي، د هغوی په وړاندي باید له سخت احتیاطه کار واخیستل شي، ان معتدل تعلقات دي هم غوڅ شي، ځکه وېره شته چي په وسیله یې جنګېدونکی لوری د مومنانو جنګي رازونه ترلاسه کړي، مګر تر کومه ځایه چي په عامو انسانانو پوري اړه لري، نو ظاهري دوستي او دښمني ته له پام پرته باید له هر یوه سره یو ډول انساني اړیکي وساتل شي. د دې لپاره چي د اسلام دعوتي عمل دوام وکړي او په وړاندي یې هیڅ خنډ وجود ونه لري.

د اسلام څرګنده لارښوونه دا ده چي په حقیقي جګړه (genuine war) کي دي هم د جنګیالي او غیرجنګیالي تر منځ توپیر وشي، یعني پر جنګیالي دي برید وشي خو پر نه جنګېدونکي دي هیڅکله ګوزار نه کیږي. په داسي حالت کي یوه پوښتنه دا پیدا کیږي چي دا اصول د لرغوني زمانې په جګړو کي ممکن

www.sikaraam.com

وو، اوسمهال جګړه په باروتو او مرمیو کیږي چې په دې جګړه کې د جنګیالي او نه جنګېدونکي تر منځ توپیر ناشونی دی. ځواب یې دا دئ چې که حالات داسي وي چې د جنګ کولو په صورت کې غیرنظامیانو ته هم زیان رسیږي، نو جګړه دي نه کیږي. جګړه نه کول او د جنګ په کولو د بېګناه کسانو وژل په دواړو صورتونو کې لومړی یې لږ تاوان (lesser evil) درلودونکی دئ او په دې بل کې بدي یا تاوان (greater evil) ډېر دی. کله چې د بد او بدتر تر منځ انتخاب وي، نو په یقیني ډول به بد انتخابیږي او بدتر به پرېښودل کیږي، همدا د عقل او شریعت غوښتنه ده.

دامهال که له یوې خوا حالات داسي دي چې د جګړې کولو په صورت کې د بېګناه کسانو له وژني ځان ساتل امکان نه لري، نو له دې سره د اوسنیو پرمختګونو په نتیجه کې د ګټور حالت چانسونه هم ډېر دي او هغه د نوو رغنیزو هڅو فرصتونه دي. دا فرصتونه دومره زیات دي چې دامهال په جګړه کي بریا یا ماتي دوهم حیثیت خپل کړی دی. یوه ډله د جنګ په ګټلو هم له بربادۍ سره مخ کیږي او بله ډله د جګړې په بایللو داسي سوله ییزي وسیلې ترلاسه کوي چې په کارولو یې له جنګ پرته لویه بریا ترلاسه کوي.

د دې یوه بېلګه د جاپان په نوي تاریخ کې مونډلای شو. جاپان په دوهم نړیوال جنګ کې له سختي ماتي سره مخ شو، مګر د خپلي بیارغوني لپاره یې دوهم ځل جګړه ییز پلانونه جوړ نه کړل، بلکې عملاً یې د ماتي په منلو د سولي په فضا کې نوي رغوونکي هڅې پیل کړې. دا پلان دومره بریالی شو چې په ۲۵ کلونو کې د جاپان تاریخ بدلون وموند او د جاپان دا بریا د نوو وسایلو برکت وو.

د دې حالت یو معکوس مثال فلسطین دی. تر ۱۹۴۸ وروسته چې فلسطیني مسلمانان له کوم حالت سره مخ شول، دوی د اسرائیلو پر خلاف د

سختدریځو کړنو لپاره کافي وباله، خو نتیجه یې څه شوه؟ په ۱۹۴۸ کې له فلسطیني مسلمانانو سره د فلسطین تر نیمایي ډېره برخه وه چې ټول بیت المقدس هم پکې شامل وو، مګر له سختدریځۍ څخه د کار اخیستلو نتیجه دا شوه چې نن فلسطینیان هیڅ نه لري. فلسطینیانو د همدومره مودې په اوږدو کې د سختدریځۍ له امله صرف د تباهۍ نتیجې ترلاسه کړې او عین په همدې موده کې د جاپان حالت دا دئ چې له اقتصادي پلوه د نړۍ سوپر پاور یا زبرځواک شو.

www.sikaraam.com

## د سولې مذهب

پیسیفیزم (pacifism) یوه مستقله موضوع ده چې له پېړیو یې په اړه فکر او غور کېږي. په دې اړه پوهانو ډېر څه لیکلي او لیکل کېږي. په انسایکلوپېډیا برټانیکا ۱۹۸۴ کې د پیسیفیزم په اړه یوه تفصیلي مقاله شته چې ۸ پاڼې لري. دا مقاله جرمني پروفیسر موهلمان (Wilhelm Emil Muhlman) لیکلې ده چې په دې موضوع کې د یو متخصص حیثیت لري. په انګریزي کې د پیسیفیزم پر موضوع د څو خپرو شوو کتابونو نومونه دا دي:

E. L. Allen, F.E. Pollard, and G. A. Sutherland, The Case for Pacifism and Conscientious Objection. ۱۹٤٦.

Hannah Arendt, On Violence. ۱۹۷۰

www.sikaraam.com

Raymon Aron, Peace and War. ١٩٦٢

C.J. Cadoux, Christian Pacifism Re-examined. ١٩٤٠

Ted Dunn, Alternatives to War and Violence: A search. ١٩٦٣.

Carl Joachim Friedrich, Inevitable Peace. ١٩٤٨

Richard Gregg, The Power of Non-violence. ١٩٦٦

Aldous Huxley, An Encyclopaedia for Pacifism. ١٩٣٧.

Ralph T. Templin, Democracy and Non-Violence. ١٩٦٥.

Quincy Wright, A Study of War. ١٩٦٥.

د سولي پالنه یا د سولي مذهب (pacifism) د پیړیو زوړ غورځنګ دی. د دې غورځنګ هدف دا دئ چي په نړۍ کي جګړه پای ومومي او په انساني ټولنه کي بشپړ امنیت رامنځته شي. کوم غورځنګونه چي د عدم تشدد تحریک (non-violent movement) بلل کیږي، د هغو هدف په ضمني یا بنسټیز ډول همدا دی. د پیسیفیزم غورځنګ نژدې د تاریخ په ټولو دورو کي موندل کیږي، کله د مذهب پر بنسټ، کله د فلسفې او کله د اخلاقیاتو پر بنسټ. د پیسیفیزم په منونکو کي یوه ډله هغه ده چي امن د امن لپاره غواړي. د دوی په اند د امن تعریف دئ د جګړې نه شتون (absence of war). دوهمه ډله هغه ده چي له امن سره انصاف ضروري ګڼي. دوی له امن سره د انصاف ( peace with justice) وکالت کوي. دوی په دې اند دي چي صرف امن یو منفي امن (negative peace) دئ او له انصاف سره امن مثبت امن (positive peace) دی.

ګاندي د عدم تشدد سرلاری وو. ځیني پوهان وایي چي د ګاندي عدم تشدد (non-violence) د محدودو مقاصدو ترلاسه کولو لپاره وو، ځکه نو د ١٩٤٧ اګست پر پنځلسمه ناڅاپه ختم شو. د هغه د تحریک اصلي هدف د بریتانوي

رول ختمول وو، نه په هیواد کي د رښتیانی سولي خوښوونکي ټولني رامنځته کول.

Gandhi's policy of non-violence was not to establish peace in the society, but to stage a coup in order to oust the British rule. He was successful, but not in the first sense rather in the second sense.

سوله یو آزاد عمل دی، نه د مجبوریت کړنه. د مجبوریت سوله جبر وي، نه امن. امن هغه دئ چي د ذهني انقلاب په وسیله راشي. په لرغوني زمانه کي رومیانو په خپل دولت کي دننه په محدوده کچه امن رامنځته کړی وو چي دوی رومي امن (Pax Romana) باله، همداراز د شلمي پېړۍ په شوروي اتحاد کي هم ظاهراً امن وو چي کمونیستي امن بلل کېدی، مګر د دې دواړو امن جبري وو او جبري امن مطلوب نه دی.

ځیني مفکرین د امن یا سولي لپاره د نړیوال دولت (world state) خوب ویني، مګر تاریخ ښیي چي د نړیوال دولت رامنځته کول هیڅکله امکان نه لري. حقیقت دا دئ چي سوله خوښوونکې ټولنه د ذهني روزني او فکري انقلاب په وسیله راتلای شي، نه د نړیوال حکومت د مرکزي کنټرول په وسیله. د لوېدیځ تر بیا راویښېدو وروسته ډېرو لوېدیځ مفکرینو له جګړې د پاکي نړۍ خوبونه لیدل خو دا خوبونه رښتیا نه شول.

هالنډی فیلسوف او بشرپال اریسمس (Erasmus) د ۱۴۶٦ پر مهال په روټرډم کي وزیږېد او د ۱۵۳٦ پر مهال ومړ. د هغه لارښوونه دا وه چي د انسانیت تر ټولو لوړ ایډیال امن او انساني اتحاد دی:

He taught that the highest ideal of mankind would be peace and concord. (١٣/٨٤٩)

په دې کې شک نه شته چې له عملي پلوه امن تر ټولو شیانو ډېر غوښتل کېدونکی دی، ځکه د هر ډول مثبت یا رغوونکي کار لپاره په انساني هستوګنځي کې د امن فضا اړینه ده. له امن یا سولې پرته هیڅ ډول پرمختګ نه شي کېدای. په عمومي ډول فکر کېږي چې د سولې د راوستلو په لړ کې دین چندان ارزښت نه لري. د دوی په اند تاریخ ښيي چې د دین په وسیله هیڅکله سوله نه ده رامنځته شوې:

Efforts to confirm a lasting peace through religious sanctions have had little effect. (١٣/٨٤٦)

خو لیکوال له دې نظر سره موافق نه دی. حقیقت دا دئ چې دا نظریه د نیمګړي مطالعې پر بنسټ رامنځته شوې ده. دا ښاغلي چې کله د سولې پر راوستلو غور کوي، نو اسلام ته له پام پرته یوازې د نورو دینونو د مطالعې پر بنسټ نظر ورکوي، ځکه دا خبره په ناسم ډول مشهوره شوې ده چې اسلام د سختدریځۍ دین دی، مګر حقیقت دا دئ چې اسلام په بشپړ ډول یو سوله ییز دین دی. اسلام په لومړي ځل په عملي توګه د سولې نظام رامنځته کړ او د انسانیت لپاره یې د سوله ییز ژوند ټرلي لارې پرانیستلې.

دلته مې له اسلام څخه مراد د هغه لومړۍ دور دئ چې په اسلامپوهنه کې د استازي رول لري. هغه مهال د اسلام په وسیله دوې لویې پیښې رامنځته شوې: اول د تل لپاره د سولې په وړاندې د پرتو خنډونو ختمول. دوهم له نظري او عملي اړخونو د سولې یو بشپړ ماډل رامنځته کول.

دا سمه ده چې د اسلام په اولنې دور کې ځینې جګړې وشوې، مګر د دې جګړو هدف عین هماغه وو چې پوهان یې په دې الفاظو بیانوي: د ټولو جګړو د ختمولو لپاره وروستۍ جګړه.

Last war to end all wars. (۱۳/۸۵۱)

د اسلام پیغمبر د ۵۷۰ پر مهال په مکه کې وزیږید او د ٦۳۲ پر مهال په مدینه کې وفات شو. لکه څرنګه چې څرګنده ده هغه مهال په نړۍ کې شاهي نظامونه ول او له زرګونو کالو یې دوام درلود. دې سیاسي نظامونو انساني آزادي له منځه وړې وه. د پاچا خوښې د یوازیني پریکنده ځواک حیثیت درلود. د آزادۍ او سولې د رامنځته کولو لپاره د دې دیکتاتوري نظام له منځه وړل اړین وو. د اسلام رسول او ملګرو یې د محدود وخت لپاره له زوره کار واخیست چې دا نظام له منځه یوسي چې لومړی په عربو کې ختم شو. تر دې وروسته یې د هغه وخت له دوو لویو شاهي نظامونو رومي او ساساني امپراتورۍ سره ټکر وکړ. د اسلام پیغمبر او ملګرو یې په دې ټکر کې بریا ترلاسه کړه او دواړې امپراتورۍ د تل لپاره ختمې شوې.

فرانسوي مورخ هنري پرین (Henry Pyreenne) دې لرغوني نظام ته د مطلق شاهنشاهیت (absolute imperialism) نوم ورکړی دی. ده لیکلي چې که مسلمانانو دا مطلقه شاهي نه وای ځپلې، نو نړۍ به هیڅکله د آزادۍ او سولې فرصت نه وای موندلی.

## جهاد څه دی؟

جهاد څه شی دی؟ په دې پوښتنې د پوهېدو لپاره باید لومړی په دې پوه شو چې دامهال مسلمانان د جهاد په نوم څه کوي، هغه جهاد نه دی. دا هر څه د

قومي احساساتو پر بنسټ رامنځته شوي جګړې دي چې په ناسم ډول د جهاد نوم ورکول شوی دی.

جهاد په حقیقت کې د سوله ییزو هڅو نوم دئ چې د قتال مانا نه لري. ځینې وختونه د پراخ استعمال له کبله جهاد د قتال یا جګړې په مانا کاریږي، مګر د لغوي مفهوم پر بنسټ جهاد او قتال دوه مترادف الفاظ نه دي. دلته په قرآن او حدیث کې د جهاد ځیني استعمالات رااخلو:

۱) په قرآن کې راغلي دي: **وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا**. (**العنکبوت، ۶۹**) (چا چې زموږ لپاره جهاد وکړ، نو موږ به دوی ته خپلې لارې ور وښیو).

په دې آیت کې د حق پلټنه جهاد بلل شوی دئ یعني د الله د موندلو، معرفت او نژدېکت لپاره هڅې جهاد بلل شوي دي. څرګنده ده چې دا جهاد له قتال یا جګړې سره هیڅ تړاو نه لري.

۲) همداراز په قرآن کې ویل شوي دي: **وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ**. (**الحجرات، ۱۵**) (کومو کسانو چې پخپل مال جهاد وکړ). له دې آیت سره سم د الله په لار کې خپل مال لګول یو جهادي عمل دی.

۳) په قرآن کریم کې راغلي دي: **وَجَاهِدْهُم بِهِ جِهَادًا كَبِيرًا**. (**الفرقان، ۵۲**) (له نامسلمانو سره د قرآن په وسیله لوی جهاد وکړه). په بل عبارت د قرآني لارښوونو د خپرولو لپاره سوله ییزې هڅې وکړئ.

۴) نبوي وینا ده: **المجاهد من جاهد نفسه فی طاعة الله**. (**الترمذي، فضائل الجهاد**) (مجاهد هغه دئ چې د الله په اطاعت کې له خپل نفس سره جهاد وکړي). له دې معلومه شوه چې د نفس د خواهشاتو پر خلاف پر حق ټینګ پاتېدل جهاد دی. څرګنده ده چې دا جګړه په باطني ډول د نفسي غوښتنو په ډګر کې وي، نه په خارجي ډول د جګړې په میدان کې.

www.sikaraam.com

۵) له یو روایت سره سم رسول الله وویل: **الحج جهاد** (**ابن ماجه، کتاب المناسک**) (حج جهاد دی). له دې معلومه شوه چې د حج کول یو جهادي عمل دی. په مناسب ډول د حج د ترسره کولو لپاره انسان سختي هڅي کوي.

٦) له یوه روایت سره سم رسول الله د مور او پلار د خدمت په اړه وویل: **ففيهما فجاهد** (**بخاري، کتاب الجهاد**) (ته د خپل مور او پلار په خدمت کي جهاد وکړه).

له دې معلومه شوه چې د مور او پلار خدمت یو جهادي عمل دی. دا ډول بېلابېل آیتونه او احادیث دي چې ترې ښکاري د جهاد عمل اصلاً یو سوله ییز عمل دی. د الله له خوا د غوښتل شوي کار په دایره کي سوله ییزي هڅي دي. د جهاد د لفظ سمه ترجمه سوله ییز جدوجهد یا کوښښ (peaceful struggle) دی.

## په سختۍ کي اساني

په قرآن کي ویل شوي دي چې بېشکه له سختۍ سره اساني ده. (الانشراح) د دې مطلب دا دئ چې اوسنۍ نړۍ د فطرت له کوم قانون سره سمه پر مخ ځي، د هغه یو اړخ دا دئ چې دلته تل له مشکل سره اساني وي. دلته تل له خنډ سره د وتلو لار وجود لري. له دې معلومېږي چې په نړۍ کي د پرله پسې سولي د ساتني راز څه دی؟ هغه دا دئ چې د خنډونو له ټکر پرته خپله لار ومومو. په انساني ټولنه کي تل د سولي د ختمېدو علت دا پاته شوی دئ چې د افرادو یا ډلو په لار کي کوم وخت خنډ رامنځته شوی، نو هغوی غوښتي دي چې د خنډ په ماتولو د ځان لپاره لار هواره کړي. همدا ذهنیت د سولي د له منځه تلو تر ټولو لوی سبب دی، له همدې امله خلکو ته دا ورښوول شوې ده

www.sikaraam.com

چې که کوم ځای سختي پېښه شي، نو خنډ يې مه ګڼئ، بلکې دا باور ولرئ چې کوم ځای سختي شته، هلته اساني هم وجود لري، چيري چې ظاهراً سفر درېدلی دی، له هغه ځايه نوی سفر هم پيلېدای شي.

که تاسو د کوم غره په لمن کې ودرېږئ نو وبه وينئ چې د غره له څوکې چينې په منډه د هوارې ځمکې پر لور بهيږي. چينې په لار کې بيا-بيا له ګارو سره مخ کيږي چې ظاهراً يې د بهيدو مخه نيسي. مګر هيڅکله داسې نه دي شوي چې کومې ډبرې دي د چينې لار تړلې وي. د دې ساده راز په يوه لفظ کې اعراض دی، يعني له ټکر څخه په ځان ساتلو خپله لار وهل. هر وخت چې د چينې مخته کومه ډبره ورځي، نو چينه له يوې شېبې ځنډ پرته داسې کار کوي چې چپه يا راسته اړخ ته په تاوېدلو خپله لار باسي او مخ په وړاندې ځي. هغه له لارې څخه د ډبرې ليرې کولو پر ځای خپل ځان کږوي، په دې توګه له څه درېدو پرته د چينې سفر پرله پسې دوام کوي.

همدا د فطرت سبق دی. په دې توګه فطرت د عمل په ژبه انسان ته دا پيغام ورکوي چې له ستونزو سره د ټکر پر ځای هغه له پامه وغورځوي او د خنډونو د ماتولو پر ځای له خنډونو په تاوېدلو خپل عمل ته دوام ورکړي. دا کړنلار په يوه لفظ پازيټيو سټېټس کوايزم (positive status quoism) بلل کېدای شي. د رسول الله د سيرت مطالعه ښيي چې ده تل همدا تګلار غوره کړې وه. د همدې نتيجه وه چې د داسې انقلاب پر راوستلو بريالی شو چې پکې د انساني هلاکتونو شمېره ډېره لږ وه او له شک پرته بې وينې انقلاب ( bloodless revolution) بلل کېدای شي.

د پازيټيو سټېټس کوايزم دا تګلار په اوسنۍ نړۍ کې د سولې تر ټولو لوی ضمانت دی. که داسې ووايو نو بېځايه به نه وي چې د جګړې تر ټولو لوی سبب د سټېټس کو (status quo) د ماتولو هڅه ده او د سولې راوستلو تر ټولو

www.sikaraam.com

لوی راز دا دئ چي د ستېتس کو په منلو سره په پاته دایره کي د خپل ځان د رغولو هڅه وشي.

## په اسلام کي د جهاد تصور

جهاد یو عربي لفظ دئ چي په ساده ډول د کوښښ کولو مانا لري، د خپل اصلي مفهوم پر بنسټ د سوله ییزو هڅو مفهوم ورکوي. د پراخ مفهوم له مخي جهاد د جنګ په مانا هم کاریږي، مګر په عربي کي د جنګ لپاره اصلي لفظ قتال دی، نه جهاد.

دامهال تر ډېره د جهاد لفظ د جنګ او تشدد لپاره کاریږي. په رسنیو کي د ډیري کاروني له امله نتیجه دا شوه چي اسلام د سختدریځی دین وبلل شو. مثلاً د لندن په انګریزي ژبي ورځپاڼي ټایمز (The times) کي یوه مقاله چاپ شوې چي عنوان یې دی: هغه مذهب چي د تشدد اجازه ورکوي:

A religion that sanctions violence.

دلته پوښتنه دا پیدا کیږي چي په قرآن کي رسول الله د رحمة للعالمین په حیث معرفي شوی دی. د دې مطلب دا دئ چي ده کوم دین راوړی دی، هغه د نړۍ لپاره رحمت وو. د داسي دین تصویر ولي د سختدریځی په مذهب بدل شو؟ ځواب دا دئ چي د دې دروغجن تصویر مسئولیت د دوو تېروتنو پر غاړه دی، یوه د نظریې او عمل تر منځ د توپیر نه کول او دوهمه استثنا ته د عموم درجه ورکول.

۱) دا یو منل شوی حقیقت دئ چي عمل باید د مفکورې په رڼا کي وارزول شي، نه دا چي مفکوره د عمل په رڼا کي وتلل شي. مثلاً د ملګرو ملتونو د

منشور په رڼا کې باید د هغه د غړو ملتونو رویه وارزوو، نه دا چې د غړو ملتونو د عمل په رڼا کې د منشور مفهوم مشخص کړو. په همدې ډول د دې مسئلې د علمي مطالعې لپاره ضروري ده چې اسلام او مسلمانان له یوه بله جلا کړو. مثلاً د مسلمانانو یو شمېر کسان هغه قبرونه لمانځي چې د دوی بزرګان پکې ښخ شوي دي. د دې په لیدو بتپرستان وايي چې زموږ د شرکي مذهب او اسلام د توحید تر منځ هیڅ توپیر نه شته. توپیر صرف دا دئ چې په هندوییزم کې په ولاړه لمانځل کیږي او په اسلام کې په پروتي، مګر دا پرتله سمه نه ده ځکه کوم مسلمانان چې قبرونه لمانځي هغه یو تحریف شوی عمل دی، د اسلام له اصلي لارښوونو سره هیڅ اړخ نه لګوي.

د جهاد خبره هم داسي ده. یقیناً جهاد یوه سوله ییزه هڅه ده، مګر که د محمود غزنوي او اورنګزېب یرغلونه اسلامي جهاد بلل کیږي او دامهال چې مسلمانان په بېلابیلو ځایونو کې د اسلام په نوم کومې جګړې کوي، هغو ته جهاد ویل کیږي، نو دا د دریځ خپلولو سمه طریقه نه ده. کره او علمي طریقه دا ده چې د قرآن او سنت ثابتې لارښوونې د اسلامي نظریې ماخذ وبلل شي او د مسلمانانو کړنې د هغو په رڼا کې مطالعه شي. د مسلمانانو کوم عمل چې د اسلام له جهادي نظریې سره موافق نه وي، هغه رد شي.

۲) د تېروتنې دوهم سبب استثنايي تعلیم ته د عمومي لارښوونو درجه ورکول دي. په قرآن کې نژدې ٦زره آیتونه دي چې له هغو څخه یې صرف ۴۰ آیتونه داسې دي چې د جګړې له مفهوم سره د تړلي جهاد مانا ورکوي یعنې تر یوه فیصد هم کم آیتونه. په ډېر مشخص ډول اعشاریه ۵ سلنه (۰.۵ percent).

حقیقت دا دئ چې قرآن د ۲۳ کالو په موده کې ورو-ورو نازل شو، څه ډول حالات چې به رامنځته کېدل، له هغه سره سم به د خدای له لوري احکام نازلېدل. دا ۲۳ کلنه موده پر دوو برخو وېشل کېدای شي چې یوه برخه یې

شل کلنه او بله يې درې کلنه ده. په شل کلنه موده کې د قرآن هغه احکام نازل شول چې له ايمان، اخلاص، عبادت، اخلاقو، عدل او اصلاح سره يې تړاو درلود او په درې کلنه موده کې د جګړې احکام نازل شول. دا هغه وخت وو چې د رسول الله مخالفينو په يو اړخيز ډول بريد وکړ او مسلمانان يې دفاع ته مجبور کړل. ګواکې په قرآن کې د جګړې په مفهوم د راغلو جهادي آيتونو حيثيت استثنايي دئ او نور آيتونه عمومي دي.

د استثنا او عموم دا فرق هر ځای شته، د بېلګې په توګه ګيتا د هندوانو يو مقدس کتاب دی. په هغه کې ډېرې خبرې دي، مګر له دې سره په ګيتا کې کرشن ارجن ته وايي چې اې ارجنه! جګړې ته چمتو شه او جنګ وکړه.

O Arjun, be ready and fight. (Chapter ۳, ۱۱)

که ټول ګيتا ولوستل شي نو معلومېږي چې په هغه کې د جګړې خبرې استثنايي حيثيت لري. که يې يوازې استثنايي برخه رااخلو او عموميت ورکړو او د ګيتا مجموعي لارښووني ورڅخه جوړې کړو، نو دا يوه غيرعلمي طريقه ده او د ګيتا په سم درک کې به د خنډ سبب وګرځي.

همداراز په بايبل کې راغلي دي چې عيسی عليه السلام خپلو شاګردانو ته وويل:

Do not think that I came to bring peace on earth. I did not come to bring peace but a sword. (Matthew ۱۰/۳٤)

که د عيسی عليه السلام ټول کلام په نظر کې ونيسو، نو معلومه به شي چې د هغه دا وينا يوه استثنايي خبره ده، د ده عمومي تعليم نه دی. په داسې حالت کې بايد د عيسی عليه السلام د پيغام تشخيصولو لپاره د هغه عمومي ويناوې تر نظر تيرې کړو. د ځينو استثنايي ويناوو په رااخيستلو د عيسی عليه السلام

عمومي تصوير ترسيمول سم کار نه شي کېدای. همدا د هر کتاب د مطالعې علمي طريقه ده. دا طريقه د ګيتا او بايبل د مطالعې لپاره هم سمه ده او د قرآن د مطالعې لپاره هم پر ځای ده.

د قرآن او حديثو د حوالو په رڼا کې د جهاد مفهوم ته پام وکړئ. د قرآن يو آيت دا دی: وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا. (**العنکبوت**، ۶۹) (څوک چې په الله لار کې جهاد وکړي، الله به خپله لار ور وښيي).

په دې آيت کې له جهاد څخه مراد هغه هڅې دي چې د ربښتينولۍ د لټون او يا الهي معرفت د ترلاسه کولو لپاره کيږي. په دې آيت کې يو داسي عمل جهاد بلل شوی دئ چې په بشپړ ډول د يوې فکري پلټنې ( intellectual pursuit) حيثيت لري.

## ايا په اسلام کې د تشدد اجازه شته؟

ايا اسلام د تاوتريخوالي اجازه ورکوي؟ د دې ځواب دا دئ چې نه! دا سمه ده چې په اسلام کې د دفاع لپاره د جګړې اجازه شته، خو دا اجازه په هر مذهبي او غيرمذهبي سيسټم کې هم شتون لري. زما په اند تاوتريخوالی له دې څخه جلا د يو بل کار نوم دی. په اسلام کې هيڅکله د هغه اجازه نه شته. په عمومي ډول چې د تاوتريخوالي يا تشدد لفظ د کوم مفهوم لپاره کاريږي، هغه دا دئ چې د خپل دښمن يا مخالف د ختمولو لپاره له زوره کار واخيستل شي او په اسلام کې دا تصور هيڅ ځای نه لري. که يو څوک بل کس خپل مخالف ګڼي، نو پر همدې بنسټ د ده لپاره روا نه ده چې د هغه د ختمولو په نوم د هغه پر خلاف تاوتريخوالي ته لاس کړي.

د قرآن له مطالعې ښکاري چې په اسلام کې د دښمن او يرغلګر تر منځ توپير شوی دی. که يوه ډله د بلې پر خلاف په يو اړخيز ډول تاوتريخوالي ته لاس کړي، نو له قرآن سره سم هغه بل لوری اجازه لري چې د يرغلګرو پر خلاف د ځان دفاع وکړي او د اړتيا په کچه له تاوتريخوالي کار واخلي. په قرآن کې ويل شوي دي چې د جګړې اجازه هغه چا ته ورکول شوې چې د دوی پر خلاف جګړه شوې ده.

Permission of fighting is given to those who are attacked. (۲۲.۳۹)

مګر د دښمن يا مخالف معامله له دې جلا ده. د دښمن په اړه د اسلام لارښوونه عين هماغه ده چې په بايبل کې د عيسی عليه السلام په ژبه داسې راغلې او ويلي يې دي چې تاسو له خپل دښمن سره مينه وکړئ.

Love your enemy. (Luke ٦-۳۱)

په قرآن کې له دې منعه شوې ده چې د دښمنۍ ځواب په دښمنۍ ورکړل شي. قرآني وينا ده چې بدي او نېکي سره برابر نه دي، تاسو يې په ځواب کې هغه څه ووایاست چې غوره وي، بيا به وګورئ چې ستاسو او د کوم چا تر منځ دښمني وه، هغه داسې بدل شوی لکه نژدې دوست. (حم السجدة، ۳۴)

له دې څخه معلومه شوه چې د اسلام له لارښوونو سره سم له دښمن سره جګړه نه ده په کار، بلکې هغه بايد دوست شي، د اسلام له وينا سره سم هر انسان په حقيقت کې پر طبيعت پاته دی، يوازې په موقت ډول کله-کله ترې دښمن جوړيږي. که له هغه سره په يو اړخيز ډول ښه چلند وشي، نو خپل فطرت ته به راوګرځي او پخوانی دښمن به په اوسني دوست بدل شي.

تاسو پر دې غور وکړئ چې يو شخص ولې تشدد کوي؟ د دې يو سبب نظرياتي تشدد (ideological extremism) دی. په کوم ځای کې چې

ایکسټریمیزم نه وي، هلته به تشدد هم وجود ونه لري. په اسلام کې ایکسټریمیزم (افراطیت) ممنوع بلل شوی دئ او د دې ډول تاوتریخوالي جرړې غوڅې شوې دي. اسلام ویلي دي چې په دین کې هیڅ ډول غُلُو نه شته. (النسایي، ابن ماجه، احمد)

There is no extremism in the religion of Islam.

د همدې ډول تاوتریخوالي یو بل سبب غوسه ده او غوسه په اسلام کې یوه ډېره لویه اخلاقي ناولتیا بلل شوې ده. په قرآن کې مومنان په دې ستایل شوي دي چې کله هغوی په غوسه شي، نو بخښنه کوي. (الشوری، ۳۷)

دا یو څرګند حقیقت دئ چې که د اسلام له دې لارښوونې سره سم خلک د غوسې پر مهال له بخښنې کار واخلي، نو تاوتریخوالي یا تشدد ته به اړتیا پېښه نه شي. د تشدد یا تاوتریخوالي یوه بله وجه دا ده چې انسان فکر کوي دا یوه پیاوړې وسیله ده او په کارولو یې خپل هدف ترلاسه کولای شي، خو په قرآن کې د دې ذهنیت د ختمولو هڅه شوې ده. د قرآن له وینا سره سم تاوتریخوالی یوازې بې ګټې منفي عکس العمل دی، د کوم مقصد د ترلاسه کولو اغېزناکه او ګټوره ذریعه نه ده. د قرآن لارښوونه دا ده چې که کوم وخت ستاسو تر منځ شخړه پیدا شي، نو لانجې ته یې مه رسوئ چې بالاخره په تاوتریخوالي واوړي، بلکې د سوله ییزې لارې په غوره کولو شخړه په لومړۍ مرحله کې له منځه یوسئ، له همدې امله په قرآن کې ویل شوي دي چې سوله غوره ده. (النساء، ۱۲۸)

Reconciliation is the best.

له دې معلومه شوه چې د اسلام لارښوونه دا ده چې کله مو له کوم چا سره د یوې معاملې په اړه شخړه راشي، نو د حل لپاره یې سوله ییزه تګلار

(conciliatory course of action) غوره کړئ، نه د شخړي تګلار (confrontational course of action). څرګنده ده چې که د اسلام دا لارښوونه عملي شي، نو د شخړي له پیدا کېدو سره-سره به خبره تاوتریخوالي ته نه رسیږي. په دې مسئله د پوهېدو لپاره د رسول الله یوه وینا ډېره مرسته کولای شي، هغه دا ده چې: **ان الله یعطی علی الرفق ما لا یعطی علی العنف**. (**صحیح مسلم**) (الله په نرمي هغه څه درکوي چې په سختي یې نه درکوي).

د رسول الله په دې وینا کې د فطرت قانون بیان شوی دی. په دې دنیا کې چې خدای د فطرت کوم نظام رامنځته کړی دی، هغه پر داسي اصولو ولاړ دئ چې دلته د هر هدف د ترلاسه کولو لپاره سوله ییزه طریقه ډېره اغېزناکه او منتجه ده. د دې برخلاف د تاوتریخوالي طریقه ویجاړي رامنځته کولای شي، خو د کوم مثبت هدف لپاره ګټوره نه ده. دلته دا زیاتونه هم ضروري ده چې اسلام او مسلمانان دواړه یو شی نه دي. اسلام د یوې ایډیالوژۍ نوم دئ او مسلمانان د هغې ډلي نوم دئ چې اسلام یې د دین په توګه غوره کړی دی. په داسي حالت کي باید د مسلمانانو کړني د اسلامي لارښوونو له مخي وارزول شي، نه دا چې مسلمانان څه کوي هغه اسلام وبلل شي.

که کوم مسلمان یا د مسلمانانو کومه ډله تاوتریخوالی کوي نو دا یې خپل شخصي کار دی. د داسي خلکو په اړه باید د قرآن په ژبه وویل شي چې که څه هم دوی د اسلام دعوه کوي، خو اسلام یې له زړه نه دئ منلی. (الحجرات، ۱۴)

## اسلام او ټروریزم

که کوم څوک د عیسوي ټروریزم اصطلاح وکاروي، نو یو څوک بـه ووایـي چـي ته متضاد ترکیـب (contradictory term) کـاروې، عیسـویت لـه ټروریـزم سره هیڅ اړیکه نه لري، عیسی علیه السلام ویلي دي چـي تاسـو لـه خپـل دښـمن سره مینه وکړئ (Love your enemy) د عیسویت لارښـووني پـر مینـه (Love) بنا دي، نو په داسي حال کي عیسوي ټروریزم هیڅ مانا نه لـري، مګـر دا نیمـه رښتینولي ده. سمه ده چي عیسی علیه السلام ویلي دي تاسو له خپـل دښـمن سره مینه وکړئ، مګر د نیو ټیستمینټ (د انجیل نوې برخې) له روایـت سره سـم عیسی علیه السلام دا هم ویلي دي داسي فکر ونه کړئ چي زه د سـولي لپـاره راغلی یم، بلکي جګړې ته راغلی یم.

Do not think that I came to bring peace on earth. I did not come to bring peace but a sword. (۱۰:۳٤)

نو بیا وجه څه ده چي د عیسی علیه السلام لـه دې ښـکاره لارښـووني سره-سره هیڅوک پر عیسویانو د ټروریزم تور نه پـوري کـوي؟ د دې وجـه دا نـه ده چـي عیسویان جګړې نه کوي. سـاده لامـل یـې دا دئ چـي دوی خـپلي جګـړې د ملي ګټو (national interest) په نوم کوي، نه د عیسوي مذهب په نوم. مـثلاً هټلـر یـو عیسـوي وو. هغـه دوهمـه نړیوالـه جګـړه وکـړه، خـو دا جګـړه یـې د عیسویت په نوم نه، بلکي د جرمني قوم په نوم وه. همـداراز امریکـا پـه ویتنـام کي تر لسو کلونو زیاته جګړه وکړه، خو هغوی هم داسي ونه کړل چي دا یـې د عیسویت جګړه وبلله، بلکـي د دې بـرعکس یـې وویـل چـي دوی د امریکـایي ګټو لپاره جنګیږي.

ځیني خلک دا ګیله کوي چې رسنۍ غواړي اسلام ته د ترورېزم په تور بدنام کړي، خو زه وایم چې ملامتي د رسنیو نه ده، ځکه مسلمانانو خپله هر ځای د اسلام په نوم زور زیاتي ته دوام ورکړی دئ او دا زیاتی د جهاد په نوم یادوي. په داسي حالت کي د رسنیو رول له دې پرته بل څه نه دئ چي د مسلمانانو وینا او عمل د دوی له خپلي دعوې سره سم بیانوي. که مسلمانان خپلي جګړې ته د ټولنیزو ګټو نوم ورکړي، نو د مسلماني ټولني نوم به ورسره پیوست شي، خو کله چي دوی خپل تاوتریخوالي ته د اسلام نوم ورکوي، نو دا بېخي طبیعي ده چي په رسنیو کي به د اسلامي تشدد په نوم یادیږي.

اصلي حقیقت دا دئ چي د اسلام ټولي لارښووني د سولي پر اصولو بنا دي. د اسلام ۹۹ سلنه آیتونه په مستقیم یا غیرمستقیم ډول له سولي سره تړاو لري، مګر له دې سره-سره ځیني یا یو څه آیتونه له جګړې سره هم تړلي دي. په اسلام کي سوله عمومي حیثیت لري او جنګ استثنایي.

## له جګړې تر سولي

د اوومي پېړۍ په لومړۍ نیمایي کي چي کله اسلام راڅرګند شو، هغه وخت په ټوله نړۍ کي سیاسي جبر دود وو چي فرانسوي مورخ هنري پرین د مطلقي دیکتاتورۍ (absolute imperialism) نوم ورکړی دی. دې دیکتاتور نظام انسان له هر ډول ښېګنې محروم کړی وو. هغه وخت امر وشو چي دا مصنوعي نظام له منځه یوسئ چي د انسان پر مخ د هغو ښېګڼو دروازه خلاصه شي چي الله ورته ټاکلي دي. د قرآن د الأنفال په ۳۹ آیت کي دا حکم په دې الفاظو بیان شوی دی: **وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لاَ تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلّه**. (او له

دوی سره تر هغو جګړه وکړئ چې فتنه پاتـه نـه شي او دیـن ټـول د الله لپـاره شي).

په دې آیت کې له فتنې څخه مراد د سیاسي جبر هغه لرغونی نظام دئ چـې د آیت د نازلېدو پر مهال په ټوله نړۍ کې دود وو او له دین څخه مراد پر فطـرت ولاړ د خدای تخلیقي نظام دی. د دې مطلب دا دئ چې د مصنوعي جبر نظام له منځه ولاړ شي او په نړۍ کې د خدای لـه تخلیقـي نقشـې سره سـم فطـري حالت رامنځته شي چې په هغه کې هر انسان د خپل عمل آزادي ولـري او هـر انسان په آزاده فضا کې خپل امتحان ورکړای شي.

د رسول الله او د هغه د ملګرو هڅو او قربانیو یـاد نظـام ټـوټې-ټـوټې کـړ او پـه نړۍ کې هغه نظام رامنځته شو چې الله یې غوښتنه کوله. دا یو سـتر بـدلون او هغه انقلاب وو چې هنري پرین داسي بیـان کـړی دی: اسـلام د نـړۍ حالـت بدل کړ او د نړۍ دودیزه نقشه یې څیري کړه.

Islam changed the face of the globe. The traditional order of history was overthrown.

دا انقلاب دومره لوی وو چې ناڅاپه نه شوای راتلای. د الله په ځانګړې مرسته هغه د یوې پروسې (process) په شکل رامنځته شو. د اسلام د لـومړۍ دورې دا انقلاب ګواکي یوه ټېله وه چې تاریخ ته ورکړل شوه. تر دې وروسته انسـاني تاریخ پر یو ځانګړي لوري روان شو. د اوومي پېړۍ دې عمـل پرلـه پسـې دوام وکړ، تر دې چې د شلمې پېړۍ په منځ کـې خپـل تکمیـل تـه ورسـېد. تـر دې وروسته دا ناشونې شوه چې د لرغوني دور جبري نظام دې یو ځل بیا په ځمکـه کې دوام وکړي.

په وروسته زمانه کې دوهم ځل پر نړۍ د بلې داسې امپراتورۍ نه رامنځته کېدل کومه تصادفي خبره نه ده، حقيقت دا دئ چې د تېرو څو پېړيو د کړنو په نتيجه کې نړۍ داسې هر اړخيز بدلونونه وليدل چې د کومې نوې امپراتورۍ د رامنځته کېدو په لار کې پرېکنده خنډونه دي. نور په نړۍ کې هغه عوامل وجود نه لري چې کوم سياستمدار دوهم ځل د لرغوني ډول امپراتوري رامنځته کړای شي.

دامهال چې د سياسي امپراتورۍ د جوړېدو پر خلاف کوم خنډونه (deterrents) پيدا شوي دي هغه په څو مثالونو کې درک کولای شو:

۱) په لرغونې زمانه کې حالات داسې ول چې کله به کوم پاچا د پوځي ځواک په وسيله کومه سيمه لاندې کړه، نو د هغه ځای خلکو دا د پاچا فطري حق ګاڼه او د هغه سياسي برلاسي يې منله. همدا وجه وه چې په لرغونې زمانه کې يو پاچا صرف د بل پاچا له خوا له منځه وړل کېدای شوای، نه د عوامو له خوا. مګر دا مهال د ولسواکۍ، سياسي خپلواکۍ او ملي حکومت د افکارو په نتيجه کې ولسي نظريات دومره بدل شوي دي چې نور بهرنی پاچا دومره ټولنيز محبوبيت (social acceptance) نه شي ترلاسه کولای چې د کوم حکومت د جوړېدو او بقا لپاره ضروري وي.

۲) په لرغوني عصر کې اقتصاد تر ډېره په ځمکه پوري تړلی وو او ځمکه يوازې د پاچا ملکيت ګڼل کېدی. د اوسني عصر- انقلاب بېشمېره اقتصادي وسايل رامنځته کړل چې هر انسان يې ترلاسه کولای شي. له همدې امله د عامو وګړو لپاره دا شونې ده چې د سياسي واکمن پر خلاف داسې آزاد اقتصادي وسايل ترلاسه کړي چې د سياسي واکمن د اقتدار له کړۍ بهر وي. دې اقتصادي بدلون دا خبره اسانه کړه چې نن داسې انقلابي غورځنګونه دوام وکړای شي چې مخنيوی يې د سياسي واکمنو لپاره ممکن نه وي.

www.sikaraam.com

۳) همداراز یو بل شی دا دئ چې د رسنیو خنډ (media deterrent) بلل کیږي. اوسمهال د رسنیو او کمیونیکېشن پرمختګ داسي حالت رامنځته کړی دئ چې په یوه سیمه کې کېدونکې پېښه سمدستي ټولي نړۍ ته رسیږي. د نړۍ ټول خلک په بشپړ ډول په خبریږي. دا یو داسي کنټرول دئ چې د لرغوني دور د سیاسي امپراتورۍ رامنځته کول یې نژدې ناممکن کړي دي. اوس هیڅ پاچا خپل واکونه هغه ډول بې ډاره نه شي کارولای چې پخوا یې ګټه ورڅخه اخیستله.

۴) همدا ډول یو بل شی هغه دئ چې نړیوال خنډ (universal deterrent) بلل کیږي. دا مهال د ملګرو ملتونو، د بخښني نړیوال سازمان او د بشري حقوقو د ساتني په نوم رامنځته شوي اداري داسي خپلواک ارګانونه دي چې هیڅ سیاسي واکمن یې نه له پامه غورځولای شي او نه تر ډېره د هغوی د مخالفت توان لري.

تر دې نړیوالو بدلونونو وروسته انساني تاریخ یوې نوي دورې ته داخل شوی دی. که لرغونی دور د نظامي ځواک دور وو، نو اوسنی دور ناپوځي دور دی. په لرغونې زمانه کي د تاوتریخوالي طریقه د لویي بریا ترلاسه کولو لپاره اړینه ګڼل کېده، مګر اوسمهال سوله ییزه طریقه (peaceful method) په مطلق ډول د بریالۍ طریقې حیثیت لري. اوسمهال د یو هدف د ترلاسه کولو هڅه له پیله تر پایه په داسي ډول پر مخ ځي چي په هیڅ مرحله کي یې د تاوتریخوالي کاروني ته اړتیا نه وي، په بشپړ ډول له سوله ییزو وسایلو کار اخلي او د بریا پړاو ته رسیږي. حقیقت دا دئ چي نور له تاوتریخوالي ډکي طریقې د زمانې د مخالف عمل (anachronism) حیثیت خپل کړی دئ او نور له وخت سره د مناسب کوم عمل نوم نه دی.

د جګړې په مفهوم جهاد ټول علماء حسن لغیره ګڼي، نه حسن لذاته. په اوسنیو حالاتو کې به دا خبره پر ځای وي چې نور د جګړې په مانا د جهاد وخت نه دی. اوسمهال نړۍ ته د سوله ییز جهاد وخت بېرته راګرځېدلی دی. د دې مطلب دا نه دئ چې د قتال په مانا جهاد منسوخ شوی دی، هغه حکم پر خپل ځای پاته دی. اوسمهال چې کوم حالات رامنځته شوي دي هغه د حکم له منسوخولو سره تړاو نه لري، بلکې د حالاتو له بدلون سره تړاو لري. په دې فقهي قاعده کې لیدل کېږي چې (**تتغیر الاحکام بتغیر الزمان و المکان**) د وخت او ځای په بدلون احکام بدلیږي. ښکاره ده چې د بدلون او منسوخیت تر منځ یو ډول توپیر شته.

اوسمهال چې کوم بدلون راغلی دئ هغه د اسلام په ګټه دئ او د اسلام د راپیدا کړي انقلاب له نتایجو څخه یوه نتیجه ده. دا هر څه د دې لپاره شوي دي چې د اسلام د دعوت او تبلیغ فرصتونه تر وروستي بریده پرانیستي وي. اوسمهال ګواکي مسلمانان په وروستي ډول هغه دور ته رسېدلي دي چې د راتلو دعا یې رسول الله او ملګرو په دې الفاظو غوښتې وه: **رَبَّنَا وَلاَ تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِنَا**. (البقرة، ۲۸۶)

نور د اسلام د دعوتي اهدافو د ترلاسه کولو لپاره هیڅ ټکر ته اړتیا نه شته. د سوله ییزي طریقې په کارولو هغه ټول څه ترلاسه کېدای شي چې اسلام یې غوښتنه کوي.

## یو حدیث

د رسول الله یوه خطبه د احادیثو په بېلابیلو کتابونو کې راغلې ده. یو صحابي وایي چې رسول الله زموږ په منځ کې ودرېد او موږ ته یې له خپله وخته تر

www.sikaraam.com

قیامته پېښېدونکي ټولي خبرې بیان کړې. په دې خطبه کې یې خپل امت په ډېري سختۍ له سیاسي بغاوت څخه منع کړ. ویې ویل: که کوم واکمن ستاسو په فکر ظالم وي، تاسو پر شا په درو وهي او دنیا مو درڅخه واخلي، نو هم یې اطاعت وکړئ. تر دې وروسته یې وویل: **وانما اخاف على امتى الائمة المضلين و اذا وضع السيف فى امتى لم يرفع عنها الى يوم القيامة.** (**سنن ابی داود، کتاب الفتن والملاحم، ۴، ۹۵**)

یعني زه پر خپل امت تر ټولو له بېلاري کوونکو مشرانو ډېر وېرېږم او کله چې زما په امت کې توره داخله شي، نو تر قیامته به ورڅخه پورته نه شي.

که پر دې حدیث د دا ډول نورو احادیثو په رڼا کې غور وشي، نو مطلب یې دا ښکاري چې رسول الله په سیاسي چارو کې په کلکه د تاوتریخوالي له کړنو منع کړې ده او د سوله ییزي طریقې نصیحت یې کړی دی، ځکه که د تاوتریخوالي فرهنګ یو ځل رامنځته شي، نو بیا یې ختمول ډېر سختېږي.

د احادیثو په کتابونو کې داسي ډېر روایتونه رانقل شوي دي چې پکې رسول الله د واکمن پر خلاف له پاڅون څخه تر وروستي بریده منع کړې ده. له همدې امله علماوو پر دې اتفاق کړی دئ چې د واکمن حکومت پر خلاف د هر عذر پر بنسټ بغاوت حرام دی. (الغلو فی الدین، ۴۱۷)

له یوې خوا د واکمن پر خلاف د تاوتریخوالي دا سیاست مطلق ممنوع دی، له بلي خوا په روایاتو کې دي چې رسول الله وویل: **افضل الجهاد من قال كلمة حق عند سلطان جائر.** (**ترمذي، ابوداود، ابن ماجه، احمد، نسايي**) (یعني غوره جهاد دا دئ چې یو څوک د ظالم پاچا په مخ کې د حق خبره وکړي).

پر دې دوه ډوله روایاتو له غور کولو ښکاري چې که کوم څوک یو واکمن ظالم ګڼي، نو د ده لپاره بالاخره د دې اجازه شته چې یوازي په وینا خپل نظر څرګند

کړي، نه دا چې د عمل په مانا د مخالفت سیاست ته دوام ورکړي او یا د واکمن د ختمولو په هڅو پسې شي. په بل عبارت په اسلام کې یوازې د سوله ییزو هڅو (peaceful struggle) اجازه شته، د تاوتریخوالي هڅې (violent struggle) په هیڅ حال کې او د هیڅ عذر پر بنا جواز نه لري.

غالباً تر اسلام د وروسته تاریخ غمیزه دا ده چې له پورتنیو څرګندو لارښوونو سره-سره په وروستنیو مسلمانو نسلونو کې د جهاد په نوم د تاوتریخوالي سیاست دود شو، ان دې ذهنیت پر مسلمانانو دومره غلبه وکړه چې د دوی په اند د رحمت دین (الانبیاء، ۱۰۷) د جګړه ییز جهاد دین شو. په وروستنیو پېړیو کې ډېری لیکل شوي اثار په مستقیم یا غیرمستقیم ډول د همدې ذهنیت عکاسي کوي. په وروستنۍ زمانه کې چې د قرآن کوم تفسیرونه ولیکل شول په هغو کې دا ذهنیت داسي انځور شوی دئ چې د صبر او اعراض د آیتونو په اړه ولیکل شول چې د قتال د آیتونو تر نزول وروسته هغه منسوخ شول.

کله چې احادیث تر رایو ځای کېدو وروسته ترتیب شول، نو په هغو کې کتاب الجهاد په پوره تفصیل سره راوړل شو، مګر په هیڅ کتاب کې کتاب الدعوت والتبلیغ نه شته. د فقهي حالت هم داسي دی. د فقهي په کتابونو کې د جهاد او له هغه سره د اړوندو احکامو پوره تفصیلات شته، مګر په هیڅ کتاب کې د دعوت او له هغه سره د اړوندو بابونو په اړه څه نه دي ویل شوي. د وروسته لیکل شوو نژدې ټولو اسلامي اثارو حالت همداسي دی. له ابن تیمیه څخه نیولې تر شاه ولي الله او له شاه ولي الله څخه نیولې د اوسنۍ زمانې تر لیکوالو. هیڅ لیکوال د دعوت پر موضوع کتاب چمتو نه کړای شو، که د کوم کتاب نوم دعوت او تبلیغ وي، نو هغه هم داسي دئ لکه د سیاست او فضایلو کوم کتاب ته چې د دعوت او تبلیغ نوم ورکړل شي.

د دا ډول ليکنو له امله چې په مسلمانانو کې کوم ذهنيت رامنځته شو، د هغه نتيجه دا ده چې په مسلمانانو کې جګړه کوونکي اتلان شول او څوک چې د جګړې لار نه خپلوي هغوی له پامه ولوېدل. له همدې امله ويناوال او ليکوالان د امام حسين کردار ډېر ځلوي، خو د امام حسن کردار يې راپورته نه کړای شو. د مسلمانانو په منځ کې صلاح الدين ايوبي ډېر شهرت وموند، مګر کومو کسانو چې تاتاري يرغلګر مسلمانان کړل او د اسلام په ګټه يې وکارول، زموږ په کتابونو کې د هغوی هيڅ يادونه نه شته. دا مهال د اسامه بن لادن په څېر د سختدريځۍ او تاوتريخوالي پيروان په ډېري اسانۍ د مسلمانانو تر منځ اتلان ګرځي، خو که څوک د سولې او انساني احترام خبره وکړي، نو د مسلمانانو تر منځ به اعتبار پيدا نه کړي.

د دې ذهنيت تر ټولو لوی زيان دا دئ چې مسلمانان له عام انسانيت سره لېوالتيا (concern) نه لري، مسلمانان په دې اند دي چې د خدای بندګان د خپل او پردي قوم په نوم تقسيموي، له دعوتي تګلارې سره سم مسلمان او نامسلمان داعي او مدعو بلل کيږي، د دې برخلاف د جګړه ييز جهادي فکر له مخې مسلمانان نور ملتونه خپل سيالان او دښمنان ګڼي. د لوېديځوالو تر برلاسۍ وروسته دا تو‌پير نور هم ژور شو. مسلمانانو احساس کړل چې لوېديځوالو له دوی څخه د برلاسۍ مقام اخيستی دئ چې په نتيجه کې يې رقابت نور زيات او په نفرت بدل شو او مسلمانانو په عمومي ډول نور ملتونه خپل دښمنان وګڼل.

## اسلام په یوویشتمه پېړۍ کې

رسول الله او ملګرو چې په لومړي دور کې کوم انقلاب رااووست. د هغه یو اړخ هماغه وو چې په لومړي دور کې بشپړ شو یعنې د قرآن کریم د نزول بشپړتیا او په نظري و عملي ډول نړۍ ته د اسلامي ژوند د بېلګې وړاندې کول. دا بېلګه د قرآن کریم، احادیثو، نبوي سیرت او صحابه کرامو د ژوند لیکونو په بڼه د تل لپاره خوندي شوې ده او په ابدي توګه به د انسانانو لپاره د الهي ژوند مستنده بېلګه وي.

په لومړي دور کې د اسلامي انقلاب دوهم اړخ هغه دئ چې د خپل نوعیت له مخې یې تدریج ته اړتیا درلوده او تر اوږدې مودې وروسته پوره شوه. دا دوهم اړخ د یوه مسلسل عمل (process) په ډول انساني تاریخ ته داخل شو. دا په تاریخ کې د یوه ډېر اوږده بدلون معامله وه. د دې لپاره زر کلن انقلابي عمل ته اړتیا وه چې له مکې او مدینې پیل او دمشق و بغداد ته ورسېد. وروسته یې نور پرمختګ وکړ. په اول سر کې اروپایي اندلس ته ورسېد او وروسته په ټوله نړۍ کې خپور شو. په راروانه زمانه کې د دې انقلاب یادونه قرآن په ښکاره ټکو بیان کړې ده. دلته د دې لړۍ د ځینو آیتونو حوالې رااخلو:

۱) او تاسو له دوی سره تر هغو وجنګېږئ چې فتنه له منځه ولاړه شي او دین ټول د الله شي. (الأنفال، ۳۹)

۲) نن منکرین ستاسو له دین څخه ناهیلي شول، نو له دوی مه وېرېږئ. صرف زما څخه ووېرېږئ. نن مې ستاسو دین درته پوره. نعمت مې دربانديي بشپړ او ستاسو لپاره مې اسلام د دین په توګه خوښ کړ. (المایده، ۳)

۳) ژر به موږ دوی ته په فضا او د دوی په ځانونو کې خپلې نښې وروښیو څو وپوهیږي چې دا قرآن حق دی. (حم السجده، ۵۳)

۴) اې زموږ ربه! پر موږ هغه بوج مه اچوه چي تر موږ پر مخکنيو دي اچولی وو. (البقرة، ۲۸٦)

د اسلامي انقلاب د دې دوهم اړخ لنډيز دا وو چي په تاريخ کي دا ډول بدلونونه راشي چي تر هغو وروسته د تېر په پرتله د اسلام عملي کول اسانه شي. د لومړي دور مسلمانانو چي د سختۍ په حالاتو کي کوم کار کاوه، هغه به د راتلونکي دور د مومنانو لپاره د اسانۍ په حالت کي ممکن شي. (الانشراح)

د اسانۍ دا عمل مختلف اړخونه لري. يو اړخ يې دا دئ چي په لرغونې زمانه کي د پاچاهي نظام له امله د سياسي جبر دوره وه. د دې نظام له مخي انسان د فکر يا عمل آزادي نه درلوده. له آزادۍ پرته نه په ديني احکامو عمل کېدای شوای او نه د دعوت او بلني ترسره کېدو امکان درلود. اسلامي انقلاب نه يوازي په ابتدايي ډول د جبر دا نظام مات کړ، بلکي په تاريخ کي يې يو نوی عمل (process) رامنځته کړ. دا عمل يا پروسه په اوسني دور کي داسي بشپړه شوه چي نن مومنان د ديني چارو او ديني دعوت دواړو بشپړه آزادي لري، مګر دا چي دوی د خپل حماقت له امله حالات په مصنوعي ډول د ځان پر خلاف کړي.

د دې انقلاب يو بل اړخ دا دئ چي په اوسنۍ زمانه کي د تخنيکي پرمختګ له امله د اړيکو نوي وسايل رامنځته شول. په دې توګه ممکنه شوه چي د حق دعوت په تېزۍ سره د نړۍ هري برخي ته ورسيږي. همداراز په اوسنۍ زمانه کي ساينسي موندنو دا ممکنه کړه چي په کايناتو کي د خدای پټي نښي ښکاره شي او الهي دين خپله د انساني علم په رڼا کي مستند او کره شي.

په شلمه مېلادي پېړۍ کې دا پروسه خپل وروستي پړاو ته ورسېده. نور د مومنانو لپاره دا ممکنه وه چې دوی د سولې او آزادۍ په فضا کې په ډېر ښه ډول د الله دين عملي کړي او نورو قومونو ته د الهي دين د دعوت رسولو فريضه له څه خنډ پرته پر مخ بوځي. مګر په همدې پېړۍ کې د مسلمانانو نالايقو مشرانو د ناسمې لارښوونې په کولو هغوی په داسې کړنو کې ښکېل کړل چې نتيجه يې يوازې د نوو فرصتونو بايلل ول، ان د دې شعور يې هم له لاسه ورکړ. دا تېروتنې په بنسټيزه توګه دوه ډولونه لري:

يوه تېروتنه دا ده چې د اسلام د سياسي تعبير په نتيجه کې راپيدا شو. دې تعبير په ناسم ډول مسلمانانو ته دا ذهنيت ورکړ چې دوی صرف هغه مهال د اسلام بشپړ پيروان کېدلای شي چې د اسلام ټول قوانين عملاً نافذ کړي. د دې سياسي ذهنيت پايله دا شوه چې مسلمان ولسونه له خپلو واکمنانو سره په جنګ شول چې د هغوی په ليرې کولو د شريعت قانون نافذ کړای شي.

د دې سياسي بدعت په نتيجه کې کوم پرمختګ ونه شو، البته په اسلامي نړۍ کې خپله د مسلمانانو په لاسونو هغه جبر او ظلم دوهم ځل راوګرځېد چې د اوږده تاريخي بهير په نتيجه کې له منځه تللی وو. حقيقت دا دئ چې له انسانانو څخه د پوره اسلام د پلي کولو غوښتنه شوې ده، نه د بشپړ اسلام نافذولو.

دوهمه غلطي دا ده چې اوسمهال د جهاد په نامه پيل شوې ده. د اوسنۍ زمانې مسلمانانو له نورو ملتونو ځينې سياسي او مادي ګيلې درلودې چې دا ګيلې له سوله ييزې لارې حل کېدای شوای، مګر سختدريځو مشرانو سمدستي د جهاد په نوم وسله پورته کړه او د نورو ملتونو پر خلاف يې خونړۍ جګړې پيل کړې. د دې له ځانه جوړ شوي جهاد په نتيجه کې نه يوازې نوي

فرصتونه له لاسه ولاړل، بلکي د اوسنۍ زمانې مسلمانان له دومره لويي تباهۍ سره مخ شول چي په تېر اوږده تاريخ کي هيڅکله نه ول ورسره مخ شوي.

د مسلمانو مشرانو د ناسمي لارښووني په نتيجه کي دوی شلمه پېړۍ وبايلله. اوس به دې ته ګورو چي مسلمانان خپلي تېروتنې اصلاح کوي او که به دا پېړۍ هم هغسي بايلي لکه تېره پېړۍ چي يې له لاسه ورکړې وه.

www.sikaraam.com

## جګړه په اسلام کې

د ځينو مسلمان مفکرينو وينا ده چې په اسلام کې جګړه دوه ډولونه لري: د اصلاح جګړه او د دفاع جګړه. دا يوه ډېره بې بنسټه خبره ده. د دې نظر لپاره په قرآن او حديث کې هيڅ دليل نه شته.

حقيقت دا دئ چې په اسلام کې صرف د دفاع جګړه شته. له اسلامي لارښوونو سره سم اصلاح يو حرکت دی، نه جګړه. د قرآن او سنت په ټوله ذخيره کې د اصلاح جګړه يو نااشنا شی دی. د دې ماخذ د شاعرانو، ويناوالو او ليکوالو ذهنيتونه دي، نه د خدای کتاب او د رسول الله سنت.

له مشهور حديث سره سم هر ډول اصلاح له زړه سره تړاو لري. په حديث کې ويل شوي دي چې په څه ډول د زړه په اصلاح سره د بدن ټول نظام اصلاح

www.sikaraam.com

کيږي؟ هماغه معامله د ديني نظام هم ده. د انسان د اصلاح کولو طريقه دا ده چي د هغه زړه يا ذهن اصلاح کړای شي.

له دې حديث سره سم د اصلاحي تحريک (نه مصلحانه جنګ) اصول دا دي چي ټول ځواک د انسان د فکر او شعور پر بدلون ولګول شي، د دلايلو په وسيله د انساني فکر بدلون، د جنت او جهنم د خبرو په وسيله د هغه د زړه نرمول، د الهي نښو د يادوني په وسيله د هغه د رباني فطرت راويښول. همدا د انساني اصلاح طريقه ده چي په بل عبارت مصلحانه تحريک هم بلل کېدای شي.

د جنګ هدف تل د بهرني مانع له منځه وړل وي، نه د انسان په باطن کي د داخلي کيفيت پيدا کول. د باطني کيفيت يا باطني شعور وسيله صرف وعظ او نصيحت دئ چي له جګړې سره هيڅ تړاو نه لري.

په اسلام کي د جګړې صرف يو ډول دئ او هغه دفاعي (defense) جنګ دی. که کومه ډله پر مسلمانانو يرغل وکړي، نو له وس سره سم دي د هغه مخه ونيسي. دا مخنيوی که د ښکاره جګړې په شکل وي او که په بله بڼه. په عامو حالاتو کي د اسلام طريقه د سوله ييز دعوت ده او د يرغل په صورت کي وسله واله مقابله.

**يوه مطالعه**

د حديبيې تر سولي (٦ هـ) وروسته چي کله حالات برابر شول، نو رسول الله له مديني بهر بېلابېلو سيمو ته دعوتي ډلي ولېږلې. په دوی کي يوه دعوتي ډله هغه وه چي د مدينې په شمال کي د شام له پولو سره پيوستي يوې سيمي ته ولاړه. هلته عيسوي قبايل مېشت ول او رومي واکمني يې منلې وه. په دې

www.sikaraam.com

دعوتي ډله کې پنځلس کسان شامل ول او مشري يې کعب بن عمير الغفاري کوله. دوی د شام نژدې سيمې ذات اطلاح ته ورسېدل. هلته يې وليدل چې يو ځای ډېر کسان راغونډ دي. دوی اسلام ته راوبلل، خو هغوی ورسره ونه مانه، بلکې غشي- يې پرې واورول (**فدعوهم الی الاسلام فلم يستجيبوا لهم ورشقوهم بالنبل**). (**البدايه والنهايه، ۴، ۲۴۱**)

په دې يو اړخيز بريد کې دوولس مسلمانان ووژل شول. يوازې کعب بن عمير الغفاري په ټپي حالت کې مدينې ته ورسېد. په شامي پوله کې د مېشتو دې عيسويانو بريد په غيرمستقيم ډول د رومي امپراتورۍ بريد وو. په دې توګه رومي سلطنت تر ټولو لومړی د اسلام پر خلاف خپل يرغليز دريځ وښود. رسول الله حارث بن عمير الازدي له يوه دعوتي ليک سره د بصرا واکمن ته ورولېږی. کله چې دی د شام موته سيمې ته ورسېد، نو له شرحبيل بن عمرو الغساني سره مخ شو. هغه پوښتنه ورڅخه وکړه چې چېرته روان يې؟. ده ورته وويل: د بصرا حاکم ته ځم. هغه وويل: ممکن ته به د محمد استازی يې؟. ده وويل: هو!. تر دې وروسته يې خپلو کسانو ته امر وکړ او حارث بن عمير يې په توره وواژه. ويل کېږي چې دا وژنه يې د بصرا د واکمن په اشاره کړې وه. (الرسول في المدينه، ۲۲۹)

شرحبيل بن عمرو الغساني عيسوي او د رومي حکومت يو قومندان وو. د هغه دا کړنه د نړيوالو اصولو له مخې د جنګ په مانا وه. له همدې امله رسول الله درې زره کسيز پوځ چمتو کړ او د اتم هجري په جمادی الاولی کې يې د شام موته سيمې ته ولېږی. کله چې شرحبيل د اسلامي پوځ په راتلو خبر شو، نو د هغوی مقابلې ته يې د يو لک کسانو لښکر چمتو کړ. له دې سره-سره د روم پاچا هرقل له يو لک پوځ سره د شرحبيل د مرستې لپاره بلقا سيمې ته راغی. د درو زرو او دوو لکو موازنه ښخي د پرتلې وړ نه وه. دا مخامخ کېدنه پرېکنده نه

وه، خو مسلمانانو په دومره زړورتیا مقابله وکړه چې رومیانو ته د مسلمانانو د پوځي ورتیا اندازه ولګېده.

ختیځ پوه واشنګټن ارونګ (Washington Irving) د رسول الله پر ژوند یو څېړنیز کتاب لیکلی دی. د هغه یو اقتباس دکتور علي حسني الخربوطي په خپل کتاب الرسول في المدینه کي نقل کړی دی. واشنګټن ارونګ لیکلي دي چې د اسلام په خپرېدو چې کله د عربو خورې-ورې پرګنې یو شوې، نو رومي پاچا هرقل د عربو دا اتحاد د ځان لپاره خطر وباله. هغه پرېکړه وکړه چې د یوه لوی پوځ په چمتو کولو پر خپل دې ممکنه دښمن برید وکړي او ویې ځپي، ځکه یې نو د عربو پر پوله د خپلو پوځونو په راغونډولو پیل وکړ. (ص، ۲۳۲)

رسول الله پرله پسې د شاوخوا سیمو حالات څارل. له همدې امله چې کله ورته څرګنده شوه چې هرقل د عربو پر پوله پوځونه راغونډ کړي دي او غواړي پر عربو د برید په کولو د اسلام زور له منځه یوسي، نو سمدستي یې د ځوابي برید پرېکړه وکړه. تر دې وروسته هغه عملیات پیل شول چې د تبوک غزا بلل کیږي. ده د پرله پسې ویناوو او وعظ په وسیله په مسلمانانو کي دا جذبه پیدا کړه چې دې عملیاتو ته ډېر کسان راغونډ شي. د حالاتو له سختۍ سره-سره دې جګړې ته د دېرشو زرو کسانو پوځ چمتو شو. په دې اړه چې کوم روایات راغلي دي، یوه برخه یې دا ده: **كان رسول الله صلى الله عليه وسلم قلّ ما يخرج في غزوة الا كَنى عنها الا ما كان من غزوة تبوک فانه بينها للناس... فامرهم بالجهاد و اخبرهم انه يريد الروم.** (البدايه والنهايه، ۵، ۳)

ژباړه: رسول الله چې به کله کومي غزا ته روانېدی، نو تر ډېره به یې له اشارې او کنایې څخه کار اخیستی، مګر د تبوک په غزا کي یې دا تګلار بدله کړه. خلکو ته یې په ښکاره ډول وویل چې د ده هدف روم دی.

د تبوک غزا د اسلامي تاريخ يوه مهمه پېښه ده چې د سيرت او تاريخ په کتابونو کي يې ډېر تفصيلات راغلي دي. که دا پېښه مطالعه کړئ، نو د جګړې په اړه د رسول الله ډېر مهم اصول ورڅخه معلومېږي چې له هغو څخه يې دوه اصول دا دي:

۱) يو دا چې د تبوک د جګړې پر مهال د رسول الله يوځې ګام د دفاع لپاره وو، نه د يرغل لپاره. له دې څخه معلومه شوه چې په اسلام کي يرغليز جنګ نه شته. يوازي هغه وخت د جګړې ګام اخيستل کيږي چې د دفاع له مخي داسي کولو ته اړتيا وي.

۲) دوهمه خبره دا ده چې په دفاعي اقدام کي هم ټکر حتمي نه دی. که دا ممکنه وي چې د خپل ځواک په ښوولو دښمن پر شا ځي او د يرغل اراده پرېږدي، نو خپل دا اقدام دي د ځانښوونې تر حده محدود کړي، حتماً دي جګړه نه کوي.

همدا مصلحت وو چې رسول الله د خپل عام عادت برخلاف د تبوک د غزا چمتووالى په ښکاره اعلان کړ او د تګ پر مهال يې هم د رازساتني پر ځای د هر څه د ښکارولو طريقه غوره کړه. د دې نتيجه دا وه چې د شام پولې ته د ده تر رسېدو وړاندي روميانو ته دا خبر رسېدلی وو چې رسول الله له ډېرش زره پوځ سره د دوی پر لوري وررروان دی. دې کار خپله ممکنه ګټه وکړه. رومي واکمنو له وېري خپل پوځونه شا ته کړل. کله چې رسول الله د رومي پوځ په شاتګ خبر شو، نو له نور پرمختګ څخه يې منع وکړه. (الرسول فی المدينه، مخ ۲۳۴)

د اسلام عمومي تګلار دا ده چې د امکان تر حده د جګړې مخنيوی وشي، دا تګلار د اسلام له هدف او مقصد سره بېخي مناسبه ده، ځکه د اسلام هدف د

جهنم له لارې د خلکو راګرځول او د جنت پر لار روانول دي، نه دا چې دوی د جاهلیت په کوم ژوند کې دي، همالته یې په وژلو ختم کړي.

د یو سوداګر سترګې د بل جیب ته وي. د جنګیالي سترګې د انسان سر تـه. د دې برخلاف د اسلام سـترګې د انسـان زړه تـه وي. د اسـلام هـدف د انسـاني زړونو بدلول دي چې د خپل رب په رحمتونو کې برخـه ترلاسـه کـړای شي. هـر سړی که څه هم دښمن یا له بل مذهب سره تـړاو ولـري، تـر هـر څـه وړانـدې انسان دی. انسـان غـواړي چـې مـوږ انسـان تـه ورسـیږو او د ده د زړه دروازې وټکوو. لیرې نه ده چې فطري وړتیا یې راپورته شي او د حـق دیـن دایـرې تـه راشي. د دې بېلګه خپله د رومیانو په داستان کـې ده. عـین پـر هماغـه مهـال چې له رومیانو سره شخړه روانه وه، په هماغه زمانه کې د رومیانو د لوړ منصب یوه سړي اسلام قبول کړ. د هغه نوم فروه بن عمـرو الجـذامي (م، ۱۲) وو. ده عیسویت منلی وو او د رومیانو له لوري پر بنو النـافره حـاکم ټاکـل شـوی وو. د بنو النافره وګړي د عقبه خلیج او ینبع تر منځ اوسېدل. کله چې اسـلام راغـی او خبرونه یې په عربو کې خپاره شول، نو پر فروه یې اغېز وکړ او بالاخره مسلمان شو. فروه الجذامي د اسلام راوړلو خبر د یوه اسـتازي پـه وسـیله رسـول الله تـه ورولېږی او د ډالۍ په توګه یې یو سپین کچر هم ور واستاوه.

کله چې رومي واکمن په دې پېښه خبر شو، نو فروه یې ځـان تـه وروغوښـت او بندي یې کړ. تر دې وروسته یې فـروه پـه فلسـطین کـې د عفـرا پـه نـوم یـوې چینې ته یووړ او په تـوره یـې وواژه. کلـه چـې رومیـانو فـروه د قتـل سـیمي تـه ورساوه، نو فروه دا شعر ووایه:

**بلغ سراة المسلمین بانني        سلم لربی اعظُمی و مقامی**

د مسلمانانو مشرانو ته دا خبر ورسوئ چي زما ټول هډوکي او زما ټول وجود د خپل رب لپاره دي. (سيرت ابن هشام، ۴، ۲۶۲)

که څه هم فروه بن عمرو ووژل شو، خو پر ځينو اصولو د ټينګېدو له امله وژنه کومه خبره نه ده. دا ډول انسان پخپل ټول وجود سره د هغو اصولو د صداقت شاهدي ورکوي چي له امله يې ده خپل ځان قربان کړی دی. په کوم ځای کي چي خلکو له خپله ځانه جوړ شوي نظريات د بازار په سياهي ليکل، هلته ده د خپلي نظريې صداقت پخپلو سرو وينو تحرير کړ. دا ډول مرګ د زرګونو کسانو لپاره د ژوند سبب ګرځي چي همداسي وشول. د لومړي دور د مسلمانانو همداسي قربانيو يوه عيسوي سيمه د تل لپاره په يوه اسلامي سيمه بدله کړه.

## سوله په ګډه ټولنه کي

د هند کوچنۍ وچه تر اوږدو هلو ځلو وروسته د ۱۹۴۷ د اګست پر پنځلسمه خپلواکه شوه. د آزادۍ دا نظریه د دوو ملتونو پر بنسټ رامنځته شوه، مګر کوم څه چي وویشل شول هغه یوه جغرافیه وه، نه ملت. یعني د هندوستان او پاکستان په نوم دوه هیوادونه جوړ شول، خو د دواړو قومونو وګړي بیا هم دواړو غاړو ته شته. دا یو ډېر خطرناک حالت وو، ځکه د قومي شخړو د ختمولو په نوم دوه هیوادونه تقسیم شول، خو قومونه لا هم بې تقسیمه پاته دي. په دې توګه له مځکني وېش سره-سره قومی شخړي بیا هم پاته وې، بلکي نوري سختي شوې. که په اول سر کي د دوو بېځواکه قومونو جګړه وه، نو اوس د دوو ځواکمنو دولتونو جګړه شوه. مهاتما ګاندي د دې مسئلې په

نزاکت له اولي ورځي پوه شوی وو. د آزادۍ پر مهال هغه په خپل یوه مضمون کي دا تاریخي الفاظ ولیکل:

هندوان او مسلمانان باید په سوله او همږغي له یو-بل سره ژوند وکړي، که نه زه به په دې هڅو کي خپل ځان قربان کړم.

Hindus and Musalmans should learn to live together with peace and harmony; otherwise I should die in the attempt.

له بده مرغه مهاتما ګاندي د هند تر خپلواکۍ وروسته ډېر ژر په ګولۍ ووژل شو. یقیناً دا یوه لویه پېښه وه، ځکه په نتیجه کي یې د سولي او اتفاق د رامنځته کولو پروسه په خپله لومړنۍ مرحله کي له یوه ډېر لوی مشر څخه بې برخي شوه. لکه څرنګه چي معلومه ده له خپلواکۍ سره د لیکي دواړو لورو ته فرقه ییزي شخړي د ناولي کړني په شکل پیل شوې. د تاوتریخوالي دې لړۍ تر څو کلونو دوام وکړ. بالاخره د هغه مهال لومړي وزیر جواهر لال نهرو د دې مسئلې په اړه ملي غونډه راوبلله چي د ۱۹٦۱ سپتمبر له ۲۸ څخه یې د اکتوبر تر لومړۍ نېټې دوام وکړ. په دې غونډه کي د رایو په اتفاق یو کمېسیون جوړ شو چي نوم یې نېشنل انټګرېشن کونسل (د ملي یووالي کمېسیون) وو. مرکزي دفتر یې په لاهور کي پرانیست او د دې کمېسیون هدف دا وښوول شو چي له ملي یووالي سره به پر تړلو ستونزو غور کوي او اړین وړاندیزونه به کوي.

د دې کمېسیون غونډه دوهم ځل د ۱۹٦۲ د جون پر دوهمه او دریمه په نوي ډیلي کي وشوه. ګډونوالو ویناوي وکړې او د فرقه ییزو شخړو د حل لپاره یې څو وړاندیزونه وکړل، خو په هغو وړاندیزونو عمل ونه شو، ان تر دې چي وروسته کمېسیون د جواهر لال نهرو په ژوند کي دریمه غونډه ونه کړه.

تر دې وروسته چې کله اندرا ګاندي د هیواد لومړۍ وزیر شو، نو هغه احساس کړه چې د ملي یووالي کمېسیون باید دوهم ځل جوړ شي. هغه د ۱۹٦۸ د جون پر شلمه او یوویشتمه په سرینګر کې د دې کمېسیون غونډه راوبلله. هلته تفصیلي بحثونه وشول، بالاخره یوه کړنلار ترتیب شوه چې یوه برخه یې دا وه:

د فرقه ییز فعالیت مانا دي دا وبلل شي چې د بېلابیلو مذهبي ډلو، نسلي ګروپونو، قومونو او ملیتونو تر منځ د مذهب، نسل، نژاد او قومیت پر بنا یا بل څه پر بنسټ د دښمنۍ یا نفرت خپرولو یا خپرېدو هڅه وشي، دا دي یو داسي جرم وبلل شي چې پولیس ورسره قانوني چلند وکړي او پر همدې بنسټ سزا موندونکی دي د عوامو د استازیتوب د قانون له مخي نااهل وګڼل شي. اوازې خپرول، د ډار د خبرونو او افکارو خپرول دي د ۱۵۳ مادې له مخي جرم وګڼل شي.

د کمېسیون په غونډو کې دا ډول ډېر وړاندیزونه د رایو په اتفاق ومنل شول، تر دې وروسته یې په تائید کې ډېر قوانین او قواعد جوړ شول، خو عملاً یې هیڅ ګټه ونه کړه. له همدې امله د هیواد حالت اوس هم نژدې هغه ډول دئ لکه په ۱۹۴۷ کې چې وو.

د دې ناکامۍ سبب څه دی؟ بنسټیز علت یې دا دئ چې دا ستونزه په ساده ډول د حقوقي فرمانونو مسئله ګڼل شوې ده، مګر د خپل اصلي حقیقت له مخي دا د حقوقي فرمانونو مسئله نه ده، بلکې د ذهن جوړوني یا شعور د اصلاح مسئله ده. د دې ستونزي د حل لپاره اصلي ضرورت دا دئ چې خلکو ته د ژدکړي زمینه برابره شي، په دوی کې سم فکر وروزل شي او د دوی دا وړتیا وده ومومي چې د یوه او بل شي تر منځ توپیر وکړي. دوی د ګټور او بې ګټې عمل تر منځ په تمیز وپوهېږي او دا درک کړي چې څه وکړي او څه ونه

کړي؟. دوی په دې حقیقت خبر شي چې د عملي ګامونو تر اخیستلو وړاندې د فکر د مراحلو پوره کول ضروري دي. باید عمل د فکر تابع وي، نه دا چې فکر د عمل تابع شي.

دا ډول ذهنیت درلودونکې ټولنه ګواکې هغه ځمکه ده چې هلته د فرقه ییزي همږغۍ فصل کرل کېدای شي. د قانون هدف دا وي چې د ټولني استثنایي فساد د عملیاتو په څېر د یوه کار په وسیله سم کړي. هیڅ قانون د ټولني د عمومي حالت د اصلاح لپاره نه وي. اپرېشن یا عملیات د جسم د یوې ضمني ناروغۍ د روغتیا لپاره وي. که ټول بدن په عمومي ډول ناروغ شي، نو په داسي حالت کي اپرېشن هیڅ ګټه نه لري. غواړم دلته د دې ستونزي څو بنسټیز اړخونه واضح کړم. دا اړخ په مستقیم ډول د عوامو د ذهنیت جوړوني له پوښتني سره تړاو لري. ډېره اړینه ده چې زموږ په ذهن کي د دا ډول پوښتنو واضح ځواب موجود وي چې له څه ګډوډۍ پرته د ذهن جوړوني یا شعوري تعمیر په کار کي ګټه ورځخه واخیستل شي.

## مذهبي اختلاف

په دې لړ کي لومړۍ فکري مسئله له مذهبي اختلاف سره تړاو لري. د مذاهبو پرتله ییزه مطالعه ظاهراً ښیي چې تر منځ یې څرګند اختلاف موندل کیږي. مثلاً د یوې مذهبي ډلي عقیده د وحدت الوجود (monism) پر تصور بنا ده او د بلي ډلي عقیده د توحید (monotheism) پر تصور ولاړه ده. په یوه مذهب کي پخپله پیدا شوي حقیقت (self-discovered truth) تصور شته او په بل مذهب کي د اسماني حقیقت (revealed truth) تصور.

www.sikaraam.com

ځيني خلک په دې اند دي چې همدا مذهبي بېلتون او اختلاف د ټولو فرقه ييزو شخړو اساس دی. په هيواد کې فرقه ييزه هماهنګي يوازي په هغه صورت کې راتلای شي چې په يو نه يو ډول دا مذهبي اختلافات له منځه ولاړ شي. ځيني سختدريځي کسان يې د (buldose them all) ژبه بولي، خو دا دومره د عملي کېدو له پړاوه ليري ده چې له سره د يادوني وړ نه ده. ځيني نور خلک هڅه کوي چې په يو نه يو ډول ثابته کړي د ټولو دينونو تعليمات يو دي. په دې دوهمه ډله کې يو وتلی نوم د ډاکټر بهګوان داس (۱۸۶۹-۱۹۵۸) دی. دی يو ډېر لايق سړی وو. ده د ټولو لويو اديانو تر مطالعې وروسته يو کتاب چمتو کړ او په هغه کې ويل شوي ول چې د ټولو اديانو تعليم يو دی. دا کتاب ۹۲۹ پاڼي لري او نوم يې دا دی:

Essential Unity of All Religions.

د غوره شوو اقتباسونو په رااخيستلو د ټولو مذهبونو يو ډول ګڼل داسي دي لکه يو څوک چې د بېلابيلو هيوادونو قوانين راواخلي او له هر قانون څخه غوره مادې يو ځای کړي، د کتاب په بڼه يې چاپ او پر بنسټ يې دا دعوه وکړي چې د هر هيواد قانون يو دئ او د يو ډول مادو مجموعه ده. دا ډول نړيوال قانون يو ليکوال خوشحاله کولای شي، خو د هيڅ هيواد لپاره به د منلو نه وي. هر هيواد به يې د منني په ويلو رد کړي. د اديانو د اتحاد په اړه دا ډول کتابونه هم دغسي حالت لري. د دا ډول کتاب چمتو کوونکی به له دې څخه خوشحالي ترلاسه کولای شي، خو د اديانو د پيروانو لپاره به د قبلولو وړ نه وي.

ما هم پر دې موضوع تفصيلي مطالعه کړې ده. د خپلي مطالعې پر مهال مې دا موندلې ده چې ټول مذاهب يو ګڼل له حقيقت سره سمون نه لري. حقيقت دا دئ چې د بېلابيلو دينونو يا مذاهبو تر منځ دومره ډېر اختلافات دي چې د

هغو یو ګڼل په عملي ډول امکان نه لري. مثلاً یو مذهب وايي چي خدای یو دی. بل وايي دوه دي. بل وايي درې دي او یو بل بیا دا دعوه کوي چي د خدایانو شمېر میلیونونه دی. د ځینو په اند د خدایانو شمېر دومره زیات دئ چي شمېرل يې امکان نه لري، په داسي حالت کي د ټولو مذاهبو لارښووني یو ګڼل یوه داسي خبره ده چي د یو خوشبین کس په دماغ کي ځای موندلای شي، مګر په عملي او منطقي ډول يې درک ناشونی دی. ان که بالفرض د یوه پلان له مخي د ټولو ادیانو متون یو ډول ثابت شي، نو هم به اختلاط پای ونه مومي، ځکه موږ وینو چي په بېلابیلو مذاهبو کي هر یو يې یو منل شوی متن لري، مګر د یوه متن په تعبیر کي دوهم ځل اختلافات پیدا کیږي او یو مذهبي متن په داخل کي دننه د څو مذهبي ډلو (sects) د رامنځته کېدو سبب ګرځي.

حقیقت دا دئ چي اختلاف یا توپیر یوازي د مذهب خبره نه ده. زموږ ټوله نړۍ په بشپړ ډول د توپیر او تنوع پر اصولو ودانه ده. دا فرق دومره پراخ دئ چي هیڅ دوه شیان یا انسانان له توپیره خالي نه دي. یو چا پر ځای خبره کړې ده چي فطرت له یو ډول کېدو کرکه لري.

Nature abhors uniformity.

کله چي توپیر او اختلاف پخپله د فطرت قانون وي، نو مذهب څرنګه ورڅخه استثنا کېدای شي؟ حقیقت دا دئ چي په څه ډول د نړۍ د یوه او بل شي تر منځ توپیر موندل کیږي، همداراز په مذاهبو کي د یوه او بل تر منځ توپیر شته. موږ په نورو معاملاتو کي د توپیر د له منځه وړلو جدي هڅه نه کوو، بلکي دا وایو چي راځئ پر دې یوه خوله شو چي تر منځ مو اختلاف دی.

Let us agree to disagree.

موږ باید همدا عملي فورمول د مذهب په اړه هم خپل کړو. موږ باید دلته هم له توپیر او اختلاف سره-سره پر اتحاد زور وکړو، نه له توپیر او اختلاف پرته پر اتحاد. حقیقت دا دئ چي د مذهبي اختلافاتو ستونزه صرف یو حل لري او هغه دا دئ چي یو ومنئ او د ټولو احترام وکړئ.

Follow one and respect all.

## کلتوري اختلاف

په دې لړ کي دوهمه ستونزه کلتوري اختلاف دی. د بېلابیلو ډلو تر منځ کلتوري اختلاف یو حقیقت دی. ځیني خلک په دې اند دي چي همدا اختلاف د ټولو شخړو اساس دی. د دوی په اند د دې مسئلې حل دا دئ چي په ټولنه کي د کلتور په نوم کوم اختلافات موندل کیږي، هغه په بشپړ ډول له منځه ولاړ شي او یوه داسي ټولنه جوړه شي چي تر منځ یې کلچرل یونیټي (کلتوري اتحاد) وي.

دا وړاندیز هم سراسر د عملي کېدو نه دی. کلتور نه د چا په جوړېدو جوړیږي او نه د چا په له منځه وړلو ختمیږي. کلتور تل د تاریخي عواملو له امله په اوږده موده کي رامنځته کیږي. په یو دفتر کي په ناسته د کلتور نقشه نه شي جوړېدای.

تر دوهمي نړیوالي جګړې وروسته په ځینو هیوادونو کي د داسي نظریې طرحه کوونکي (ideologue) پیدا شول چي د ملي اتحاد لپاره یې د یوه کلتور درلودونکي ټولني پر درلودلو تاکید کاوه. مثلاً په کاناډا کي د همدې فکر له امله د یوني کلچرلیزم غورځنګ رامنځته شو، خو تجربې وښوده چي د عملي کېدو نه وو، ځکه یې نو په شلو کالو کي دننه دا نظریه خوشي کړه. اوس په

کاناډا کې په رسمي ډول د ملټي کلچرليزم اصول منل شوي دي او د يوني کلچرليزم نظريه د تل لپاره خوشي شوې ده.

د امريکا حالت هم داسي دی. په امريکا کې تر دوهمې نړيوالې جګړې وروسته د امريکانايزېشن تحريک رامنځته شو. د دې مقصد هم هماغه وو، خو تر اوږدو هڅو وروسته څرګنده شوه چې د کلتور د يو کېدو نظريه د عمل وړ نه ده، ځکه نو دا نظريه پرېښودل شوه او په امريکا کې هم د څو کلتورونو يا ملټي کلچرليزم اصول ومنل شول.

حقيقت دا دئ چې د کلتور اختلاف د دوو ډلو تر منځ د اختلاف معامله نه ده، خپله د دوو ډلو تر منځ هم دا ډول اختلافات موندل کېدای شي. د دې داخلي اختلاف بېلګې په هره ډله کې ليدلای شئ، ځکه نو د بېلابېلو اديانو تر منځ د اتحاد او همږغۍ د پيدا کولو لپاره د مذهبي لارښوونو بدلون اړين نه دی. صرف دې ته اړتيا ده چې د اديانو په پيروانو کې هغه فکر پيدا شي چې ژوند وکړئ او د ژوند اجازه ورکړئ (live and let live).

ځينې کسان دا ناکامه تجربه يو ځل بيا هم تکراروي او د سوشل ري انجنېرينګ نوم يې ورکړی دی:

Social re-engineering of Indian Society.

د دې هدف دا دئ چې د ټولني د بېلابېلو ډلو تر منځ کوم فرهنګي توپير موندل کيږي هغه يو ځل بيا تشکيل شي او يوه داسي ټولنه رامنځته شي چې تر منځ يې کلتوري توپير نه وي او د هيواد ټول خلک له يوه ګډ کلتور سره سم ژوند وکړي.

د يوه ډول کلتور جوړولو کار ته چې هر نوم ورکړل شي، نتيجه يې په هر حالت کې يوه ده او هغه دا چې هيڅ نتيجه نه لري. دا ډول نظريه د خپل حقيقت له

مخې کلچرل بلډوزینګ ده. دا که سوشل رې انجنیرینګ وبلل شي او که کلچرل نېشنلیزم، خو په هر حال د عمل وړ نه ده او کوم شی چې له فطري قوانینو سره سم له پیله د عمل وړ نه وي، هغه د خپل عمل هدف ګرځول یوازې وخت ضایع کول دي.

زه په دې معامله کې په نظریاتي کچه اختلاف نه لرم، بلکې د عمل پر بنسټ دی. زه دا نه وایم چې دا کار غلط دی، بلکې دا وایم چې د عمل وړ نه دی. که بالفرض داسې ممکنه وای چې په ټول هیواد کې یوه ژبه، یو کلتور او د ناستې پاستې یوه طریقه رامنځته کېدای، نو ما به ویل چې باید ضرور همداسې وشي، مګر د فطرت او تاریخ د قوانینو له مخې دا ډول یووالی ممکن نه دی. نه یې په تېر تاریخ کې امکان درلودلی دئ او نه په راتلونکې کې امکان درلودای شي. فرهنګ تل د خپلو قوانینو له مخې رامنځته کیږي. دا شونې نه ده چې په کوم دفتر کې دې د فرهنګ له ځانه جوړه نقشه برابره او د هیواد په ټولو ډلو کې دې دود شي.

په داسې حالت کې باید موږ هغه څه وکړو چې په نورو اختلافي مسایلو کې یې کوو، یعنې د زغم (tolerance) د اصولو له مخې د خپلو ستونزو حل کول. له حقیقت سره د همږغۍ د طریقې په غوره کولو له هغې ځان خلاصول، نه دا چې د ټکر لار خپله کړو. په دې معامله کې د ټکر طریقه یوازې ستونزه ډېروي، نه دا چې حل به شي.

دلته د یوې بلې خبرې سپیناوی هم اړین دی. ځینې خلک وایي هندوان خو په هندوستان کې زېږېدلي دي. د دوی د وفادارۍ مرکزونه په همدې هیواد کې دي، مګر د مسلمانانو معامله له دې بېله ده. دمسلمانانو عقیدوي مراکز (مکه او مدینه) له هندوستانه بهر دي، ځکه نو مسلمان هیڅکله دې هیواد ته وفادار نه شي پاتېدای.

زه وایم دا یوه انساني مسئله ده چې له هندوانو او مسلمانانو دواړو سره تړاو لري. مثلاً که یو هندو د سومنات له مندر سره عقیدوي مینه لري، نو مطلب یې دا نه دئ چې د اجودهیا له مندر سره عقیدوي تړاو نه شي درلودای. که د یوه هندو په زړه کې د خپل مور مینه وي، نو د دې مطلب دا نه دئ چې زړه به یې د پلار له میني خالي وي. د مسلمانانو حالت هم داسي دی. دوی که له مکې او مدینې سره د زړه تړاو لري، نو مطلب یې دا نه دئ چې له هندوستان سره به دا ډول تعلق نه لري. رښتیا دا ده چې دا ډول فکر انساني تصغیر (underestimation) دی. هر څوک هندو وي او که مسلمان په دواړو حالتونو کې هغه د فطرت یوه نښه ده او فطرت چې کوم انسان پنځولی دئ په هغه کې دومره پراختیا ده چې پر یوه مهال په خپل زړه کې څو محبتونو او وفاداریو ته یو ډول ځای ورکولای شي.

دا یو داسي فطري حقیقت دئ چې هر انسان یې تجربه لري او هر نارینه و ښځه د خپلي شخصي تجربې له مخي پرې پوهیږي. یوه لوېدیځوال مفکر دا فطري حقیقت په دې ټکو بیان کړی دی: په ما کې دننه دومره پراختیا ده چې پر یوه مهال په ځان کې بېلابیلو تضادونو ته ځای ورکولای شم.

I am large enough to contain all these contradictions.

## دین او سیاست

په فرقه ییزو شخړو کې ډېر وخت د دین نوم استعمالیږي. ډېر کله داسي وي چې یوې سیاسي یا قومي ستونزي ته د مذهب نوم ورکول کیږي او بیا په بیړه د خلکو احساسات پاروي او د بېلابیلو ډلو تر منځ د تاوتریخوالي سبب ګرځي. له همدې کبله ډېر خلک خپله د مذهب مخالفین ګرځېدلي دي. د دوی وینا

www.sikaraam.com

ده چې انسان دین یا مذهب ته هیڅ اړتیا نه لري، له همدې امله باید مذهب ختم شي. له دې پرته ټولنیز اتحاد شونی نه دی.

خو دا په تونددلاریتوب سره د تونددلاریتوب ځواب دی. دا په بې پرې سختدریځۍ سره د مذهبي سختدریځۍ مقابله ده چې نه ممکنه ده او نه ګټوره. حقیقت دا دئ چې مذهب په خپل ذات کې ستونزه نه ده، مذهب یا دین د انساني ژوند یوه رغنیزه برخه ده. ستونزه دا ده چې ځینو ځانغوښتونکو له دین څخه سیاسي ایکسپلایټېشن جوړ کړی دی. له همدې وجې اصلي مسئولیت د ایکسپلایټېشن له منځه وړل دي، نه د مذهب.

مذهب دوې برخې لري: انفرادي او اجتماعي. د مذهب له انفرادي برخې څخه مراد عقیده، عبادات، اخلاق او روحانیت دئ او له اجتماعي برخې څخه یې مراد د هغه سیاسي او ټولنیز احکام دي. په دې هکله سمه تګلار دا ده چې په عامو حالتو کې دې یوازې د مذهب پر انفرادي برخه زور وشي او ټوله توجه دې د دیني روحیې ژوندي کولو ته واوړي. تر کومه ځایه چې د مذهب په ټولنیزو او سیاسي احکامو پورې اړه لري، دا دې تر هغه وخته نه شنل کیږي چې ټوله ټولنه ورته چمتو شوې نه وي. ټولنیز او سیاسي احکام د ټولې ټولنې په خوښه پلي کېدای شي. له همدې کبله باید د داسې احکامو په معامله کې تر هغه وخته له عملي ګام اخیستلو ډډه وشي چې تر څو پورې د ټولې ټولنې اجتماعي اراده له هغو سره توافق نه وي موندلی. دې چارې ته د مذهب او سیاست تر منځ عملي بېلتون ویل کېدای شي، یعني په فکري ډول سیاست د مذهب یوه برخه ګڼل کیږي، خو د عملي حقایقو پر بنسټ دې د سیاسي احکامو عملي تطبیق د یو څه وخت لپاره وځنډول شي چې دې ته د حکمت نوم ورکولای شو. د دې حکمت فایده دا ده چې د مذهب او سیاست دواړو غوښتنې پوره کیږي. د مذهب غوښتنې سمدستي پوره کیږي او د

www.sikaraam.com

سیاست دا په راتلونکي کي. که د دې برخلاف دې حکمت ته پام ونه شي او دواړه اړخونه پر یوه مهال وځېږل شي، نو نتیجه به یې دا وي چې د مذهب او سیاست دواړو غوښتني به له پوره کېدو پاته شي.

## د شمالي او جنوبي انډیا تر منځ توپیر

د ډله ییز توافق پوښتنه په اساسي توګه له شمالي هندوستان سره تړاو لري. په جنوبي هندوستان کي نن هم کمیونل هارموني یا ډله ییز توافق موندل کیږي. موږ چي د کمیونل هارموني یا نېشنل انټیګرېشن په نوم د څه ډول ټولني جوړښت غواړو، هغه همدا اوس په جنوبي هندوستان کي موجود دی. تاسو خبر یاست چي د فرقه ییزو شخړو نژدې ټولي پیښې په شمالي انډیا کي کیږي. تر کومه ځایه چي په جنوبي هندوستان پوري اړه لري، هلته فرقه ییزي شخړي دومره کمي دي چي د شمېر وړ نه دي. زما په اند د دې توپیر مطالعه زموږ لپاره یوه لارښوونکې مطالعه کېدای شي. پر دې سربېره خپله په شمالي هندوستان هم دوې برخي لري چي یوه یې ښاري سیمه ده او بله یې کلیواله.

پیښې ښیي چي ډېری فرقه ییزي شخړي په ښارونو کي شوي دي او کیږي. تر کومه ځایه چي په کلیوالو سیمو پوري اړه لري، هلته دا ډول پیښې ډېري لږ دي. د دې فرق مطالعه هم ډېره مهمه ده. په دې سره موږ نه یوازي د پیښو په توجیه کي مرسته ترلاسه کوو، بلکي دا پرېکړه هم اسانه کیږي چي د فرقه ییزو شخړو په ختمولو د ډله ییزي هماهنګۍ د فضا رامنځته کول د همدې تدابیرو په وسیله امکان لري.

د ملي یووالي په لړ کي هندوان ځیني عقاید لري چي مسلمانان ورڅخه شکایت کوي. دلته زه پر هغو بحث نه کوم. په دې معامله کي مي مسلمانانو

ته مشوره دا ده چې دوی دې له اسلامي اصولو سره سم د مخ اړونې او زغم (avoidanceand tolerance) تګلار غوره کړي، البته هندوان هم له مسلمانانو څو ګیلې یا ځینې غلطفهمۍ لري. زه غواړم دلته د دې ستونزې یو څه وضاحت وکړم او ځینې هغه اسلامي اصطلاحات تشریح کړم چې د دواړو لورو تر منځ د ناسم پوهاوي سبب شوي دي یا کېدای شي.

زه به دلته ضمناً یوه بله خبره وکړم. په موږ کې عمومي رواج دا دئ چې کله یو مسلمان تېروتنه وکړي، نو هندوان يې پر خلاف لیکنې او خبرې کوي. همداراز که کوم هندو تېروتنه وکړي، نو مسلمانان يې پر خلاف لیکنې او خبرې کوي. د سمونپال فکر له مخې دا تګلار ډېره بې ګټې ده. په دې سره به یوه غاړه داسې خبرې خپل وکالت وګڼي او خوشحاله به شي، خو دوهمه غاړه به يې مثبته ونه انګیري.

سمه او ګټوره تګلار دا ده چې که مسلمان غلطي وکړي، نو خپله مسلمان پوهان او مفکرین يې پر خلاف لیکنې او خبرې وکړي. همداراز که هندو تېروتنه وکړي، نو هندو مسئولین يې پرخلاف لیکنې او خبرې وکړي. عین هماغه ډول لکه د یو کور ماشوم چې غلطي وکړي، نو تر ټولو وړاندې يې خپل پلار پوهوي. پلار يې دې ته انتظار نه کوي چې د سیمې خلک د هغه پرخلاف وړغیږي او که د سیمې خلک د هغه پر خلاف خبرې هم وکړي، نو پر ماشوم به ښه اثر ونه لري.

دا یو نفسیاتي حقیقت دئ چې انسان د خپلوانو پوهاوی مثبت ارزوي او ځان اصلاح کوي. د دې برخلاف د پردیو له خوا پوهول د ځان سپکاوی ګڼي او مثبت اثر يې نه مني. د فرقه ییز اتحاد په لړ کې دا ډول تګلارې ته پاملرنه ډېره ضروري ده.

## قوم او قوميت ۱

په دې لړ کې د ځينو اسلامي اصطلاحاتو وضاحت اړين دی. د دې اصطلاحاتو کره مفهوم د مسلمانو او نامسلمانو تر منځ اتحاد او همږغي پيدا کوي او د هغو ناسم مفهوم برعکس د دواړو تر منځ د ليريوالي سبب ګرځي.

په هغو کي يوه يې د قوميت مسئله ده. له قرآن څخه ښکاري چې هر رسول خپلو نامسلمانو مخاطبينو ته د اې زما قومه! يا قومي په لفظ خطاب کړی دی. له دې قرآني بيان سره سم د مومن او غيرمومن قوميت (نېشناليټي) يوه وي. حقيقت دا دئ چي قوميت له مذهب سره تړاو نه لري، بلکي له وطن سره تړلی دی. د مذهبي اشتراک لپاره د ملت لفظ کاريږي او د وطني اشتراک لپاره د قوميت. دا مهال وطن (home land) د قوميت بنسټ بلل کيږي. د اسلام اصول هم دا دي. د اسلام له اصولو سره سم هم وطن د قوميت بنسټ دی.

له همدې امله دوه قوميزه نظريه يوه غيراسلامي نظريه ده. دوه قوميزه نظريه په مسلمانانو کي دا ذهنيت پيدا کوي چي موږ بېل قوم يو او نور بېل، مګر سم اسلامي ذهنيت دا دئ چي مسلمانان دي خپل ځانونه له نورو سره يو قوم وبولي، هغوی ته دي اې زما د قوم خلکو په ويلو خطاب وکړي، لکه ټولو پيغمبرانو چي همداسي کړي دي. په قرآن کي دي: اې خلکو! تاسو مو له يوه نارينه او ښځي څخه پيدا کړاست، پر شعبو او قبايلو مو ووېشلاست چي يو-بل وپېژنئ. (الحجرات، ۱۳)

---

[1] په دې ليکنه کي قوميت د ملت په مانا کارول شوی دی، دا ځکه چي د ليکوال په اند ملت اصلاً د يو دين لپاره کاريږي، نه په هغه مانا چي زموږ په ادبياتو کي يې کاروو. له همدې امله ما (ژباړن) دلته قوميت د ملت په مانا کارولی دئ او ملت د مذهب يا دين لپاره استعمال شوی دی.

په دې آيت کې له شعب څخه مراد د وطني اشتراک پر بنسټ رامنځته کېدونکی قوم او له قبيلې څخه مراد د نسلي اشتراک پر بنسټ جوړېدونکې ډله ده. له قرآن سره سم دا دوه ډوله ډله ييز وېش يوازې د پېژندنې لپاره دی. د عقيدې او مذهب د ښوونې لپاره نه دی.

مولانا حسين احمد مدني د ۱۹۴۷ په لومړيو کې ويلي ول چې دا مهال قومونه د هيوادونو پر بنسټ جوړيږي. د مولانا صاحب دا وينا پر خپل ځای سمه وه، خو فکر کوم چې په دې کې د اوسمهال شرط پر ځای نه وو. حقيقت دا دئ چې قوم تل د وطن پر بنسټ رامنځته شوی دی. اوسمهال صرف دومره شوي دي چې د ډېرو نورو شيانو په څېر په دې اړه هم د تعين او تشخيص لپاره نوي طريقې کارول شوي دي. مثلاً په پاسپورټ کې د قوميت ليکنه چې پخوا پاسپورټ رواج نه درلود، د نړيوالو حقوقو د تعين لپاره د قوميت قانوني تحريف، يوه هيواد ته په منسوبېدو د قانون په ژبه د يوه قوم د افرادو حقوقي تشخيص او نور. دا خبره به پر ځای وي چې د قوم لفظ اوسمهال هم اصلاً په هغه مانا کاريږي په کومه مانا چې پخوا کارېدی. توپير صرف دا دئ چې پخوا يې مفهوم ګونګ وو او اوس واضح دی.

ځيني کسان قوميت د سختدريځۍ پر بنسټ تشرېح کوي، ان قوميت يې د مذهب هممانا ګڼلی دی، مګر دا يوه فکري سختدريځي ده. د دا ډول فکري سختدريځۍ بېلګې خپله په مذهب کي هم موندل کيږي. مثلاً دا مهال ځينو مسلمانو مفکرينو اسلام په داسي سختدريځ ډول تشرېح کړی دئ چې له اسلام پرته هر نظام طاغوتي نظام دی، د هيڅ مسلمان لپاره په دې طاغوتي نظام کې اوسېدل جواز نه لري، ان په دې فرضي طاغوتي نظامونو کې زدکړې، رسمي دنده، د رايي ورکول، د شخړو لپاره د قانوني پريکړو په موخه ملکي محکمو ته رجوع کول او داسي نور ټول حرام بلل شوي دي.

د طاغوتي نظام دا مفکوره د ځینو افرادو د متشددانه ذهنیت نتیجه ده. د خدای او رسول له اسلام سره یې هیڅ تعلق نه شته. همدا وجه ده چې حقایقو د دې نظریې پلویان مجبور کړل چې په خپل عملي ژوند کې له دې څخه لاس پر سر شي. همدا وجه ده چې اوسمهال ټولو خلکو له اعلان پرته په عملي ډول د سختدریځی دا مفکوره پرېیښې ده چې د قومیت معامله هم داسې ده. د لوېدیځ ځینو سختدریځو مفکرینو د قومیت مفهوم ته پراختیا ورکړه او د بشپړ مذهب په بڼه یې وړاندې کړ، مګر د حقایقو له تیرو سره په ټکر دې نظریې ماته وخوړه. اوس په عملي توګه د قومیت تصور نژدې په هماغه فطري مانا کارېږي په کومه فطري مانا چې په قرآن کې کارېدلی وو.

د شلمې پېړۍ په لومړۍ نیمايي کې راپاڅېدلو مسلمانو مشرانو دا توپیر درک نه کړای شوای. هغوی د قومیت او وطنیت په معامله کې همدا غیرفطري سختدریځه مفکوره وکاروله او له همدې امله یې د هغې د نااسلامي کېدو اعلان وکړ. یوه مشهوره بېلګه یې مسلمان شاعر اقبال (مړینه ۱۹۳۸) دی. ده د قومیت او وطنیت دا سختدریځی موقت تصور اصل ګڼلی دئ او په دې اړه یې لاندې اشعار ویلي ول:

اس دور میں مے اور ھے جام اور ھے جم اور تهذیب کے آزر نے تر شوائے صنم اور
ان تازه خداوں میں بڑا سب سے وطن ھے جو پیرهن اس کا ھے وه مذهب کا کفن ھے

د قومیت او وطنیت په اړه دا نظریه له شک پرته بنسټ نه لري. د حیرانتیا خبره دا ده چې د هغه وخت ډېری مسلمان علماوو او مفکرینو سیاسي وزمه شیان د مذهب یا اسلام لپاره مرګ او ژوند ګڼلي ول. حال دا چې هیڅ ډول سیاسي شاتګ او پرمختګ د اسلامي دین د ابدیت لپاره ننګونه نه شي کېدای. مثلاً د شلمې پېړۍ په پیل کې چې کله د ترکانو عثماني سلطنت له منځه ولاړ، نو شبلي عثماني دا شعر ووایه:

زوال دولت عثمان زوال شرع و ملت هی　　عزیز و فکر فرزند و عیال و خانمان کب تک

دا مفکوره یقیناً بې بنسټه ده چې د یو حکومت لـه منځـه تـګ دي د شرعـي او ملت لپاره د زوال مانـا ولـري. داسي نـه هيڅکلـه شـوي او نـه کېـدای شي. د اسلام په لومړنۍ دوره کې راشده خلافت لـه منځـه ولاړ، مګـر د اسـلام سـوله ييزي پراختيا پرله پسې دوام وموند. تر هغه وروسـته امـوي سـلطنت دړې-وړې شو، بيا هم د اسـلام سـفر دوام وموند. ورپسـې عبـاسي سـلطنت خـتم شـو. د اندلس مسلمان سلطنت له منځه ولاړ. د مصر فاطمي سلطنت سـقوط وکـړ. د هندوستان مغولي سلطنت پای وموند او نور خو د سـلطنتونو دا زوال د اسـلام د زوال سبب نه شو.

همـداراز پـه شـلمه پېـړۍ کـې ځينـي سـختدريځي افکـار راپورتـه شـول لکـه کمونيزم، نازيزم، نېشنليزم، وطنيت او نور، مګر د دې ټولو آخري انجـام دا شـو چې د فطرت قانون يې سختدريځي عناصر له منځه وړي او بـالاخره چـې کـوم څه پاته شول دا هماغه ول چې د فطرت د قانون له مخـي يـې غوښـتنه شـوې وه. د فطرت ابدي قانون پر بـل هـر شي برلاسـی دی. د فطـرت قـانون داسي کوي چې سختدريځي افکار له منځه وړي، د ژوند له ډګره يې پناه کـوي او پـر ځای يې معتدلو افکارو ته د کار کولو فرصت برابروي.

## د کفر او کافر تصور

همدا راز له دې معاملې سره يوه تړلې اصطلاح کفر ده. ځيني کسان وايي چې په مسلمانانو کې د کفر او کافر کوم تصور موندل کيږي هغه د ملي يـووالي پـه لار کې لوی خنډ دی، خو دا فکر د ناسم پوهاوي لـه املـه رامنځتـه شـوی دئ چې له قرآن سره هيڅ تړاو نه لري.

د کفر لفظي مانا ده انکار او د کافر مانا ده انکار کوونکی. په قرآن کې دا دواړه الفاظ د رسول په اړه ویل شوي دی، نه د عامو خلکو په اړه. پر دې سربېره کفر او کافر یو شخصي کردار دی، نه د یوې ډلي رسمي او میراثي نوم. د یو چا په اړه کفر او انکار هغه وخت ثابتیږي چې د پیغمبر په څېر دعوت ترسره شي او د تکمیل هغه پړاو ته ورسیږي چې اتمام حجت یې بولي. له دا ډول پیغمبري دعوت پرته د یو چا په اړه دا ویل پر ځای نه دي چې ده د کفر یا انکار کړنه ترسره کړې ده.

همدا راز د یوه فرد یا ګڼو افرادو په اړه په مشخص ډول دا اعلان کول چې هغوی کافران شوي دی، د عامو خلکو لپاره جواز نه لري. د کفر فعل په حقیقت کې له نیت سره تړاو لري او د نیت حالت صرف الله ته معلوم دی. له همدې امله په مشخص او معلوم ډول د یو چا په اړه دا اعلان چې هغه کافر شوی دی، صرف د الله کار دئ او یا د ورکول شوي الهي علم پر بنسټ د رسول.

په قرآن کې صرف یوه داسي حواله شته چې د تېر وخت ځیني کسان په معلوم ډول کافران بلل شوي دي، هغه دا چې: **قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ**. (**الكافرون**، ۱)

په قر آن کې دا ډول مشخص کتاب د بلي کومي ډلي په اړه نه دئ راغلی، یعني په قرآن کې له دې استثنا پرته د کفر کړنه یاده شوې ده، مګر په مشخص ډول یو څوک د کفر ترسره کوونکی نه دئ بلل شوی.

## د دارالحرب اصطلاح

د دارالحرب اصطلاح د عباسي عصر په جوړېدونکې فقه کې حتماً استعمال شوې ده، خو دا اصطلاح په قرآن او حدیثو کې نه شته. دا توپیر ښیي چې د

دارالحرب اصطلاح یوه اجتهادي اصطلاح ده، نه منصوصي. د اجتهادي نظريې په اړه ثابته ده چې هم صحت درلودای شي او هم غلطي. زما په اند د دارالحرب اصطلاح یوه اجتهادي تېروتنه ده. د رسول الله په زمانه کې هر ډول پېښې وشوې، مګر ده هيڅ سيمه دارالحرب ونه ګڼله. که په قرآن او حديث کې د اجتهاد په کولو دا ډول کومه اصطلاح جوړېدای شي، نو هغه به صرف یوه وي چې دارالدعوت دی. همدا له اسلامي روح سره سمون لري. اسلام هر قوم ته د رابلل کېدونکي په سترګه ګوري. مسلمانان که له هغوی سره د سولې تړاو ولري او که د جګړې. له همدې امله د کره اسلامي نظر پر بنسټ یوازې دوه اصطلاحات سم دي چې دارالاسلام او دارالدعوت دي. له دې پرته چې بله هره اصطلاح استعمال شوې ده، زما په اند د اجتهادي تېروتنې درجه لري. مثلاً دارالحرب، دارالکفر، دارالطاغوت او نور.

## د جهاد تصور

د ځينو مسلمانانو د غلط تعبير په نتيجه کې د جهاد تصور دا دئ چې د اصلاح لپاره جګړه وشي. د دې خلکو په وينا مسلمانان په نړۍ کې د خدای خليفه ګان دي. د مسلمانانو مسئوليت دا دئ چې د خدای په نيابت خدايي حکومت رامنځته کړي. د خدای له لوري خلک د خدای په احکامو مکلف کړي. د دوی په اند د همدې جګړې نوم جهاد دی. يقيناً د جهاد دا تصور بې بنسټه دئ او له قرآن و سنت سره هيڅ تړاو نه لري.

د اصلاح جګړه د خپلي نتيجې له مخې صرف د فساد جنګ دی. په ټولنيز ژوند کې هر سړی د سوله ییز نظر د څرګندولو حق لري، خو د ځواک په کارولو د اصلاح نظريه په نړيوال ژوند کې د منلو نه ده. په ټولنيز يا نړيوال ژوند کې

هيڅ ډله د داسي حق غوښتنه نه سي کولای چي نورو ته يې د ورکولو لپاره چمتو نه وي. که کومه ډله د ځان لپاره د اصلاحي جنګ غوښتونکې وي، نو حتماً به نورو ته هم د اصلاحي جګړې حق ورکوي. د دې نتيجه به دا وي چي هره ډله به د خپلي ځاني اصلاح په نوم له نورو سره په جګړه پيل وکړي او په نتيجه کي به يې اصلاح نه وي، البته له دې امله به يو داسي فساد رامنځته شي چي هيڅکله به نه ختميږي.

حقيقت دا دئ چي جنګ صرف يو روا صورت لري او هغه دفاع ده. که يو قوم له خپلو جغرافيايي حدودو څخه د تېري په کولو پر بل قوم څرګند بريد وکړي، نو په دې صورت کي تر بريد لاندي راغلی قوم د خپل ځان د ساتني لپاره د ځوابي جګړې حق لري. له دې پرته په بل هيڅ حالت کي د تاوتريخوالي جګړه جواز نه لري.

دا ټولنيز اصول په اسلام کي هم داسي منل شوي دي لکه څرنګه چي په نورو نظامونو کي منل شوي دي. د دې اجتماعي اصولو په معامله کي د اسلام او غيراسلام تر منځ هيڅ توپير نه شته. په دې لړ کي يوه مسئله هغه ده چي له تېر تاريخ سره تړاو لري. پخوا د پاچاهۍ زمانه وه. په ټوله نړۍ کي به کورنيو واکمني کوله. هغه مهال پاچا د دې حقدار ګڼل کېدی چي دی تر قانون لوړ دئ او څه چي وغواړي، ودي يې کړي. پر همدې بنسټ د پاچاهۍ په تېر تاريخ کي هر پاچا ځيني داسي کارونه کړي دي چي له اخلاقي او قانوني پلوه سم نه ول. په لرغوني زمانه کي د هندوستان ځينو مسلمان واکمنو هم داسي وکړل. مثلاً محمود غزنوي د سومنات هندو مندر ونړاوه او هلته يې د سرو زرو ذخيره لوټ کړه. همدا راز ويل کيږي چي اورنګزيب د بنارس يو هندو مندر ړنګ کړ او پر هغه ځای يې مسجد جوړ کړ او داسي نور.

د پاچاهانو له لوري دا ډول پيښې د لرغوني زمانې په هر هيواد کې شوي دي، خو دا صرف د تېر تاريخ يوه برخه پاته شوې ده. په وروسته زمانه کې د دوو قومونو تر منځ د نورو شخړو سبب نه دي شوي. يوازې په هندوستان کې داسې ده چې دا ډول پيښې د هندوانو او مسلمانانو تر منځ د دايمي تاوتريخوالي سبب شوي دي. له همدې امله فرقه ييز فسادونه رامنځته شول او د ملي يووالي د فضا رامنځته کولو په لار کې يو تلپاتی خنډ وګرځېد.

زما په اند د دې استثنايي حالت بنسټيز عامل دا دئ چې مسلمان علماوو او مفکرينو د هندوستان د مسلمانانو حکومتونه اسلامي حکومتونه وبلل او د اسلامي تاريخ د يو فصل نوم يې ورکړ. حال دا چې دې حکومتونو صرف د څو مسلمانو کورنيو د حکومت (dynasty) حيثيت درلود. له اصولي پلوه يې اسلامي حکومت ګڼل سم نه ول. همدې توپير ته د پام نه کولو له امله داسې وشول چې کومو پيښو له ځانګړي مسلماني کورنۍ سره تړاو درلود، هغو ته د اسلام نوم ورکړل شو. همدې توپير ته د پام نه کولو له امله دا لويه تېروتنه وشوه چې مسلمانانو د دې واکمنو د حکومت زمانه د خپل ځان لپاره يوه وياړ وګڼله او د هغو غلبه يې د اسلام برلاسي وبلله. له بل پلوه په هندوانو کې هغه نظريه راپيدا شوه چې د تاريخي تېروتنو (historical wrongs) اصلاح بلل کيږي چې ښکاره نتيجه يې خپلمنځي ګړبړ وو. کله چې مسلمانانو له دې هر څه څخه خپل وياړ جوړ کړ، نو په شعوري او غيرشعوري ډول د دوی د مذهبي تاريخ يوه سپېڅلې برخه وګرځېده او له بل لوري هندوانو هغه تاريخي تېروتنه وبلله او د اصلاح هڅې يې پيل کړې.

زما په اند په دې اړه دواړه لوري تېروتنه کوي. د مسلمانانو تېروتنه دا ده چې هغوی دې تاريخ ته مذهبي بڼه ورکړې ده او بيا کتنې ته يې چمتو نه دي او له بلې خوا د هندوانو تېروتنه دا ده چې دوی د تېر تاريخ هېرولو ته نه دي تيار.

دوی د تېر تاریخ د تېروتنو پر اصلاح ټینګار کوي، که څه هم په نتیجه کې یې اوسني امکانات له منځه ولاړ شي.

زما په فکر باید په دې اړه دواړه لوري حقیقت خوښوونکي واوسي. مسلمانانو ته په کار ده چې تېرو مسلمان واکمنو ته د اسلامي واکمنۍ درجه ورنه کړي، بلکې د هغوی حکومتونه یوازې د کورنیو حکومت (dynasty) وګڼي. دوی دې د دې مسلمان پاچاهانو له غیراسلامي او غیراخلاقي کړنو انکار (disown) وکړي، په ښکاره دې یې وغندي، که څه هم دا محمود غزنوي وي، یا اورنګزېب او بل یو.

بل لوري ته هندوان باید د مضی ما مضی (gone is gone) له اصولو سره سم تېر تاریخ هېر کړي. دوی دې په دې اړه د احساساتي طریقې په خوشې کولو د حقیقت خوښوني لار ونیسي. باید هندوان په دې پوه شي چې تاریخي تېروتني هر وخت ترسره شوي دي، مګر هیڅ تاریخي تېروتني اصلاح کړې نه دي. یقیناً د تاریخي تېروتنو د اصلاح نظریه غیرعلمي ده. دا د ماضي د تصحیح په نوم د حال تخریب دئ چې د فطرت له اصولو سره جوړ نه راځي. دا ډول کسان د ماضي د موندني په نوم خپل اوسنی حالت او راتلونکی هم بايلي.

له بده مرغه د هندوستان په اړه دا خبره یو حقیقت دی. کومو هیوادونو چې د تېر په هېرولو د حال ودانول غوښتي دي، هغوی لویه بریا ترلاسه کړې ده چې یوه بېلګه یې جاپان دی. جاپان د امریکایي تېروتنو د اصلاح هڅه ونه کړه، ځکه نو جاپان نن په یوه اقتصادي ځواک بدلیږي. د دې بلې خبري مثال هندوستان دئ چې د تېر وخت د غلطیو د اصلاح په لټه کې شو. له همدې امله هندوستان یو شا ته پاته هیواد دی.

www.sikaraam.com

د ملي پرمختګ یو اړین شرط دا دئ چې د ملي پرمختګ پوښتنه باید لومړیتوب ولري او نورو ټولو شیانو ته باید دوهمه درجه ورکول شي. له خلکو سره باید دا ذهنیت وي چې د ارزښت وړ شی له څه خنډ پرته د ملي پرمختګ دوام دی. له دې پرته چې کومې احساساتي ستونزې او شخصي فرضیې دي، هغه که د ملي پرمختګ په لار کې له خنډ پرته تر لاسه کیږي، ښه تر ښه، کنه موږ ته د منلو نه دي. همدا یوازینۍ لار ده چې په عملي کولو یې هیواد رښتینی پرمختګ کولای شي. له دې پرته سوله امکان نه لري.

یوه مشهوره کیسه ده چې یو قاضي ته د نوي زیږیدلي ماشوم قضیه راغله. دوو میرمنو دعوه کوله چې د هغه هلک میندې دي او باید ماشوم ورته وسپارل شي. خو یوې هم قانوني ثبوت نه درلود. دا د قاضي لپاره لویه ازموینه وه. هغه بالاخره سپارښتنه وکړه چې ماشوم دوې ټوټې کړئ او هرې یوې ته یوه-یوه وسپارئ. کله چې قاضي دا پریکړه واوروله، نو کومې ښځې چې په دروغو دعوه کړې وه، پر هغې یې هیڅ اثر ونه کړ، خو رښتینې مور یې بغاري کړې، ویل: ماشوم مه وژنئ. دې بلې ښځې ته یې وسپارئ. همدا د مینې حقیقي معیار دی. کوم کسان چې له هیواد سره رښتینې مینه لري، هغوی باید د فریاد په کولو ووایي چې موږ د هیواد ویجاړې نه شو لیدای، په تېر تاریخ کې چې څه شوي دي، هغه د دې لپاره هېروو چې له اوسنیو فرصتونو پوره ګټه واخلو او هیواد مو یو ښه راتلونکی ولري.

په ملي ژوند کې سوله او اتحاد یوازې د زغم (toleration) پر بنسټ امکان لري. دا د فطرت اصول دي چې د بېلابیلو کسانو او ډلو تر منځ به اختلافات وي. توپیر او اختلاف د ژوند لازمي برخه ده. له همدې امله په فرقه ییز ژوند کې د اعتدال فضا د توپیر او اختلاف په له منځه وړلو نه شي راتلای. دا هدف هغه مهال ترلاسه کیږي چې زغم او تحمل رامنځته شي.

www.sikaraam.com

حقیقت دا دئ چي د اختلاف د له منځه وړلو هڅه د هیڅ انساني ډلي پر خلاف نه ده، بلکي د نړیوال فطري قانون پر خلاف ده. هیڅ شخص او ډله دومره ځواکمنه نه ده چي له فطرت سره په جګړه کي بریا ترلاسه کړي. له همدې امله د حقیقت خوښوني تقاضا دا ده چي په دې برخه کي د زغم تګلار خپله شي، نه د ټکر. اختلاف د دې لپاره وزغمئ چي اتحاد رامنځته شي، ځکه د اختلاف په له منځه وړلو د اتحاد رامنځته کولو پلان له سره ناشونی دی.

## های جېکینګ؛ یو جرم

یقیناً های جېکینګ (فضایي یرغمل نیونه) یوه ناروا کړنه ده. دې ته چې له هر پلوه وګورو، نو په یقیني ډول له شرعي پلوه ناروا او له انساني پلوه یو جرم دی. د های جېکینګ روا ثابتول صرف پر جرم سربېره د بغاوت زیاتونه ده. های جېکینګ یو داسي جرم دئ چې په یوه وخت کې څو درانه جرمونه رانغاړي. لاروهنه (highway robbery)، یرغمل نیونه (hostage)، ناروا قتل، د جګړې فریب، د نورو مال غصبول او هغه ته زیان رسول.

۱) لاروهنه څه ده؟ لاروهنه دا ده چې پر یوه انسان په ناخوندي (vulnerable) حالت کې برید وشي او هغه ته ځاني او مالي زیان واړول شي. پخوا مځکنی لاروهنه (highway robbery) دود وه. تر هغې وروسته سمندري

لاروهنه (piracy) رامنځته شوه او په اوسني عصر کې فضايي لاروهنه (hijacking) رامنځته شوه. په اسلام کې د لاروهني دا ټول ډولونه په يوه ډول حرام دي. کوم فرد يا ډله چې په مستقيم يا غيرمستقيم ډول دا کار کوي، هغه له څه شک پرته سخت ګناهکار دئ او خطر شته چې د الله په نزد له هغه انجام سره مخ شي چې د يوه حرام کار د فاعل لپاره ټاکل شوی دی، مګر دا چې توبه وباسي او په ښکاره له اړوندو افرادو څخه د خپل جرم بخښنه وغواړي. پر دې سربېره هغه زيان جبيره کړي چې د های جېکينګ په وسيله يې نورو ته رسولی وي.

۲) يرغمل نيونه دا ده چې د خپلو ځينو غوښتنو لپاره د فرصت په موندلو بېګناه خلک ونيول شي او پر سر يې سودا وکړي. د ير غمل نيوني دا دود پخوا هم وو، مګر اوسمهال يې د يوه رسمي فن بڼه خپله کړې ده. دا ډول کړنه له شک پرته هم سخته ګناه ده او هم بېغيرتي. په اسلام کې دا کار ډېر سخت ناروا دئ چې مشکل دي له يوه سره وي او بدله يې له بله اخلې. په اسلام کې د هيڅ عذر پر بنسټ د بېګناه سړي زورونه جواز نه لري.

رسول الله چې د حديبيې په نوم کوم تړون کړی وو، له هغه څخه دا هم ثابتيږي چې که مخالف لوری زموږ کوم کس يرغمل کړي، نو موږ ته د هغوی يرغمل کول جواز نه لري، ځکه دا له بېګناه کسانو څخه د کسات اخيستلو په مانا ده او پر بېګناه افرادو د ظلم په کولو د خپلي غوسې اور سړول يقيناً په اسلامي شريعت کې جواز نه لري.

۳) کوم کسان چې د های جېکينګ کړني کوي هغوی د خپلو جرمي مقاصدو د پوره کولو لپاره ډېر وخت بېګناه مسافر هم وژني. يقيناً دا ډول وژنه د يوه لوی جرم حيثيت لري. خدای تعالی په قرآن کې اعلان کړی دئ چې که هر څوک يو بېګناه کس ووژني، نو ګواکي ټول انسانيت يې وواژه. (المايده، ۳۲)

www.sikaraam.com

کوم کسان چې لـه دې الهـي اعـلان سره-سره بېګناه مسافر وژني یا یـې ځوروي، یقیناً یې زړونه له الهي ویرې تش دي او پـه کوم زړه کـي چې الهـي وېره نه وي، هغه به حتماً له ایمانه هم خالي وي. کوم مسافر چې پـه الوتکـه کي سفر کوي، هغوی یقیناً بېګناه دي او لـه هـوایي لاروهونکـو سره یـې هـیڅ شخړه نه درلوده، نو په داسي حال کي د هغوی سفر تـه خنډونـه پیـدا کـول، د هغوی ځورول یا وژل، دا هر څه په اسلام کي حرام دي، ان که بـالفرض کـوم مسـافر تېروتنـه هـم کـړې وي، نـو د تېروتنـي سـزا یـې یـوازې د رسـمي واک درلودونکي محکمې دنده ده. له محکمې پرته هیڅوک مجرم ته د سـزا ورکولـو حق نه لري او بېګناه مسافرو ته سزا ورکول خو په طریقه اولی یـو غیراسـلامي کار دی.

۴) په اسلام کي فرېب او دوکه چې د هر هدف لپاره وي، په مطلـق ډول نـاروا دي. د اوسني وخت های جېکینګ په بشپړ ډول د فرېب یـو عمـل دی. د دې کار ترسره کوونکي د های جېکینګ پر هر سټېج له خلکو سره د دوکـې معاملـه کوي، فرضي پاسپورټ جوړول، د جعلي کرنسۍ استعمال، په هوایي ډګـر کـي د کارکوونکو په تېرایستلو الوتکي ته د خطرناکو وسلو رسول، د اړوندو کسانو په تېرایستلو الوتکي ته ننوتل او نور. دا هر څه کړني د دروغو او فرېـب پـر بنسـټ کیږي چې دا کارونه په اسلام کي د یوه درانه جرم حیثیت لري. په اسلام کـي صرف د پرانیسـتي معـاملې اجـازه شـته. اسـلام پـه هـیڅ ډول د دې اجـازه نـه ورکوي چې د خلکو په تېرایستنه خپل مقصـد ترلاسـه شي ان کـه یـو اسـلامي هیواد له بل هیواد سره د سولي اړیکي ولري او په یو وجه همدا مسلمان هیواد د هغه بل هیواد پر خلاف جګړه کوي، نو پر مسلمان هیواد لازمه ده چې خپلـه دا پرېکړه په ښکاره اعلان کړي او ووایي چې له نـن څخـه زمـوږ او ستاسـو تـر منځ جګړه ده. (الأنفال)

په اسلام کې د پردې تر شا جنګ (proxy war) هیڅ جواز نه لري. د دروغو په ویلو او دوکې په ورکړه خپل هدف ترلاسه کول له انساني زاویې هم یو سپک حرکت دی. له اسلامي پلوه خو د یوې ستري ګناه حیثیت لري. په یو روایت کې دي چې رسول الله وویل: **من غشنا فلیس منا.** (**صحیح مسلم، کتاب الایمان**) (چا چې له موږ سره دوکه وکړه، هغه زموږ څخه نه دی).

۵) په های جېکینګ کې د ځان او مال دواړو تاوان شته. له یوې خوا بشپړه هوایي الوتکه ده چې قیمت یې میلیونونو ته رسیږي، په داسې حال کې الوتکې ته په ننوتلو دا ګواښ کول چې زموږ غوښتنې پوره کړئ، کنه په بم به یې والوزوو، دا هم مالي غصب دئ او هم په ناروا ډول د نورو د شتمنۍ له منځه وړل. عموماً په الوتکه کې په سلګونه کسان سپاره وي چې ټول یې هیڅ ګناه نه لري. له همدې امله د الوتکې د ویجاړۍ هر پلان پر سلګونه بېګناه کسانو د ظلم او د هغوی د قتل په مانا دی. پر دې سربېره دا ډول هره کړنه د یرغمل کوونکو لپاره هم د خودکشۍ له اقدام سره برابره ده او دا کار خپله هم دومره ناوړه فعل دئ چې په اسلامي شریعت کې ویل شوي دي چې که کوم کس خپل ځان په قصد ووژني، هغه په ناروا مرګ مړ شو او په اسلام کې تر ناروا مرګ بل هیڅ بد مرګ نه شته.

د های جېکینګ خونړۍ ډرامه جوړوونکي خپل دا کار اسلامي جهاد ګڼي. دا توجیه له شک پرته د جرم تر پولې ناسمه ده چې ګڼ اسباب لري. اسلامي جهاد د الله په لار کې د دفاع په ډول ترسره کیږي، مګر دا کسان چې کومه جګړه کوي هغه د هیواد او مال لپاره دئ او د هیواد و مال لپاره جګړه هیڅکله جهاد فی سبیل الله نه شي کېدای. دوهمه خبره دا ده چې جګړه ییز جهاد یوازې د رسمي دولت کار دی، نه د عامو وګړو کار. اوسنۍ جګړې د عامو

خلکو له خوا کيږي په داسي حال کي چي د اسلام له نظره عام خلک دا حق نه لري. که هغوی دا کار وکړي، نو د دوی لپاره ناروا دی.

يو رسمي دولت د يرغل په صورت کي دفاعي جګړه کولای شي، مګر داسي دفاعي جنګ به هم هغه وخت اسلامي جنګ وي چي له ښکاره اعلان سره وشي. له اعلان پرته د يو چا پر خلاف د پردې تر شا جګړه او د دروغو جنګ کول په اسلام کي هيڅکله جواز نه لري.

په اسلام کي حقوق دوه ډوله دي حقوق الله او حقوق العباد. له حقوق الله څخه مراد هغه مسئوليتونه دي چي د خدای له خوا بنده ته متوجه وي. که کوم بنده په خدايي حقوقو کي سستي وکړي، نو د جبران لپاره يې معافي غوښتل کفايت کوي، خو د حقوق العباد مسئله ډېره سخته ده. په حقوق العباد کي د تېروتني معامله له انسان سره وي. کوم څوک چي په انساني معامله کي جرم وکړي، نو يوازي له خدای څخه معافي غوښتل کفايت نه کوي. له خدای څخه پر معافۍ سربېره پر انسان لازمه ده چي له اړوندو خلکو څخه هم بخښنه وغواړي او هغه نقصان جبيره کړي چي هغوی ته يې رسولی وو.

يقيناً های جېکينګ له حقوق العباد سره تړاو لري. دا د انسان په وړاندي يو ظلم دی. له همدې امله پر های جېکرانو يا الوتکو تښتوونکو لازمه ده چي ظلم ځپلو انسانانو ته په رسمي ډول رسېدلی زيان جبيره کړي. کنه نو د خدای په حضور کي به نه بخښل کېدونکي مجرمين وبلل شي، که څه هم ظاهراً لمونځ کوي او روژه نيسي.